# د حضرت حزقی‌ایل نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د بُت پرستئ سخت ترین اَنجام د حزقی‌ایل د کِتاب بنیادی موضوع ده. په نورو موضوع ګانو کښې د خُدائ پاک په ټوله دُنیا باندې حکمرانی، د خُدائ پاک قدوسیت، صحیح عبادت، غلۀ مشران، او د حضرت عیسیٰ مسیح راتګ شامل دی. بُت پرستی صرف د بُتانو عبادت نۀ دے. د خُدائ پاک په نظر کښې د بُت پرستئ مطلب دا دے چې کوم څیز له د خُدائ پاک په مقابل کښې مقام ورکړے شی. خلق پېسو، عزت، مشهورتیا، طاقت او مال حال له هغه مقام ورکوی کوم چې د خُدائ پاک دے. نو سوال دا پېدا کېږی، چې آیا مونږ په خپل ژوند کښې د خُدائ پاک په ځائ بل کوم داسې څیز له خو اوله درجه یا مقام نۀ دے ورکړے؟ یا خو مونږ بل کوم څیز ځان له پخپله خُدائ کړے نۀ دے؟ حضرت حزقی‌ایل یو پېغمبر او اِمام وو او د هغۀ خِدمت د درویشتو کالو پورې جاری وو. دا کِتاب د هغۀ د رویا سره شروع کېږی کومه چې خُدائ پاک ورله ورکړې وه. د انسان په ژوند کښې د خُدائ پاک د حضور او طاقت نه حزقی‌ایل نبی ښۀ خبر وو. هغۀ بنی اِسرائیلو له خبردارے ورکړو چې د بُت پرستئ اَنجام به دا وی چې ستاسو وطن به غرق شی او تاسو به جلاوطن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. هغهٔ د دې هم پېشګوئي وکړه چې خُدائ پاک به خپل
خلق د بدترينې بد حالئ نه پس بيا بحال کړی. په اووهٔ ديرشم
باب کښې هغه خپله مشهوره رويا بيانوی د هغه وادئ په
حقله چې په کښې هډوکی بيا ژوندی شی چې په کښې د اُميد
او ډاډګيرنې پېغام دے. کهٔ چرې مونږ د خُدائ پاک لټون
وکړو نو هغه د سختې نااُميدئ په حالت کښې هم مونږ له
نوے ژوندون راکولے شی. د حفظ کولو دپاره ۲۶:۳۶ آيت
"زهٔ به تاسو له نوے زړهٔ درکړم او په تاسو کښې به نوے
روح واچوم. زهٔ به تاسو نه دا سخت زړهٔ لرې کړم او نرم
زړهٔ به درکړم."

## د خُدائ پاک د طرف نه د حزقی‌ايل دپاره وړومبۍ رويا

١ ۱ په ديرشم کال د څلورمې مياشتې په پينځمه ورځ،
کله چې زهٔ حزقی‌ايل د جلاوطنو سره د کبار د سيند په غاړه
ولاړ وم، نو ما آسمان کولاو وليدو او خُدائ پاک ما ته
روياګانې وښودلې. ۲ د مياشتې په پينځم تاريخ دا د
يهوياکين بادشاه د جلاوطنئ پينځم کال وو. ۳ د مالِک
خُدائ کلام په حزقی‌ايل اِمام، د بوزی په زوئ باندې د کبار د
سيند په غاړه د بابل په مُلک کښې نازل شو او د مالِک خُدائ
لاس په هغهٔ وو. ۴ کله چې ما بره وکتل، نو ما يو لوئ
طوفان د شمال د خوا نه په راتلو وليدلو چې لويه وريځ ترې
مخکښې وه چې د برېښنا پړقېدل او ګېرچاپېره ترې نه تېزه
رڼا خوره وه. د وريځو په مينځ کښې اور وو او د اور په مينځ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښېږي يو د پيتلو په شان ځيز ځلېدلو. ۵ او د وريځو د مينځ
نه څلور ژوندی مخلوقات راووتل چې په ليدو کښې د انسان
په شان ښکارېدل، ۶ خو د هغوئ هر يو څلور مخونه او
څلور وزرونه وُو. ۷ د هغوئ پښې نېغې وې، او په پښو
کښې يې لکه د سخی په شان نوکونه وُو او هغه لکه د پالش
شوی پيتلو په شان ځلېدل. ۸ او د هغوئ د څلورو وزرونو
لاندې څلورو طرفونو ته د انسان په شان لاسونه وُو او د هر
يو مخلوق څلور مخونه او څلور وزرونه وُو، ۹ او د هغوئ
وزرونه د يو بل سره لګېدلی وُو. او هر يو نېغ روان شو، نو د
تلو په وخت کښې به تاوېدل راتاوېدل نه. ۱۰ د هر يو څلور
مخونه وُو چې په مخامخ د هر يو شکل د انسان وو، او په ښې
طرف هغوئ د زمری په شکل وو، ګس طرف ته يې د غوائی
شکل وو، او شاته لکه د باز په شان وو. ۱۱ د هر يو مخلوق
وزرې بره طرف ته خورې وې، د هر يو دوه وزرې ګس او
ښی طرف ته د نور مخلوق وزرو سره لګېدلې وې او په نورو
دوو وزرو يې خپل بدن پټ کړے وو. ۱۲ هر يو نېغ مخکښې
لاړو، کومې خوا ته چې به د روح خوښه وه نو هغې خوا ته به
بغېر د راتاوېدلو نه نېغ تلل. ۱۳ دا ژوندے مخلوق داسې
ښکارېدو لکه چې بَل سکارۀ يا د اور مشعلونه د هغوئ دننه
بل شوی وی. دا اور د هغه مخلوق په مينځ کښې وړاندې
وروستو کېدو، او دا ځلېدونکی وُو، او شُغلې به ترې نه
راختلې. ۱۴ هغه مخلوق به لکه د برېښنا د پړق په شان په
منډه وړاندې او وروستو کېدلو. ۱۵ کله چې ما دې ژوندی
مخلوق ته وکتل، نو ما د هغوئ هر يو سره په زمکه باندې يوه
پايه لګېدلې وليدله. ۱۶ د هغه پايو شکل او ښکاره کېدل څۀ
داسې وو، هغه لکه د ايکوامرين کاڼو په شان ځلېدلې، او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلور واړه پايې يو شان ښکارېدلې، او داسې جوړې شوې
وې چې په هره پايه کښې يوه بله پايه دننه بل خوا ته تاوېدله.
۱۷ کله چې به هغوئ تلل نو دې ژوندى مخلوق به په ځلورو
اړخونو کښې چې کوم طرف ته هم مخه کړه نو هغې خوا ته
به بغېر د مخ اړولو نه تللے شُو. ۱۸ د ځلور واړو پايو
ريمونه لوړ او يروونکى ؤُو، او په هغه ځلورو واړو ريمونو
باندې ګېرچاپېره سترګې وې. ۱۹ کله به چې دا مخلوق
ګرځېدل نو دا پايې به هم ورسره ګرځېدلې، او کله به چې دا
مخلوق د زمکې نه راپاڅېدل نو دا پايې به هم ورسره اوچتې
شوې. ۲۰ چرته به چې روح تللو نو هغوئ به هم هلته تلل، دا
پايې به هم ورسره راوچتېدلې، ځکه چې د ژوندى مخلوق روح
په هغه پايو کښې وو. ۲۱ نو کله چې به دا مخلوق روان شو
نو دا پايې به هم روانې شوې، کله به چې دا مخلوق ودرېدو نو
پايې به هم ودرېدې، کله به چې دا مخلوق بره الوتلو نو دا
پايې به ورسره تلې، ځکه چې د دې ژوندى مخلوق روح په
پايو کښې وو. ۲۲ د دې مخلوق د سر دپاسه داسې ګنبد
خور شوے وو چې د صفا او روښانه بلور کاڼی په شان
ځلېدو او ډېر حېرانونکے وو. ۲۳ د هغه ګنبد د لاندې هغوئ
به خپلې وزرې غوړولې او وزرې به يې يو بل پورې غزولې، او
هر يو به په خپلو نورو دوو وزرو خپل بدن پټولو. ۲۴ کله
چې دا مخلوق روانېدلو، نو ما د هغوئ د وزرونو آواز
واورېدو لکه د تېزو اوبو د شور په شان، لکه د قادر خُدائ د
آواز په شان، لکه د فوجيانو شور. او کله چې هغوئ ودرېدل
نو وزرونه يې ښکته کړل. ۲۵ نو بيا د ګنبد دپاسه د هغوئ په
سر يو آواز راغلو. کله چې هغوئ ودرېدل نو وزرونه يې ښکته
کړل. ۲۶ د هغوئ د سرونو دپاسه په ګنبد باندې د نيلم کاڼی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تخت په شان يو څيز ښکارېدو، او د هغه تخت دپاسه د
انسان په شان يو شکل او صورت ښکارېدو. ۲۷ دا کوم
شکل چې ښکارېدو د ملا نه بره لکه ګرم شوې اوسپنې په
شان چې د اور نه ډکه وى، او ملا نه لاندې لکه د اور په شان
ښکارېدو، او ګېرچاپېره ترې صفا رڼا وه. ۲۸ لکه څنګه چې
په باران کښې د بوډۍ ټال په وريځ کښې په مختلفو رنګونو
کښې وى دغه شان رڼاګانې د هغۀ نه هم راوچتېدلې. نو دا
منظر د مالِک خُدائ د جلال په شان ښکاره کېدلو. کله چې
ما دا هر څۀ وليدل، نو زۀ په زمکه پړمخې پرېوتلم او ما يو
آواز واورېدو چې ما ته يې خبرې وکړې.

## حزقىايل ته د پېغمبرۍ دعوت

۲ ۱ هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه پاڅه په خپلو
پښو ودرېږه، زۀ تا سره خبرې کول غواړم.“ ۲ کله چې
هغۀ ما ته خبرې کولې، د خُدائ پاک روح په ما کښې راننوتو
او زۀ يې په خپلو پښو ودرولم، نو ما د هغۀ خبرې واورېدلې
چې ما ته يې کولې. ۳ هغۀ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه،
زۀ تا بنى اِسرائيلو له لېږم، يو سرکشه قوم له چا چې زما
خلاف سرکشى کړې ده. د اول نه تر نن ورځې پورې دوئ په
خپله او د دوئ پلار نيکۀ زما نافرمانى کړې ده. ۴ کومو
خلقو ته چې زۀ تا استوم هغوئ ضديان او سخت طبيعته
دى. هغوئ ته ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى. ۵ کۀ دا سرکشه قوم ستا خبرو ته غوږ نيسى او
کۀ نۀ نيسى خو په دې به پوهه وى چې زمونږ په مينځ کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يو پيغمبر موجود دے. ۶ خو تۀ، اے بنى آدمه، د هغوئ نه
او د هغوئ د خبرو نه مۀ يرېږه. کۀ د هغوئ دهمکى تا د ازغو
او يا د لړمانو په شان راګېر هم کړى. مۀ د هغوئ خبرو نه
يرېږه، مۀ د هغوئ د نېغو کتلو نه يرېږه، ځکه چې دا قوم
سرکشه دے. ۷ تۀ زما کلام هغوئ ته ووايه، کۀ هغوئ
ورته غوږ نيسى او کۀ نۀ نيسى، ځکه چې هغوئ بلکل سرکشه
دى. ۸ خو تۀ، اے بنى آدمه، هغه څۀ ته غوږ ونيسه څۀ
چې زۀ تا ته وايم. د دغه سرکشه قوم په شان مۀ جوړېږه، تۀ
دې خپله خولۀ کولاو کړه او هر هغه څۀ وخوره څۀ چې زۀ
درکوم.“ ۹ نو ما بيا وليدل چې يو لاس زما طرف ته
راغزېدلے دے او د هغۀ سره يو طومار وو. ۱۰ کوم طومار
چې هغۀ زما په وړاندې کولاو کړو، د هغې په دواړو خواو
کښې د ماتم، غم او افسوس خبرې ليکلې وې.

# ۳

۱ او هغۀ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، دا څۀ چې
ستا په وړاندې دى دا وخوره، دا طومار وخوره، نو بيا لاړ
شه او بنى اِسرائيلو ته يې بيان کړه.“ ۲ نو بيا ما خپله
خولۀ کولاو کړه او هغۀ ما له هغه طومار راکړو چې وې
خورم. ۳ نو بيا هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، زۀ
چې کوم طومار تا له درکوم دا وخوره او خپله خېټه پرې
مړه کړه.“ نو بيا ما هغه وخوړو، او هغې زما په خولۀ کښې
لکه د شاتو په شان خوږ خوند کولو. ۴ نو بيا هغۀ ما ته
وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، اوس بنى اِسرائيلو له ورشه او زما
کلام هغوئ ته واوروه. ۵ زۀ تا داسې خلقو ته نۀ استوم
چې د هغوئ ژبه ستا دپاره نا آشنا او سخته وى خو تا زۀ بنى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلو ته استوم. ۶ زۀ تا هغه ډېرو خلقو ته نۀ استوم چې
د چا په ژبه به پوهېدل تا ته ګران وى او د هغې الفاظ به
مختلف وى او تۀ به پرې نۀ پوهېږې. خو کۀ چرې تۀ ما
هغوئ ته لېږلے وے، نو هغوئ به بيا تا ته غوږ نيولے وے.
۷ خو د بنى اِسرائيلو قوم نۀ غواړى چې تا ته غوږ ونيسى
ځکه چې هغوئ نۀ غواړى چې ما ته غوږ ونيسى، ځکه د بنى
اِسرائيلو ټول قوم ضدى او په زړۀ سخت دے. ۸ خو
ګوره، زۀ به تا هم د هغوئ په شان ضدى او په زړۀ سخت
کړم لکه څنګه چې هغوئ دى. ۹ او زۀ به ستا تندے لکه د
سخت او کلک ګټ په شان کړم، او د هيرې نه به يې هم
سخت کړم. تۀ د هغوئ نه مۀ يرېږه او مۀ ترې نه په دهشت
کښې پرېوځه کۀ څۀ هم چې دا قوم سرکشه دے.“ ۱۰ او
هغۀ راته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، ما ته غوږ ونيسه ټول
کلام چې زۀ درته وايم هغه په غور سره واوره او په خپل زړۀ
کښې يې واچوه. ۱۱ نو اوس د خپل قوم خلقو له ورشه
څوک چې جلاوطن شوى دى او هغوئ سره خبرې وکړه.
هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، دا
چې هغوئ ستا خبرو ته غوږ نيسى او کۀ نه.“ ۱۲ نو بيا د
خُدائ پاک روح زۀ اوچت کړم او ما شاته يو دروند آواز
واورېدو چې فرمائيل يې، ”د مالِک خُدائ ثناء صِفت او
جلال دې د هغۀ په ځائ کښې وى.“ ۱۳ دا د هغه ژوندى
مخلوق د وزرو آوازونه او شور وو چې يو بل سره لګېدل او
په خوا کښې يې د هغه پايو آوازونه هم وُو، يو اوچت او درونډ
شور وو. ۱۴ نو بيا زۀ روح اوچت کړم او د هغه ځائ نه يې
ځان سره بوتلم، زۀ ورسره په تريخ مزاج او غصې سره لاړم،
خو د مالِک خُدائ زورَور لاس په ما باندې وو. ۱۵ نو زۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه جلاوطنو له راغلم څوک چې په تل ابيب کښې د کبار
سيند سره نزدې اوسېدل. زهٔ د هغوئ په مينځ کښې د اوو
ورځو دپاره چُپ کښېناستم.

## د بنی اِسرائيلو دپاره د مالِک خُدائ حزقی‌ايل محافظ مقرروِل

۱۶ د هغه اووهٔ ورځو په آخر کښې د مالِک خُدائ کلام په
ما نازل شو، ۱۷ او راته يې وفرمائيل چې، "اے بنی آدمه، ما
تهٔ د بنی اِسرائيلو دپاره محافظ مقرر کړې، نو هغه کلام واوره
کوم چې زهٔ تا ته وايم او زما د خوا نه هغوئ ته خبردارے
ورکړه. ۱۸ کهٔ چرې زهٔ يو بدکاره انسان له خبردارے
ورکړم چې تهٔ به يقين سره مړ شې، او تهٔ هغه د دې نه خبر نهٔ
کړې او يا ورسره خبرې ونهٔ کړې او يا يې د خپلو غلطو لارو
نه منع نهٔ کړې ترڅو چې د هغهٔ ژوند بچ کړې، نو دغه بدکاره
به د خپلو گناهونو په وجه مړ شی، خو تهٔ به د هغهٔ د مرګ
ذمه وار يې. ۱۹ کهٔ تهٔ يو بدکاره انسان له خبردارے ورکړې
او هغه د خپل شرارت او خرابو لارو نه منع نهٔ شی هغه به د
خپلو گناهونو په وجه مړ شی، خو تهٔ به خپل ځان بچ کړې.
۲۰ او بيا دا هم کهٔ چرې يو صادق انسان د خپلو ښو لارو
نه واوړی او بد چال چلن شروع کړی، نو زهٔ به هغه په
امتحان کښې واچوم او هغه به مړ شی. ځکه چې تا هغهٔ له
خبردارے نهٔ دے ورکړے نو هغه به د خپلو گناهونو په وجه
مړ شی او کوم د صداقت کارونه چې هغهٔ کړی دی نو هغه به
ورته پاتې نهٔ شی، او د هغهٔ خون به ستا په غاړه وی. ۲۱ خو
کهٔ تهٔ صادق انسان ته خبردارے ورکړې چې گناه مهٔ کوه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ستا خبره ومنی او ګناه کول پرېږدی، نو هغه به په يقين سره ژوندے پاتې شی ځکه چې هغهٔ ستا خبردارے قبول کړو او تا په دې خپل ژوند بچ کړو.“

## د حزقیاېل خاموشه کېدل

۲۲ نو بيا د مالِک خُدائ لاس په ما وو او هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”پاڅه او وادئ ته لاړ شه، او زهٔ به هلته تا سره خبرې وکړم.“ ۲۳ نو زهٔ بيا پاڅېدم او مېدان ته لاړم. او د مالِک خُدائ جلال هلته ولاړ وو، هغه شان لکه کوم جلال چې ما د کبار د سيند سره ليدلے وو نو زهٔ په زمکه پړمخې پرېوتلم. ۲۴ خو د مالِک خُدائ روح ما له راغے او زهٔ يې په خپلو پښو ودرولم. هغهٔ ما سره خبرې وکړې او وې فرمائيل چې، ”لاړ شه او خپل ځان دې په خپل کور کښې بند کړه.
۲۵ او اے بنى آدمه، تهٔ به په پړو باندې وتړلے شې، تهٔ به بند کړے شې د دې دپاره چې تهٔ بهر د خلقو مينځ ته ونهٔ وځې.
۲۶ زهٔ به ستا ژبه تالو پورې ونښلوم چې تهٔ خاموشه پاتې شې او هغوئ ونهٔ رټلے شی ځکه چې هغوئ سرکشه قوم دے. ۲۷ خو کله چې زهٔ تا سره خبرې وکړم، زهٔ به ستا خولهٔ کولاو کړم نو تهٔ به هغوئ ته دا ووائې چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی. هر څوک چې اورېدل غواړی هغوئ دې واوری او چې څوک اورېدل نهٔ غواړی نو نهٔ دې اوری، ځکه چې دا يو سرکشه قوم دے.“

## د حزقیاېل د يروشلم د محاصرې نقشه جوړول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ (١) ”نو اوس، اے بنی آدمه، یوه کچه ښخته راواخله، او
په خپل مخکښې یې کېږده او پرې د یروشلم د ښار نقشه جوړ
کړه. (٢) نو بیا د ښار محاصره کېدل په کښې جوړ کړه،
ګېرچاپېره ترې نه دېوال جوړ کړه چې یو کس ترې نه نهٔ شی
تښتېدلے. د دشمن د فوجیانو کېمپ جوړ کړه او دېوال ته د
خاورو ډېرى او د قلعې د ماتولو مشینونه تیار کړه. (٣) بیا د
اوسپنې یو ځادر راواخله، دا ستا او د ښار په مینځ کښې د
اوسپنې دېوال په شان ولګوه او خپل مخ د ښار طرف ته
راوګرځوه. دا به د محاصرې لاندې وى، او تهٔ به دا ښار
محاصره کوې. دا به د بنی اِسرائیلو دپاره یوه نښه وى. (۴)
نو بیا په ګس اړخ څمله او د بنی اِسرائیلو ګناهونه په خپل
ځان باندې انبار کړه. نو څومره ورځې چې هغوئ ګناه کړې
وى د هم هغه ورځو په اندازه په یو اړخ باندې څمله. (۵) نو
ما بیا تهٔ د هم هغه ورځو په اندازه د سزا تېرولو دپاره مقرر
کړې څومره کالونه چې هغوئ ګناه کړې ده. نو تهٔ به لس کم
څلور سوه ورځو پورې د بنی اِسرائیلو د ګناهونو سزا زغمې.
(۶) د دې سزا تېرولو نه وروستو بیا دوباره په ښى اړخ د
یهوداه د ګناهونو د سزا تېرولو دپاره څمله. نو ما تهٔ د
څلوېښتو ورځو دپاره مقرر کړې، د یو کال دپاره مې یوه ورځ
مقرر کړه. (٧) نو بیا خپل مخ د یروشلم د محاصرې طرف
ته راوګرځوه او په بربنډو لاسونو د هغې خلاف پېشګوئې
وکړه. (٨) زهٔ به تا په پړو وتړم نو تهٔ به د یو اړخ نه بل اړخ ته
نهٔ شې اوړېدلے ترڅو چې تا خپلې د محاصرې ورځې پوره
کړې نهٔ وى. (٩) غنم او اوربشې، لوبیا او دال، غوښت او
جمدر واخله. او هغه په چاټۍ کښې واچوه او ځان دپاره ترې
نه روټۍ جوړوه. دا چې تهٔ د لس کم څلورو سوو ورځو دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په يو اړخ پروت يې نو په دې دوران کښې د خوراک دپاره استعمالوه. (١٠)-(١١) تا ته په ورځ کښې صرف د يو پاؤ روټۍ خوړلو او د دوو ګلاسو اوبو څښلو اجازت شته. دا څيزونه په احتياط په ناپ او په مقرر وخت سره خوړلے او څښلے شي. (١٢) تهٔ دا روټۍ لکه د اوربشو د روټۍ په شان پخوه. کله چې دا روټۍ پخوې نو د خلقو په مخامخ يې د انسان په اوچو غُلو پخه کړه.“ (١٣) مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”نو په دې طريقې سره به اِسرائيليان ناپاکه روټۍ د هغه قومونو په مينځ کښې وخورى چرته چې زهٔ دوئ شړم.“ (١٤) خو ما ورته وفرمائيل، ”داسې دې نهٔ وى، مالِک قادر مطلق خُدايه، ما کله هم خپل ځان نهٔ دے ناپاکه کړے. زما د ځوانۍ نه تر اوسه پورې ما هيڅ داسې څيز نهٔ دے خوړلے چې هغه مردار شوے وى او يا ځناورو شيرلے وى. هيڅ قسمه حرامه غوښه زما د خولې دننه شوې نهٔ ده.“ (١٥) ”ډېر ښهٔ،“ هغهٔ وفرمائيل، ”ښه نو د انسان د غُلو په ځائ خپله روټۍ د غواګانو په سپياکو پخه کړه.“ (١٦) نو بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، زهٔ به په يروشلم روټۍ بنده کړم. هغوئ چې کومه روټۍ خورى نو په ناپ تول او پرېشانۍ سره به يې خورى او کومې اوبهٔ چې څښى نو د شمېر په څاڅکو به يې څښى. (١٧) ځکه چې خوراک او اوبهٔ به په کمېدو وى او هغوئ به د يو بل د شکل نه يرېږى، او د خپلې ګناه د سزا د لاندې به د لوږې نه مانده شى.“

## د يروشلم خلاف تُوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ۱ ”اے بنی آدمه، یوه تیره تُوره راواخله او هغه لکه د
نائی د چړې په شان د خپل سر او ږیرې د وېښتو خرئیلو
دپاره استعمال کړه. او بیا هغه وېښتهٔ د یوې تلې په ذریعه په
دريو برخو تقسيم کړه. ۲ نو کله چې ستا د محاصرې
ورځې په ختمېدو شی، د وېښتو درېمه حِصه په ښار کښې
دننه وسوزوه. او بله حِصه یې د ښار نه گېرچاپېره په تُوره
ووهه او ذره ذره یې کړه. او بله حِصه په هوا کښې وشینده،
ځکه چې زهٔ به تُوره دوئ پسې راوکاږم. ۳ خو د وېښتو یو
څو تارونه دې د څادر په پلو کښې ونغاړه او ځان سره یې
وساته. ۴ بیا د دې نه یو څو وېښتهٔ راواخله او په اور کښې
یې واچوه او وې سوزوه. د هغې نه به اور ټولو بنی اِسرائیلو
ته خور شی. ۵ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې
دا یو مثال دے چې په آئنده کښې به د یروشلم سره څهٔ
کیږی. یروشلم ما د ټولو قومونو په مینځ کښې پېدا کړے دے
او ټول مُلکونه ترې نه گېرچاپېره پراتهٔ دی. ۶ خو په خپل
شرارت کښې هغهٔ زما د قانون او حکمونو نه سرکشی وکړه
د هغه مُلکونو نه هم زیات کوم چې د هغهٔ نه گېرچاپېره پراتهٔ
دی. هغهٔ زما قانون رد کړو او زما د حکمونو تابعداری یې
ونهٔ کړه. ۷ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، تهٔ د نورو قومونو په نسبت زیات سرکشه یې او
تا زما په تعلیماتو او شریعت عمل ونهٔ کړو. خو تا د نورو
قومونو د رِواج او اصُولو په مطابق ژوند تېر کړو. ۸ نو په
دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې زهٔ په
خپله ستا خلاف شوے یم، اے یروشلمه، زهٔ به تا له د نورو
قومونو په وړاندې سزا درکړم. ۹ ځکه زهٔ به ستا د هغه
ټولو حرام کارو معبودانو په وجه تا سره هغه سلوک وکړم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ما د دې نه وړاندې کله هم بل چا سره نۀ وى کړے او نۀ
به يې بيا چا سره وکړم. ۞١٠ نو په دې وجه به په تا کښې
مور پلار خپل بچى وخورى او بچى به خپل مور پلار
وخورى. زۀ به تاسو له سزا درکړم او څوک چې ژوندى پاتې
شى هغوئ به تس نس کړم. ۞١١ مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائى چې، زما دې په خپل ذات قسم وى، څکه چې
تاسو د خپلو حرامو کارونو او کرکژن تصويرونو په عبادت
کولو سره زما مقدس کور پليت کړو، زۀ به په خپله نۀ په
تاسو رحم وکړم، او نۀ به زۀ تاسو ته د رحم په سترګه وګورم
او نۀ به تاسو بچ کړم. ۞١٢ ستا د خلقو يوه حِصه به په وبا
او قحط په تا کښې دننه مړۀ شى، او دويمه حِصه خلق به دې
د ښار د ديوالونو نه بهر په تُوره باندې قتل کړے شى، او
دريمه حِصه به زۀ په هوا کښې خوارۀ کړم او په خپله تُوره
به يې راګېر کړم. ۞١٣ نو زما غصه به بيا سړه شى او زما
غضب به په آرام شى کله چې زۀ خپل غضب په دوئ نازل
کړم، نو هغوئ به په دې پوهه شى چې ما مالِک خُدائ د خپل
غېرت د وجې داسې وکړل. ۞١٤ نو د دې نه علاوه به زۀ تا په
کنډراتو بدل کړم او کله چې د نورو قومونو خلق ستا په خوا
کښې تېرېږى نو هغوئ به توبې وباسى. ۞١٥ تۀ به نورو خلقو
او قومونو ته د مسخرو او پيغورونو، لعنت او يرې يو مثال يې
کله چې زۀ خپله سزا او غضب او قهر او سخته رټنه په تا
نازله کړم. دا ما مالِک خُدائ فرمائيلى دى. ۞١٦ هرکله چې
زۀ په تاسو د قحط د مرګونى او تباه کوونکى غشى ګزار
وکړم، زۀ به په تا داسې ګزار وکړم چې تا به تباه کړم. زۀ به
په تا بيا بيا قحط راولم او ستا د خوراک ذريعه به بنده کړم.
۞١٧ زۀ به ستا خلاف قحط او ځنګلى ځناور درولېږم، هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به تاسو بےاولاده پرېږدی. وينه تويول او وباګانې به تاسو ته
راورسيږی، او زۀ به جنګ ستاسو خلاف راولېږم. مالِک
خُدائ په خپله داسې وفرمائيل.“

## په بنی اِسرائيلو کښې د بُت پرستۍ خلاف عدالت

۶ ۱ د مالِک خُدائ کلام بيا په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، خپل مخ دې د بنی اِسرائيلو د غرونو طرف ته
واړوه او د هغوئ خلاف پېشګوئې وکړه. ۳ او داسې ووايه،
اے د بنی اِسرائيل غرونو، د مالِک قادر مطلق خُدائ کلام
واورئ. مالِک قادر مطلق خُدائ تاسو غرونو او غونډو،
ګړنګونو او درو ته داسې فرمائی، زۀ به اوس ستاسو خلاف
تُوره استعمالوم، او زۀ به ستاسو هغه علاقائی عبادتخانې تباه
کړم چرته چې تاسو د بُتانو عبادت کوئ. ۴ ستاسو
قربانګاه به راوغورزولے شی او ستاسو د خوشبويۍ
قربانګاه به ټوټه ټوټه کړے شی. او زۀ به ستاسو خلق
ستاسو د معبودانو په وړاندې حلال کړم. ۵ زۀ به د بنی
اِسرائيلو لاشونه د هغوئ د معبودانو په وړاندې وغورزوم. او
زۀ به ستاسو هډوکی ستاسو د قربانګاه سره خوارۀ وارۀ
کړم. ۶ نو چرته چې تاسو اوسيږئ نو هغه ځائ او ښارونه
به کنډر شی او هغه علاقائی عبادتخانې به تباه شی، ستاسو
قربانګاه به خرابې او تباه شی، ستاسو معبودان به ټوټه ټوټه
او تباه کړے شی، او ستاسو د خوشبويۍ قربانګاه به
راوغورزولے شی، او څۀ چې تاسو جوړ کړی دی هغه به
جارُو کړے شی. ۷ ستا خلق به په تا کښې ووژلے شی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو تهٔ به په دې پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ۸ خو زهٔ
به ځینې خلق بچ کړم، او په تاسو کښې به څهٔ خلق د تُورې د
مرګ نه وتښتی او په نورو قومونو او مُلکونو کښې به خوارهٔ
شی. ۹ نو کله چې هغوئ په نورو مُلکونو او قومونو کښې
په جلاوطنۍ کښې اوسیږی، نو هغوئ به هلته ما رایاد کړی،
او په دې به پوهه شی چې هغوئ زهٔ په خپلو زناکارو زړونو
سره څومره دردولے یم، کوم چې زما نه اوړېدلی دی، او په
خپلو سترګو سره به یې د هغه معبودانو سره زنا کوله. د هغه
حرام کارونو او د معبودانو د عبادت په وجه کوم چې دوئ
کړی دی هغوئ به د خپل ځان نه نفرت وکړی. ۱۰ نو دوئ
به په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ یم او زما خبردارے
هسې تشې خبرې نه خو په رښتیا سره مې په دوئ عذاب
راوستو.“ ۱۱ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”د
غم نه خپل لاسونه وپړقوئ او خپلې پښې په زمکه ودربوئ او
د افسوس چغې ووهئ، د بنی اِسرائیلو د هغه ټولو حرامو
کارونو په وجه، نو هغوئ به په جنګ او قحط او وبا سره مړهٔ
کړے شی. ۱۲ هغه څوک چې لرې دی نو هغوئ به په وبا
سره مړهٔ شی، او هغه څوک چې نزدې دی هغوئ به په جنګ
کښې قتل کړے شی، او هغوئ څوک چې بچ پاتې شی نو په
قحط سره به مړهٔ شی. زهٔ به خپل ټول قهر و غضب په هغوئ
نازل کړم. ۱۳ نو هغوئ به په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ یم. کله چې د هغوئ خلق د دوئ د معبودانو او د دوئ
د قربانګاه سره مړهٔ پراته وی، په هره اوچته غونډۍ او
اوچت غر دپاسه او د هرې شنې ونې لاندې او د څېړۍ د ونې
لاندې به د دوئ لاشونه پراتهٔ وی په هغه ځایونو کښې چرته
چې هغوئ خپلو ټولو معبودانو ته د خوشبویۍ نذرانې پېش

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولې. ۱۴ او زۀ به خپل لاس د هغوئ په خلاف وراوږد کړم
او د هغوئ مُلک به د بیابان نه واخله تر دبله پورې خراب او
خاموشه کړم چرته چې هغوئ اوسیږی. نو بیا به هغوئ په
دې باندې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د بنی اِسرائیلو خاتمه

۷ ۱ نو د مالِک خُدائ کلام بیا په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، مالِک قادر مطلق خُدائ بنی اِسرائیلو ته داسې
فرمائی، تباهی دې په سر راغلی ده، ستا په مُلک کښې به هر
طرف ته تباهی وی. ۳ نو اوس ستاسو آخری وخت
رارسېدلے دے او زۀ به خپل قهر و غضب په تاسو نازل
کړم. زۀ به ستاسو د چال چلن په مطابق ستاسو عدالت
وکړم او ستاسو د بدو اعمالو په مطابق به تاسو له پوره سزا
درکړم. ۴ نۀ به تۀ زما نه بچ شې او نۀ به زۀ په تا رحم
وکړم بلکې ستا د چال چلن او بدو اعمالو سزا به تا له
درکړم. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ
یم. ۵ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، د یو
افت دپاسه به بل افت په تاسو راځی. ۶ ستاسو اَنجام،
ستاسو اَنجام نزدې دے، آخری وخت مو نزدې دے، وګورئ
ستاسو په وړاندې دے. ۷ تاسو څوک چې په دې مُلک
کښې اوسیږئ ستاسو د ښخېدو ورځ رارسېدلې ده. وخت
رارسېدلے دے، هغه ورځ رانزدې شوې ده، دلته کښې د
غرونو دپاسه صرف چغې سورې دی، او هیڅ قسمه د
خوشحالئ آوازونه نشته. ۸ زۀ به زر خپل قهر په تا نازل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم، زهٔ به تا ته ستا د چال چلن او د بدو اعمالو په مطابق
سزا درکړم. ۹ نهٔ به تهٔ زما نه بچ شې او نهٔ به زهٔ په تا رحم
وکړم بلکې ستا د چال چلن او بدو اعمالو سزا به تا له
درکړم. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ یم
څوک چې تاسو وهی. ۱۰ ستاسو اَنجام، ستاسو اَنجام
نزدې دے. تباهی مو په سر رارسېدلې ده. ظلم انتها ته
رسېدلے دے، او خلق بې‌حده مغروره شوی دی. ۱۱ د
هغوئ د ظلم په وجه د خلقو شرارت زیات شوے دے، یو
کس به ترې نه هم پاتې نهٔ شی، نهٔ د هغوئ خلق، نهٔ دولت، او
نهٔ د هغوئ اهمیت. ۱۲ هغه وخت راغلے دے، هغه ورځ
رارسېدلې ده. اخستونکی دې خوشحالی نهٔ کوی او نهٔ دې
خرڅوونکی خفګان کوی، ځکه چې غضب په ټوله ګڼه باندې
راتلونکے دے. ۱۳ سوداګر به هغه زمکه دوباره وانهٔ خلی
کومه زمکه چې هغوئ خرڅه کړې ده کهٔ چرې دوئ ژوندی
هم وی، ځکه چې د مالِک خُدائ فیصله د ټولو دپاره ده او نهٔ
بدلېدونکې ده. ځکه د خپلو ګناهونو په وجه به یو کس هم
خپل ژوند بچ نهٔ کړے شی. ۱۴ کهٔ څهٔ هم کهٔ هغوئ بیګل
وغږوی او هر څهٔ تیار کړی، هیڅوک به جنګ دپاره لاړ نهٔ
شی، ځکه چې زما غضب په ګڼو خلقو باندې دے.“

## د بنی اِسرائیلو د ګناه سزا

۱۵ ”د ښار نه بهر جنګونه او په ښار کښې دننه قحط او
وباګانې روانې دی، څوک چې د ښار د دېوالونو نه بهر دی
هغوئ به د دشمن په تُورو باندې مړهٔ شی. او هغه څوک چې
د ښار دننه دی د قحط او د وباګانو په وجه به مړهٔ شی. ۱۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چې ژوندی پاتې شی هغوئ ټول به غرونو ته پناه
اخستلو له لاړ شی، او هر یو به لکه د ګوګوشتکو په شان د
خپلې ګناه په وجه زبیرګی کوی. ۱۷ د هغوئ په لاسونو
کښې به دم نهٔ وی، او پښې به یې ریږدی. ۱۸ هغوئ به د
ټاټ جامې واغوندی او ټول به یرې اخستی وی. د هغوئ په
مخونو به شرم راخور وی او سرونه به یې خرئیلې وی. ۱۹
هغوئ به خپل سپین زر لارو کوڅو ته وغورزوی، او د هغوئ
سرهٔ زر به یو ناپاکه څیز وګڼلے شی. د مالِک خُدائ د
غضب په ورځ به د هغوئ سرهٔ زر او سپین زر به هغوئ نهٔ
شی بچ کولے. هغوئ به په دې باندې نهٔ خپله لوږه ختمولے
شی او نهٔ به وربانديې خپله ګېډه مړولے شی. ځکه چې د هم
دې څیزونو په وجه هغوئ تیر وتل. ۲۰ هغوئ په خپلو ښکلو
زیوراتو باندې فخر کولو چې د هغوئ نه به یې خراب بُتان او
مکروه تصویرونه جوړول. نو په دې وجه به زهٔ دا څیزونه د
هغوئ دپاره پلیت او ناپاکه وګرځوم. ۲۱ زهٔ به دا هر څهٔ
غېرو ته د غنیمت په شکل حواله کړم او د زمکې شریرانو
باندې به یې لوټ کړم، او هغوئ به یې پلیت کړی. ۲۲ زهٔ به
خپل مخ د دوئ نه واړوم او هغوئ به زما د مقدسو خزانو
بې‌حرمتی وکړی، غلهٔ به دې ته ننوځی او ناپاکه به یې کړی.
۲۳ زنځیرونه تیار کړه، ځکه چې ټول مُلک د قتل و غارت
نه ډک دے او ټول ښار د شر و فساد نه ډک دے. ۲۴ زهٔ به
د دُنیا د ټولو نه زیات ظالم قومونه راولم چې د دوئ نه د
دوئ کورونه په زور قبضه کړی، او زهٔ به د دوئ د زورَورو
کسانو فخر ختم کړم، او د هغوئ د مقدس ځایونو بې‌حرمتی
به وشی. ۲۵ کله چې دهشت راشی، نو هغوئ به د امن او
سکون لټون وکړی، خو هیڅ قسم امن به ورته مِلاو نهٔ شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٦ د يو افت دپاسه به بل افت راشی، او د افواه دپاسه به
بله افواه خوريږی. هغوئ به په دې کوشش کښې وی چې د
نبی رويا واوری، د شريعت تعليم به د اِمام نه ختم شی، او
هم داسې د مشرانو مشورې به هم ختمې شی. ٢٧ بادشاه به
ماتم کوی، شهزاده به د خفګان جامې اغوستې وی، د مُلک د
خلقو لاسونه به رپيږی. زۀ به د هغوئ سره د دوئ د چال
چلن په مطابق سلوک کوم، او د هغوئ په خپل معيار او
اصُول به د دوئ عدالت وکړم. نو بيا به هغوئ په دې پوهه
شی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## د خُدائ په کور کښې حرامکاری کول

٨ ١ د جلاوطنۍ په شپږم کال، د شپږمې مياشتې په
پينځمه ورځ، کله چې زۀ په خپل کور کښې د يهوداه د
مشرانو سره ناست وم چې هلته د مالِک قادر مطلق خُدائ
لاس په ما باندې راغلو. ٢ ما وليدل، او يو شکل مې وليدو
چې د انسان په شان ښکاريدو، د ملا نه لاندې هغه د اور په
شان ښکاريدو او بره هغه لکه د يوې ځليدونکې اوسپنې په
شان ښکاريدو. ٣ هغۀ يو څيز راوغزولو چې د لاس په
شان ښکاريدو او زۀ يې د سر وېښتو نه راونيولم. روح زۀ د
آسمان او زمکې مينځ ته پورته کړم او د خُدائ پاک په رويا
کښې يې زۀ يروشلم ته بوتلم، د دننه دربار شمال خوا دروازې
ته، چرته چې هغه بُت ولاړ وو کوم چې د خُدائ پاک غيرت
راپارولو. ٤ او د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک جلال زما په
وړاندې هلته راښکاره شو، لکه څنګه چې ما په رويا کښې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې نه وړاندې په مېدان کښې ليدلے وو. ۵ نو بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، د شمال خوا ته
وګوره.“ نو بيا ما وکتل، د شمال خوا ته د قربانګاه د
داخلېدو دروازه کښې ما هغه بُت وليدو د چا خلاف چې د
خُدائ پاک غېرت راپارېدلے وو. ۶ او هغهٔ ما ته وفرمائيل
چې، ”اے بنى آدمه، ته هغه څهٔ وينې چې دوئ يې کوى هغه
حرام کارونه چې دوئ يې دلته کوى، نو دا حرام کارونه ما د
خپل مقدس کور نه لرې کوى خو تهٔ به داسې کارونه وګورې
چې د دې نه به زيات خراب وى.“ ۷ هغهٔ زهٔ د دربار
دروازې ته راوستلم. ما وکتل، ما په دېوال کښې يو سورے
وليدو. ۸ هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، نو اوس
په دېوال کښې دا سورے غټ کړه.“ نو ما بيا په دېوال کښې
سورے وکړو او هلته مې يوه پټه دروازه وليدله. ۹ او هغهٔ
ما ته وفرمائيل چې، ”دننه لاړ شه او هغه شرارت او حرام
کارونه وګوره کوم چې هغوئ دلته کوى.“ ۱۰ نو بيا زهٔ دننه
لاړم او ومې ليدل چې، په دېوالونو باندې د هر قسمه مارانو او
چينجو او پليتو ځناورو تصويرونه جوړ شوى وُو. او ما د
بنى اِسرائيلو ټول بُتان وليدل چې هغوئ يې عبادت کولو. ۱۱
د بنى اِسرائيل د قوم اويا مشران هلته ولاړ وُو، او د هغوئ په
مينځ کښې يازنياه د سافن زوئ هم ولاړ وو. او د هر يو مشر
په لاس کښې د خوشبو سوزولو مجمر وو او ترې نه د
خوشبو د لوګو لوخړې ختلې. ۱۲ نو بيا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائيل چې، ”اے بنى آدمه، تا هغه څهٔ وليدل کوم چې د
اِسرائيلو مشرانو په تيارهٔ کوټه کښې هر يو د خپل معبود د
زيارت دپاره کول؟ هغوئ دا وائى چې، مالِک خُدائ مونږ نهٔ
وينى، مالِک خُدائ دا مُلک پرېښے دے.“ ۱۳ هغهٔ بيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل چې، "تهٔ به هغوئ د دې نه هم په ډېرو خرابو حرامو
کارونو کولو باندې وګورې." (۱۴) نو بيا زهٔ هغهٔ د مالِک
خُدائ کور ته د ننوتلو د شمال خوا دروازې ته راوستلم، ما
هلته ښځې وليدلې چې ناستې وې او د تموز معبود ژړا او
ماتم يې کولو. (۱۵) هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، "اے بنى آدمه،
تهٔ دا وينې؟ نو تهٔ به نور داسې حرام کارونه وګورې کوم چې
به د دې نه هم ډېر پليت او خراب وى." (۱۶) هغهٔ بيا زهٔ د
مالِک خُدائ د کور دننه دربار ته راوستلم، او هلته د مالِک
خُدائ د کور د داخلېدلو په لار او د برنډې او د قربان‌ګاه په
مينځ کښې پينځويشت کسان وُو. چې شا يې د مالِک خُدائ
کور ته وه او د هغوئ مخ د نمرخاتهٔ خوا ته وو، هغوئ د
مشرق خوا ته نمر ته سجده کوله. (۱۷) هغهٔ ما ته وفرمائيل
چې، "اے بنى آدمه تا دا وليدل؟ ولې دا د يهوداه خلقو ته
مناسبه ده چې هغوئ دې داسې پليت او حرام کارونه دلته
وکړى؟ دا ضرورى ده چې دوئ دُنيا هم د شرارت نه ډکه
کړى او په مسلسله توګه زما قهر و غضب راوپاروى؟ هغوئ
ته وګوره چې خپله پوزه چونړى او ما ته سپک نظر کوى. (۱۸)
نو په دې وجه زهٔ به په هغوئ باندې خپل غضب نازل کړم،
نهٔ به هغوئ زما نه بچ شى او نهٔ به زهٔ په هغوئ رحم وکړم. کهٔ
څهٔ هم چې هغوئ زما په غوږ کښې چغې ووهى زهٔ به هغوئ
ته غوږ نهٔ نيسم."

## د بُت پرستانو قتلول

۹ (۱) نو بيا مالِک خُدائ په اوچت آواز سره وفرمائيل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”هغه کسان راولئ کوم چې د ښار د سزا ورکولو دپاره مقرر
شوی دی نو هغوئ ته ووايه چې هر يو د خپلو تباه کوونکو
وسلو په لاس راشی.“ ٢ نو بيا شپږ کسان د شمال بره
طرف دروازې نه راښکاره شُو، د هر يو په لاس کښې وژونکې
وسله وه. د هغوئ سره يو کس وو چې د کتان جامې يې وې،
چا سره چې د خط و کتابت سامان په ځنګ کښې وو.
هغوئ ټول د مالِک خُدائ د کور دربار ته لاړل او د زېړو د
قربانګاه په خوا کښې ودرېدل. ٣ بيا د بنی اِسرائيلو د
خُدائ پاک جلال د وزرو والا مخلوق دپاسه راوچت شو، په
کوم ځائ کښې چې هغه وو، نو بيا د خُدائ د کور درشل ته
لاړو. نو بيا مالِک خُدائ هغه کس ته آواز وکړو چې د کتان
جامې يې اچولې وې د چا سره چې د خط و کتابت سامان
وو. ٤ او هغهٔ ته يې وفرمائيل چې، ”د يروشلم په ټول ښار
کښې وګرځه او د هر هغه چا په تندی باندې نښه ولګوه څوک
چې وير او ماتم کوی په هغه ټولو حرامو کارونو باندې چې په
دې کښې وشی.“ ٥ نو چې ما غوږ ونيولو، هغهٔ هغه نورو
ته وفرمائيل، ”په ښار کښې هغهٔ پسې ځئ او خلق مړهٔ کړئ،
په چا زړهٔ مهٔ سوزوئ او مهٔ په چا رحم کوئ. ٦ بوډاګان،
ځوانان، پېغلې، ښځې، او ماشومان، حلال کړئ، خو هغوئ
ته لاس مهٔ وروړئ د چا په تندی باندې چې نښه لګېدلې وی.
زما د مقدس ځائ نه شروع وکړئ.“ نو بيا هغوئ دا کار د
هغه مشرانو نه شروع کړو چې د خُدائ د کور په مخکښې
ولاړ وُو. ٧ نو بيا هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل، ”زما کور پليت
او زما دربار د مړو د لاشونو نه ډک کړئ. ځئ لاړ شئ.“ نو
هغوئ بهر لاړل او په ټول ښار کښې يې په مرګ شروع وکړه.
٨ نو کله چې هغوئ خلق وژل او زهٔ يواځې پاتې شوم، نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ پړمخې پرېوتم او چغې مې کړې، ”اے مالِک قادر مطلق
خُدايه، په يروشلم باندې د خپل غضب په نازلېدو سره ولې تۀ
د بنى اِسرائيلو دا بچ پاتې شوى خلق به هم تباه کوې؟“ ۹
نو بيا هغۀ ما ته وفرمائيل چې، ”د اِسرائيل او د يهوداه د
خلقو ګناهونه ډېر بې‌حده غټ دى، مُلک د قتل و غارت نه
ډک دے او ښار د بې‌اِنصافئ نه ډک دے. هغوئ وائى، مالِک
خُدائ دا مُلک پرېښے دے، مالِک خُدائ دا نۀ وينى. ۱۰ نو
زۀ به هغوئ ته د رحم په سترګه نۀ ګورم او نۀ به هغوئ بچ
کړم، خو زۀ به هم د دوئ په سرونو هغه څۀ راولم څۀ چې
هغوئ کړى دى.“ ۱۱ بيا هغه سړى چې د کتان جامې يې
اچولې وې او د خط و کتابت سامان ورسره وو هغۀ دا خبر
راوړو، او وې وئيل، ”ما هغه څۀ وکړل څنګه چې تا حکم
کړے وو.“

## د مالِک خُدائ جلال د يروشلم نه تلل

۱۰ ۱ کله چې ما بره وکتل، د وزرو والا د مخلوق د سر
دپاسه په آسمان کښې ما نيلم کاڼے وليدو چې لکه د تخت په
شان ښکارېدو. ۲ مالِک خُدائ هغه سړى ته چا چې د
کتان جامې اچولې وې وفرمائيل، ”د وزرو والا مخلوق د پايو
د لاندې په مينځ کښې تېر شه. خپل لاسونه د سکروټو نه ډک
کړه او په ښار يې وشينده.“ او چې ما وليدل هغه هم هغه
شان دننه لاړو. ۳ اوس د وزرو والا مخلوق د خُدائ د کور
د جنوبى دروازې سره ولاړ وو کله چې هغه سړے دننه لاړو،
نو وريځې دننه دربار ډک کړو. ۴ نو بيا د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال د وزرو والا مخلوق دپاسه راوچت شو او د خُدائ د
کور درشل ته لاړو. وريځو د خُدائ کور ډک کړو، او د هغۀ
دربار د مالِک خُدائ د جلال د شغلو نه ډک وو. ۵ د وزرو
والا مخلوق د وزرو آواز د لرې پورې اورېدلے شو تر بهرنی
درباره پورې، هغه داسې ښکارېدو لکه د قادر خُدائ د آواز په
شان کله چې هغه خبرې کوی. ۶ کله چې مالِک خُدائ
هغه سړی له حُکم وکړو چا چې د کتان جامې اغوستې وې،
”د وزرو والا مخلوق د لاندې لاړ شه او د پايو د مينځ نه اور
راواخله،“ هغه سړے لاندې ورغلو او د يوې پايې په خوا
کښې ودرېدو. ۷ نو بيا د وزرو والا په مخلوق کښې يو خپل
لاس هغه اور ته وراوږد کړو کوم چې د هغوئ په مينځ کښې
بلېدلو. هغۀ د هغه اور نه لږ راوچت کړو او د هغه سړی په
لاس کښې يې واچولو چې د کتان جامې يې اغوستې وې، نو
بيا هغه سړی اور واخستو او بهر لاړو. ۸ نو ما بيا وکتل
چې هر يو د څلورو وزرو والا مخلوق د وزرونو لاندې يو څيز
ليدل کېدو چې د انسان د لاس په شان ښکارېدو. ۹ ما
وکتل چې، د هر يو څلور وزرو والا مخلوق سره په خوا کښې
يوه پايه وه، او هغه پايې لکه د ايکوامرين کاڼو په شان
ځلېدلې. ۱۰ څلور واړه پايې يو شان ښکارېدې او يو رنګ
جوړې شوې وې، او په هره يوه پايه کښې يوه بله پايه
چورلېدله. ۱۱ د وزرو والا مخلوق په څلورو واړو طرفونو
حرکت کولے شو، چې هر اړخ ته به يې مخ وو نو بغير د
تاوېدو نه به تلے شول. هغوئ به بغير د تاوېدو را تاوېدو نه
هغه اړخ ته تلل کوم خوا به يې چې مخ وُو. ۱۲ د هغوئ ټول
بدن، د هغوئ د شاګانو په شمول، د هغوئ لاسونه او د هغوئ
وزرونه په مکمل توګه د سترګو نه ډک وُو، لکه څنګه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ځلور پايې وې. ۱۳ ما واورېدل چې پايو ته يې د
”چورلېدونکو پايو“ نامه ورکړه. ۱۴ د هر يو وزرو والا
مخلوق ځلور مخونه وُو، اول مخ لکه د غوائی په شان وو، او
دوېم مخ يې د انسان په شان وو، درېم مخ يې لکه د ازمرى په
شان وو، او څلورم مخ لکه د باز په شان وو. ۱۵ نو بيا دا
وزرو والا مخلوق مخ په بره اوچت شو. دا هغه ژوندے
مخلوق وو کوم چې ما د کبار د سيند په غاړه ليدلے وو.
۱۶ کله چې به دې مخلوق حرکت کولو نو د هغوئ په خوا
کښې پايو به هم ورسره حرکت کولو او کله چې به دې
مخلوق خپلې وزرې خورې کړې چې د زمکې نه والوځی، نو
پايو د هغوئ خوا نهٔ پرېښودله. ۱۷ هرکله چې به د وزرو والا
مخلوق په آرام ودرېدل، نو پايې به هم ورسره ودرېدې، او کله
چې به د وزرو والا مخلوق والوتلو نو پايې به هم ورسره
والوتلې، ځکه چې د وزرو والا مخلوق روح په هغې کښې وو.
۱۸ نو بيا د مالِک خُدائ جلال د خُدائ د کور درشل نه لاړو
او د وزرو والا مخلوق دپاسه ودرېدو. ۱۹ نو کله چې ما
وکتل نو هغه مخلوق خپل وزرونه خوارهٔ کړل او د زمکې نه
اوچت شول، نو کله چې دوئ لاړل، هغه پايې د هغوئ سره
لاړې. هغوئ د خُدائ د کور په درشل کښې نمرخاتهٔ طرف ته
ودرېدل، او د بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ جلال د هغوئ د
سر دپاسه وو. ۲۰ دا هغه ژوندے مخلوق وو کوم چې ما د
بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د تخت د لاندې د کبار د سيند په
غاړه ليدلے وو، نو زهٔ په دې پوهه شوم چې دا هم هغه شان
ژوندے مخلوق دے. ۲۱ د هر يو ځلور مخونه او ځلور
وزرونه وُو، او داسې يو څيز يې د وزرو لاندې وو چې په
ليدلو کښې لکه د انسان د لاسونو په شان ښکارېدو. ۲۲ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ مخونه بلکل هم هغه شان ښکارېدل کوم چې ما د کبار
د سیند په غاړه لیدلی وُو. هر یو په تلو کښې نېغ تلو.

## د بنی اِسرائیلو د مشرانو سزا

١١ ١ نو بیا زهٔ د خُدائ روح اوچت کړم او د مالِک
خُدائ د کور دروازې ته یې راوستلم کومه چې مشرق طرف
ته وه. هلته د دروازې په درشل کښې پینځویشت سړی وُو، او
ما په هغوئ کښې یازنیاه د عزور زوئ او فلطیاه د بنایاه
زوئ، د خلقو مشران ولیدل. ٢ هغهٔ ما ته وفرمائیل چې،
"اے بنی آدمه، دا هغه کسان دی څوک چې بدې منصوبې
جوړوی او خلقو ته په ښار کښې د شرارت مشورې ورکوی.
٣ هغوئ وائی چې، آیا دا ښهٔ وخت نهٔ دے چې کورونه
جوړ کړُو؟ دا ښار لکه د اوسپنې د دېګ په شان دے او مونږ
په کښې لکه د غوښې په شان محفوظ یُو. ٤ نو په دې وجه
اے بنی آدمه، د هغوئ خلاف په اوچت آواز سره پېشګوئې
وکړه." ٥ نو بیا د مالِک خُدائ روح په ما نازل شو او هغهٔ
ما ته وفرمائیل چې داسې ووایه، "مالِک خُدائ فرمائی، اے د
بنی اِسرائیلو قومه، ستاسو په سوچونو کښې چې څهٔ دی زهٔ
په هغې پوهېږم. ٦ تاسو په دې ښار کښې ډېر خلق وژلی
دی او د دې لارې کوڅې مو په مړو ډکې کړې دی. ٧ نو په
دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تاسو
چې د مړو کوم لاشونه په دې ښار کښې وغورزول هغوئ هم
هغه غوښه ده چې په دې دېګ کښې محفوظه ده، خو زهٔ به
تاسو د دې نه وباسم. ٨ تاسو د تُورې نه یرېږئ، او هم دا
تُوره به زهٔ په تاسو باندې ستاسو خلاف نازله کړم، دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک قادر مطلق خُدائ فرمان دے. ۹ زۀ به تاسو د ښار
نه وشړم او پردو خلقو ته به مو حواله کړم او تاسو له به سزا
درکړم. ۱۰ تاسو به په تُوره باندې ووژلے شئ، او زۀ به د
اِسرائيل په مُلک کښې دننه په تاسو خپله فېصله واوروم. نو
بيا به تاسو پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۱ دا ښار به
ستاسو دپاره يو د اوسپنې دېګ نۀ وى، او نۀ به تاسو په دې
کښې د غوښې په شان يئ، زۀ به د اِسرائيل په مُلک کښې دننه
تاسو له سزا درکړم. ۱۲ نو تاسو به په دې پوهه شئ چې زۀ
مالِک خُدائ يم، نۀ تاسو زما د شريعت پيروى وکړه او نۀ مو
زما په اصُولو او شريعت عمل وکړو خو د دې په ځائ د
خوا او شا مُلکونو رِواجونو پسې لاړئ.“ ۱۳ نو کله چې ما
پېشګوئي کوله نو فلطياه د بناياه زوئ ناګهانه مړ شو. نو بيا
زۀ پړمخې پرېوتلم او په زوره مې چغې کړې، ”اے مالِک
قادر مطلق خُدايه، ولې تاسو په اِسرائيل کښې په پوره توګه
ژوندى پاتې شوى خلق تباه کوئ؟“

## د جلاوطنو بنى اِسرائيلو سره د مالِک خُدائ وعده

۱۴ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۵ ”اے بنى آدمه،
کوم خلق چې تر اوسه په يروشلم کښې پاتې شوى دى ستا او
ستا د خپلوانو او د اِسرائيل قوم په حقله چې په جلاوطنۍ
کښې دى ورپسې خبرې کوى. هغوئ دا وائى چې څوک چې
جلاوطن شوى دى نو هغوئ د مالِک خُدائ نه لرې شوى
دى، ځکه اوس هغۀ د هغوئ زمکه مونږ له په ميراث کښې
راکړې ده. ۱۶ نو په دې وجه ووايه چې، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائى چې، کۀ څۀ هم چې ما هغوئ نورو لرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قومونو ته ولېږل او په نورو مُلکونو کښې مې تس نس کړل،
خو اوس د لږ وخت دپاره زۀ د هغوئ دپاره په هغه مُلکونو
کښې مقدس پناه ګاه يم کومو ته چې تللی دی. ۱۷ نو بيا
داسې ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زۀ
به تاسو د ټولو مُلکونو نه راغونډ کړم او د هغه مُلکونو نه به
تاسو واپس راولم کومو ته چې ما خوارۀ کړی وئ او زۀ به
بيا تاسو له د اِسرائيل مُلک درکړم. ۱۸ کله چې دوئ دې ته
واپس راشی نو د دې نه به هغه ټول بُتان او حرام تصويرونه
لرې کړی. ۱۹ زۀ به هغوئ ته يو زړۀ ورکړم او نوے روح به
په کښې واچوم، زۀ به د هغوئ نه د کاڼی په شان سخت
زړونه اخوا کړم او نرم زړونه به ورکړم. ۲۰ نو بيا به هغوئ
زما د اصُولو پيروی کوی او په احتياط سره به زما په
شريعت عمل کوی. نو بيا به هغوئ زما خلق وی او زۀ به د
هغوئ خُدائ پاک يم. ۲۱ خو د هغه چا چې زړونه پليتو
تصويرونو او حرام کاره معبودانو ته وقف شوی وی، زۀ به د
هغوئ په سر هغه څۀ راولم کوم چې دوئ کړی دی. دا د
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمان دے.“

## د مالِک خُدائ د جلال د يروشلم نه تلل

۲۲ نو بيا د وزرو والا مخلوق، چې په خوا کښې يې پايې وې
خپل وزرونه خوارۀ کړل، او د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک
جلال د هغوئ دپاسه وو. ۲۳ نو د مالِک خُدائ جلال د ښار
نه روان شو او د دې نمرخاتۀ طرف ته په غر ودريدو. ۲۴ نو
بيا د خُدائ پاک روح زۀ په رويا کښې اوچت کړم او واپس
يې په بابل کښې جلاوطنو ته بوتلم. بيا کومه رويا چې ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لیدلې وه ما نه بره لاړه، ۲۵ او ما هغه جلاوطنو خلقو ته هر
هغه څۀ ووئیل چې مالِک خُدائ ما ته ښودلی وُو.

## د جلاوطنۍ نښې

۱۲ ۱ بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، تۀ د سرکشه قوم په مینځ کښې اوسیږې. هغوئ د
کتلو دپاره سترګې لری خو نۀ وینی او د اوریدو دپاره غوږونه
لری خو اوری نه، ځکه چې هغوئ سرکشه خلق دی. ۳ نو
په دې وجه اے بنی آدمه، خپل سامان داسې راغونډ کړه لکه
چې تۀ په جلاوطنۍ روان یې. د ورځې په رڼا کښې د هغوئ په
وړاندې روان شه او بل ځائ ته لاړ شه. شاید چې هغوئ په
دې پوهه شی چې هغوئ به هم یوه ورځ جلاوطن شی، اګر
چې هغوئ سرکشه قوم دے. ۴ د ورځې په رڼا کښې د
هغوئ په وړاندې خپل مال حال داسې راوباسه لکه چې د
جلاوطنۍ دپاره دې راغونډ کړے وی. بیا په ماښام کښې د
هغوئ په وړاندې داسې روان شه لکه چې څوک جلاوطن
کړے شوے وی. ۵ د هغوئ په وړاندې دیوال سورے کړه
او خپل مال حال په هغه سوری کښې بهر کړه. ۶ د هغوئ
په وړاندې خپل مال حال اوږو ته اوچت کړه او هغه په تیارۀ
کښې بهر یوسه. خپل مخ داسې پټ کړه چې وطن درته نۀ
ښکاری، ما ځکه په تا دا هر څۀ وکړل چې تا د بنی اِسرائیلو
قوم دپاره یو خبردارے کړم.“ ۷ نو څنګه چې ما ته حکم
شوے وو هم هغه شان ما وکړل. په ورځ کښې ما خپل
سامان ترلے لکه د جلاوطنۍ دپاره راوویستلو. نو په ماښام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ما په خپلو لاسونو په دېوال کښې سورے وکړو. ما
خپل سامان په توره تيارۀ کښې بهر کړو، په خپلو اوږو مې د
هغوئ د سترګو د وړاندې اوچت کړو. ۸ نو په سحر کښې
د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۹ ”اے بنى آدمه، ولې
د بنى اِسرائيلو دې سرکشه قوم ستا نه تپوس ونۀ کړو چې، تۀ
څۀ کوې؟ ۱۰ نو هغوئ ته ووايه چې، زۀ مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمايم چې دا پېغام د يروشلم د شهزاده او د
هغه ټولو خلقو دپاره دے څوک چې په کښې اوسيږى. ۱۱
هغوئ ته ووايه چې، زۀ ستاسو دپاره نمونه يم. څنګه عمل
چې ما وکړو نو هم هغه شان به د يروشلم د خلقو سره وشى،
هغوئ به جلاوطن او قېديان کړے شى. ۱۲ د هغوئ په مينځ
کښې شهزاده به هم په تيارۀ کښې خپل سامان په خپله اوږه
اوچت کړى او لاړ به شى، او هغه به دېوال سورے کړى چې
په هغې ووځى. هغه به خپل مخ پټ کړى چې هغه وطن ورته
نۀ ښکارى د کوم نه چې هغه روان دے. ۱۳ نو زۀ به خپل
جال هغۀ ته خور کړم، او هغه به زما په جال کښې راګېر
شى، زۀ به هغه بابل ته د کلدانيانو مُلک ته راولم، خو هغه به
يې ونۀ وينى، او هلته به هغه مړ شى. ۱۴ زۀ به د هغۀ نه
ګېرچاپېره د هغۀ ټول نوکران او فوجيان خوارۀ وارۀ کړم او
هغوئ پسې به تُوره راوکاږم. ۱۵ نو هغوئ به په دې پوهه
شى چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ دوئ په نورو قومونو
او مُلکونو کښې خوارۀ وارۀ کړم. ۱۶ خو زۀ به د هغوئ نه
څۀ کسان د تُورې، قحط او د وبا د مرګ نه بچ کړم، نو چې
کومو قومونو ته دوئ ځى نو دوئ به د خپلو ټولو بدو اعمالو
اقرار وکړى. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شى چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## یو بله نښه، د حزقی‌ایل نبی یرېدل

۱۷ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۸ ”اے بنی آدمه،
کله چې خوراک کوې نو رېږده، او کله چې اوبهٔ څښې نو د
یرې نه لړزېږه. ۱۹ خلقو ته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی د هغه خلقو په حقله څوک چې په یروشلم کښې
او د اِسرائیل په مُلک کښې اوسېږی، هغوئ به خپل خوراک
په رېږدېدو سره کوی او اوبهٔ به په مایوسئ سره څښی، ځکه
چې د دوئ د زمکې نه به هر څهٔ چې په کښې دی لوټ شی د
هغوئ ټولو د قتل و غارت زیاتی په وجه څوک چې په کښې
اوسېږی. ۲۰ د خلقو آباد ښارونه به برباد او زمکې به
ویجاړې شی. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک
خُدائ یم.“

## د مالِک خُدائ خبره به زر پوره شی

۲۱ د مالِک خُدائ کلام په ما بیا نازل شو، ۲۲ ”اے بنی
آدمه، دا کوم متل دے چې تاسو یې د بنی اِسرائیلو په زمکه
باندې کوئ یعنې، ورځې روانې دی او هره یوه پېشګوئې نهٔ
پوره کېږی؟ ۲۳ هغوئ ته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، زهٔ دا متل ختموم، او دوئ به هیڅکله بیا
په اِسرائیل کښې دا ونهٔ وائی. هغوئ ته ووایه، هغه ورځې
رانزدې دی چې هره یوه پېشګوئې به پوره شی. ۲۴ ځکه چې
په اِسرائیل کښې به نور نهٔ د دروغو رویاګانې او نهٔ به د
چاپلوسئ پال لیدلے شی. ۲۵ ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ یم
او زهٔ چې څهٔ ووایم هغه به پوره شی، او هغه به نور ایسار نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی، اې سرکشه بنی اِسرائيله، بېشکه زۀ به ستاسو په ژوند
کښې خپله خبره وکړم او هغه به پوره هم کړم. ما، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې وفرمائيل.“ ۲۶ نو بيا د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۷ ”اې بنی آدمه، د بنی
اِسرائيلو خلق داسې وائی چې، حزقی‌ايل د ډېر لرې وخت په
حقله خبرې کوی. د هغۀ رويا به ډېر وخت اخلی او زر به
پوره نۀ شی. ۲۸ نو په دې وجه تۀ هغوئ ته ووايه چې، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، نور وخت به نۀ لگی، زۀ به
اوس هغه هر څۀ پوره کړم کوم چې ما وفرمائيل. ما، مالِک
قادر مطلق خُدائ وفرمائيل.“

## د دروغژنو نبيانو مذمت

۱۳ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اې
بنی آدمه، د اِسرائيلو د هغه دروغژنو نبيانو خلاف پېشگوئې
وکړه څوک چې اوس پېشگوئې کوی. نو هغوئ ته دا ووايه
څوک چې د خپلو خيالونو د پېشگويۍ دعویٰ کوی او داسې
وائی چې تاسو د مالِک خُدائ کلام واورئ. ۳ مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، افسوس دې وی په هغه کم
عقلو نبيانو باندې چا چې څۀ کتلی نۀ وی او د خپل تصور په
تال کښې ځانگی. ۴ اې بنی اِسرائيلو، ستاسو نبيان داسې
دی لکه چې گيدړان په کنډراتو کښې گرځی. ۵ تاسو د
دېوال چاؤدونو ته ورنۀ غلئ او نۀ مو د دې مرمت وکړو چې
د بنی اِسرائيلو قوم د مالِک خُدائ په ورځ په جنگ کښې قائم
پاتې شی. ۶ د هغوئ روياگانې دوکه ده او د هغوئ پالونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیول دروغ دی. هغوئ وائی چې، مالِک خُدائ دا فرمائی، خو
په حقیقت کښې مالِک خُدائ دوئ نۀ دی رالیږلی، بیا هم
هغوئ په دې اُمید دی چې د هغوئ خبرې به پوره شی. ۷
آیا تاسو د دروغو رویاګانې لیدلې نۀ دی او غلط پال مو
نیولے نۀ دے او بیا هم وایئ چې، دا د مالِک خُدائ فرمان
دے، حالانکه ما څۀ نۀ وی فرمائیلی؟ ۸ نو په دې وجه
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ستاسو د
دروغژنو خبرو او رویاګانو په وجه، زۀ ستاسو خلاف یم.
۹ زما لاس به د هغه نبیانو په خلاف وی څوک چې د
دروغو رویاګانې ګوری او د دروغو پالونه نیسی. هغوئ به
زما د خلقو په ټولګی کښې شریک نۀ شی او نۀ به د بنی
اِسرائیلو د قوم په فهرستونو کښې درج شی، او نۀ به هغوئ د
اِسرائیل په مُلک کښې داخل شی. نو بیا به تاسو په دې پوهه
شئ چې زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ یم. ۱۰ ځکه چې هغوئ
زما خلق ګمراهۍ خوا ته بوتلل، او وائی چې امن دے خو په
حقیقت کښې امن نۀ وی. دا د هغه چا په شان دے لکه
څوک چې کچه دېوال ووهی او بیا هغه نبیان ورته چونه
ورکړی. ۱۱ نو په دې وجه هغه نبیانو ته ووایه څوک چې دا
دېوالونه چونه کوی چې دا به راغورزیږی. زۀ به تیز باران او
غټه ږلۍ راولیږم، او تیز باد به په دې رانازل کړم. ۱۲ کله
چې دېوال راوغورزیږی، ولې خلق به ستاسو نه دا تپوس ونۀ
کړی چې هغه سپینه چونه څۀ شوه چې تاسو دېوال ته
ورکړې وه؟ ۱۳ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی، په خپل قهر سره به زۀ یو وحشتناک طوفان
راولیږم، او په خپل قهر سره به ږلۍ او د باران طوفان
راولیږم. ۱۴ زۀ به هغه دېوال راوغورزوم کوم چې تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چونه کړے دے او هغه به زهٔ د زمکې سره هوار کړم او د
هغهٔ بنیاد به څرګند کړم. کله چې هغه راغورزیږی نو تاسو به
هم په کښې تباه شئ، نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ
مالِک خُدائ یم. ۱۵ نو زهٔ به خپل غضب په دېوال او په
هغوئ سوړ کړم چا چې دېوال چونه کړے وو. نو زهٔ به تاسو
ته وایم چې، دېوال او هغه کسان دواړه فنا شو چا چې چونه
کړے وو. ۱۶ د اِسرائیل نبیانو ته چا چې د یروشلم په حقله
پېشګوئې وکړه او د هغې په حقله یې د امن رویاګانې لیدلې
حال دا چې په رښتیا به امن نهٔ وو، ما، مالِک خُدائ
وفرمائیل.“

## د دروغژنو پیغمبرانو ملامتول

۱۷ ”اوس اے بنی آدمه، خپل مخ دې د دې ښځو په خلاف
راواړوه څوک چې د خپلې خېټې نه نبوت کوی. د هغوئ
خلاف نبوت وکړه. ۱۸ او هغوئ ته ووایه چې مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، افسوس دې وی په هغه ښځو
څوک چې په خپلو لاسونو سره د جادو او کوډو تعویذونه
ګنډی او په خپل مړوند کښې یې راځوړندوی او د کوډو څادر
جوړوی او چې خلق په خپل جال کښې ګرفتار کړی. آیا
تاسو به زما د خلقو دپاره جال خور کړئ او خپل ژوند به بچ
کړئ څهٔ؟ ۱۹ تاسو زما د خلقو په مینځ کښې د لږو اوربشو
او د یو څو ټوکړو روټۍ دپاره زما بېحرمتی وکړه. تاسو زما
غوره شوی خلقو ته دروغ ووئیل او هغوئ هم په تاسو باور
وکړو او دغه شان تاسو هغوئ ووژل څوک چې د وژولو نهٔ
وو او هغوئ مو ژوندی پرېښودل څوک چې د ژوندی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېښودلو نهٔ وو. ۲۰ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، زهٔ ستاسو د جادو منتر خلاف یم په کومو
چې تاسو خلق لکه د مرغۍ راګېروئ او هغه به زهٔ ستاسو د
مټو نه خلاص کړم، او زهٔ به هغه خلق آزاد کړم کوم چې
تاسو لکه د مرغۍ په شان راګېر کړی دی. ۲۱ زهٔ به ستاسو
د جادو نقابونه وشلوم او خپلو خلقو له به ستاسو د لاسه
خلاصون ورکړم، او هغوئ به نور ستاسو د جادو په اثر
کښې نهٔ راځی. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک
خُدائ یم. ۲۲ تاسو د خپلو دروغو په وجه صادقان بې‌زړهٔ
کړل اګر چې ما هغوئ ته هیڅ قسم تکلیف نهٔ دے ورکړے،
او تاسو ګناهګارانو ته ډاډ ورکوئ چې د خپلو بدو لارو نه
راونهٔ ګرځی او د هغوئ ژوند بچ نهٔ شی، ۲۳ نو په دې وجه
تاسو به نور نهٔ د دروغو رویا وګورئ او نهٔ به فالګری وکړئ.
زهٔ به خپل خلق ستاسو د لاسه بچ کړم. او بیا به تاسو پوهه
شئ چې زهٔ مالِک خُدائ یم.“

## د بُت پرستانو مذمت

۱۴ ۱ نو بیا د اِسرائیل ځینې مشران ما له راغلل او زما
په وړاندې کښېناستل. ۲ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل
شو، ۳ ”اے بنی آدمه، دې مشرانو په خپل زړهٔ کښې بُتانو
له ځائ ورکړے دے او هغوئ هغه د خپل ځان په وړاندې د
ګناه او تیندک خوړلو سبب ګرځولے دے. نو بیا ولې زهٔ
دوئ ته غوږ ونیسم څهٔ؟ ۴ نو په دې وجه هغوئ سره خبره
وکړه او هغوئ ته ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائی چې کله چې یو بنی اِسرائیلی خپل زړهٔ کښې بُتانو له
ځائ ورکړے وی او د خپل ځان د وړاندې یې د ګناه او
تیندک خوړلو سبب ګرځولے وی او بیا یو نبی ته د مشورې
دپاره ورشی، نو بیا به زهٔ مالِک خُدائ هغهٔ له په خپله داسې
جواب ورکړم چې د هغوئ د ډیرې بُت پرستئ لائق وی. ٥
زهٔ به دا د دې دپاره وکړم چې د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو په
زړونو دوباره قبضه وکړم، ټولو چا چې زهٔ د خپلو بُتانو په
وجه پرېښودے یم. ٦ نو په دې وجه د بنی اِسرائیلو قوم ته
ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، توبه
وکړئ، او د خپلو بُتانو نه راوګرځئ او د خپلو ټولو حرامو
کارونو نه منع شئ. ٧ هرکله کهٔ یو بنی اِسرائیلے او یا غېر
مُلکی په اِسرائیل کښې اوسېږی او خپل ځان یې زما نه جدا
کړے وی او بُتانو له یې په خپل زړهٔ کښې ځائ ورکړے وی
او د خپل ځان د وړاندې یې د ګناه او تیندک خوړلو سبب
ګرځولے وی او بیا یو نبی له د مشورې دپاره ورشی او زما
په حقله ترې تپوس وکړی، نو زهٔ مالِک خُدائ به په خپله
هغوئ له جواب ورکړم. ٨ زهٔ به د داسې کس مخالفت
کوم او نورو خلقو ته به یې د خندا مثال جوړ کړم. او زهٔ به
هغه د خپل قومیت نه وباسم. نو بیا به تاسو په دې پوهه شئ
چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ٩ او کهٔ هغه نبی په پېشګوئ
ورکولو کښې دوکه شی او دروغ ووائی نو ما مالِک خُدائ
هغه نبی له دوکه ورکړه، او زهٔ به خپل لاس د هغهٔ خلاف
راووړد کړم او هغه به د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو نه نیست و
نابود کړم. ١٠ هغوئ دواړو ته به د خپلې ګناه سزا مِلاو
شی، پېغمبر ته او هم هغه چا ته چې پېغمبر ته د هدایت
حاصلولو دپاره راځی. ١١ نو بیا به د بنی اِسرائیلو خلق زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه نور نۀ بېلارې کيږى، او نۀ به هغوئ نور خپل ځانونه په
بېرو ګناهونو کولو باندې پليتوى. هغوئ به زما خلق وى، او
زۀ به د هغوئ خُدائ يم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى.“

## د خُدائ عدالت رښتينے دے

۱۲ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۳ ”اے بنى
آدمه، کۀ چرې يو مُلک زما خلاف ګناه او بېوفائى وکړى او
زۀ خپل لاس د هغوئ خلاف اوچت کړم او د هغوئ رزق بند
کړم او په هغوئ باندې قحط نازل کړم او د هغه مُلک سړى
او ځناور مړۀ کړم، ۱۴ کۀ چرې نوح، دانيال، او ايُوب درې
واړه هم هلته اوسېدل، نو هغوئ به په خپل صداقت صرف
خپل ځانونه بچ کړى وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى. ۱۵ او يا کۀ چرې زۀ هغه مُلک ته ځنګلى ځناور
ورولېږم چې د هغې خلق ووژنى او مُلک بلکل وران ويجاړ
کړى، نو بيا به د هغه ځناورو په وجه هيڅ څوک هم د هغه
مُلک نه نۀ شى تېرېدلے، ۱۶ زما دې په خپل ذات قسم وى،
قادر مطلق مالِک خُدائ فرمائى، کۀ چرې دا درې واړه
کسان هم هلته اوسېدل نو هغوئ به خپل زامن او لوڼه هم نۀ
شُو بچ کولے. يواځې هغوئ به بچ شى خو ټول مُلک به وران
ويجاړ شى. ۱۷ او کۀ چرې زۀ په هغه مُلک جنګ راولم، او
ووايم چې پرېږده چې تُوره د ټول مُلک نه تېره شى او زۀ په
کښې انسانان او د دوئ ځناور مړۀ کړم، ۱۸ زما دې په
خپل ذات قسم وى، قادر مطلق مالِک خُدائ فرمائى، کۀ
چرې دا درې واړه کسان په دې کښې اوسېدل، بيا هم دوئ
خپل زامن او لوڼه نۀ شُو بچ کولے. خو صرف دوئ به بچ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوی وُو. ۱۹ او یا فرض کړئ کۀ چرې زۀ په دغه مُلک وبا
رانازله کړم او خپل غضب پرې د وینې تویدو په ذریعه نازل
کړم چې د دې سړی او ځناور مړۀ کړی، ۲۰ زما دې په
خپل ذات قسم وی، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، کۀ
چرې نوح، دانیال او ایُوب هم په دې کښې اوسېدل، هغوئ
خپل زامن او لوڼه نۀ شول بچ کولے. بلکې هغوئ به په خپل
صداقت سره صرف خپل ځانونه بچ کړی وُو. ۲۱ نو په دې
وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، دا به د
یروشلم دپاره څومره خراب وخت وی کله چې زۀ خپل دا
څلور سخت یروونکی عذابونه د هغوئ خلاف ورولېږم، جنګ
او قحط او وحشی ځناور او وباګانې چې د دې سړی او
ځناور مړۀ کړی. ۲۲ خو بیا هم به څۀ کسان ژوندی پاتې
شی خو هغوئ به تاسو سره په جلاوطنۍ کښې یوځائ شی.
کله چې تاسو په خپله د هغوئ بد عملونه وګورئ، نو بیا به
تاسو په خپله ووایئ چې کوم افتونه ما په یروشلم نازل کړی
وُو هغه ضروری وُو. ۲۳ تاسو به په خپله مطمئن شئ کله
چې تاسو د هغوئ چال چلن او د هغوئ کردار وګورئ، نو
تاسو به په دې پوهه شئ چې ما بې د کومې وجې په هغوئ
باندې تکلیف او افت نۀ دے نازل کړے. ما، مالِک قادر
مطلق خُدائ وفرمائیل.“

## یروشلم بېکاره د انګور بوټے دے

۱۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنی آدمه، د انګور د بوټی څانګه د ځنګل د نورو ونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځانګو نه په کوم لحاظ سره ښۀ ده؟ ۳ آيا د دې لرګے د
کوم شی د جوړولو دپاره استعمالولے شی؟ ولې هغوئ د دې
نه موړی جوړوی چې څيزونه پرې راځوړند کړی؟ ۴ او
کله چې هغه په اور کښې د سوزولو دپاره وغورزولے شی او
اور د دې دواړه سرونه وسوزوی او مينځ يې په سکرو بدل
شی، آيا دا بيا د څۀ شی دپاره په کار راځی؟ ۵ د سوزېدو
نه مخکښې چې دا د هيڅ کار نۀ وو، نو بيا به دا څومره
بې‌کاره وی کله چې دا په اور کښې وسوزيږی او سکارۀ
شی؟ ۶ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، لکه څنګه چې ما د انګور بوټی د ځنګل په بوټو
کښې ورکړو چې د خشاک دپاره استعمال شی نو هم دغه
شان سلوک به زۀ د هغوئ سره وکړم څوک چې په يروشلم
کښې اوسيږی. ۷ زۀ به خپل مخ د هغوئ خلاف کړم، اګر
کۀ هغوئ د اور نه بهر راوتل خو اور به بيا هم هغوئ
وسوزوی. نو کله چې زۀ خپل مخ د هغوئ خلاف کړم، نو
تاسو به پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۸ زۀ به هغه
زمکه ورانه ويجاړه کړم ځکه چې هغوئ زما سره بې‌وفائی
کړې ده، دا د مالِک خُدائ فرمان دے.“

## د يروشلم بې‌وفائی

۱۶ ۱ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، يروشلم د خپل حرام کار په حقله خبر کړه. ۳ او
ورته ووايه، مالِک خُدائ يروشلم ته داسې فرمائی، ستاسو
نسل او پيدايښت د کنعان د مُلک دے، ستاسو پلار اموری

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو او ستاسو مور حِتی وه. ۴ په هغه ورځ کله چې تهٔ پېدا
شوې، نو هيچا ستا نوم پرې نهٔ کړو او نهٔ چا په اوبو ولمبولې
چې پاک دې کړی، او نهٔ په تا چا مالګه ومږله او نهٔ تهٔ چا په
اوړنی کښې ونغښتې. ۵ نو چا هم تا ته د رحم په سترګه
ونهٔ کتل او په تا باندې چا زړهٔ هم ونهٔ سوزولو چې دا کارونه
درته وکړی. ستا د پېدا کېدو د ورځې نه هغوئ تا نه نفرت
کولو او تهٔ يې په يو مېدان کښې وروغورزولې. ۶ نو زهٔ په
دغه ځائ تېر شوم او ومې ليدلې چې په خپلو وينو کښې دې
لتې وهلې، نو کله چې تهٔ په وينو کښې ککړ پروت وې نو ما
درته وفرمائيل چې ژوندی اوسه. ۷ ما تهٔ لکه د بوټی په
شان لويه کړې. تهٔ لويه شوې او لوړه دنګه شوې او يوه پېغله
درنه جوړه شوه، ستا سينې راوشوې، او ستا د سر وېښتهٔ
رالوئ شُو خو تهٔ لا تر اوسه بربنډه او لغړه وې. ۸ لږ
وروستو زهٔ په تا تېرېدم، نو کله چې ما تا ته وکتل نو ومې
ليدلې چې تهٔ د مينې کولو قابله شوې، ما د خپلو جامو يو
حِصه په تا وغوړوله او ستا شرم مې پټ کړو. ما قسم
وخوړلو او تا سره مې لوظ وکړو، مالِک قادر مطلق خُدائ
وفرمائيل، او تهٔ زما شوې. ۹ تهٔ ما په اوبو ولمبولې او ستا
نه مې وينه صفا کړه او ستا په بدن مې تېل ولګول. ۱۰ ما تا
ته د ګُلکاری جامې درواغوستلې او د څرمنې پېزار مې درته
په پښو کړو. ما درته ښکلې د کتان او د رېشمو قيمتی جامې
درواغوستلې. ۱۱ ما تهٔ په کالو سنګار کړې، ما ستا په لاس
کښې بنګړی او په غاړه کښې مې درته اميل واچولو. ۱۲ او
ما په پوزه کښې درته نتکۍ او په غوږونو کښې مې والۍ درته
واچولې او ښائسته تاج مې در په سر کړو. ۱۳ نو تهٔ په
سپينو او سرو زرو سنګار شوې، تا د قيمتی کتان او ګُلکاری

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جامې واغوستې. ستا خوراک ښهٔ اوړهٔ، شات او د زيتُونو
تېل وُو. تهٔ ډېره ښکلې شوې او ستا نه مَلِکه جوړه شوه. ۱۴
او ستا د ښُکلا مشهورتيا په نورو قومونو کښې ډنډوره شوه،
ستا ښائست کامِل وو ځکه چې ما د خپل شان او شوکت نه
تا له دا درکړى وُو، قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى. ۱۵ خو
تا په خپله ښُکلا او شُهرت باندې بهروسه وکړه او خپل
شُهرت دې د کنجرتوب دپاره استعمال کړو. ستا د کنجرتوب
نه څوک هم په لار بچ نهٔ شُو او خپل حسن دې باد کړو. ۱۶
تا خپلې جامې واخستې او په خپلو جامو دې زيارت رنګينه
کړو، هلته دې کنجرتوب شروع کړو. نهٔ داسې کارونه
مخکښې شوى وُو او نهٔ به وروستو وشى. ۱۷ تا خپل ځان
سره قيمتى کالى هم واخستل کوم چې ما تا له درکړى وُو،
کوم چې ما د سرو او سپينو زرو نه جوړ کړى وُو، او تا د
هغوئ نه ځانله نارينه بُتان جوړ کړل او د هغوئ سره په زنا
کولو مصروفه شوې. ۱۸ او تا په هغوئ باندې خپلې د کار
جامې وغوړولې او تا هغوئ ته زما د تېلو او خوشبويۍ نذرانې
پېش کړې. ۱۹ کوم خوراک چې ما تاسو ته د خوړلو دپاره
درکړے وو، لکه ښهٔ اوړهٔ، د زيتُونو تېل او شات ما تاسو ته
د خوړلو دپاره درکړل، خو تاسو هغه بُتانو ته د خوشبويۍ د
نذرانو په شکل وړاندې کړل. دا د مالِک قادر مطلق خُدائ
وينا ده. ۲۰ او تاسو خپل زامن او لوڼه بوتلل کوم چې تاسو
زما دپاره پېدا کړى وُو او هغوئ مو د خوراک په توګه بُتانو
ته قربانى کړل. ولې ستا خپله زناکارى کافى نهٔ وه څهٔ؟ ۲۱
تا زما بچى حلال کړل او بُتانو ته دې قربانى کړل. ۲۲ ستا
په ټولو حرامو کارونو او ستا په زناکارۍ کښې تا ته خپل د
ځوانۍ عمر ياد نهٔ وو، کله چې تهٔ بربنډه او لغړه وې او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو وينو کښې دې لتې وهلې.“

## د يروشلم د کنجرتوب ژوند

٢٣ ”افسوس، افسوس دې وى په تاسو، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائى. د دې باوجود ستاسو د خپلو نورو ټولو
شرارتونو سره، ٢٤ تا په هر يو چوک کښې د ځان دپاره
زيارتونه او بُتخانې جوړې کړې. ٢٥ تا د سړک په هر يو
ګوټ کښې بُتخانې جوړې کړې او خپله بےحرمتى دې وکړه
او په لاره هر يو تېرېدونکى ته دې پښې ورتېرې کړې او هغوئ
سره دې کنجرتوب وکړو. ٢٦ تهٔ د خپلو شهوت پرستو
ګاونډيانو مِصريانو سره په زناکارئ کښې آخته شوې، او تا
د ډېرې زنا کولو په وجه زما قهر او غضب راوپارولو. ٢٧
نو بيا ما خپل لاس ستا خلاف دراوږد کړو او ستا ملکيت مې
کم کړو، او ما تهٔ خپلو حرصناکو دشمنانو ته حواله کړې،
يعنې د فلستيه لوڼو ته چا ته چې ستا د بےحيا کارونو نه حيا
ورتله. ٢٨ تهٔ د اسوريانو سره هم په زناکارئ کښې مصروفه
شوې، ځکه چې ستا شوق نهٔ پوره کېدو، بلکې د دې نه
وروستو هم تهٔ يخه نهٔ شوې. ٢٩ نو بيا تا خپله زناکارى د
بابليانو مُلک پورې اوږده کړه، چې د سوداګرو مُلک دے،
خو هغوئ هم ستا شوق پوره نهٔ کړو. ٣٠ مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائى چې تهٔ د زړهٔ نه څومره مجبوره يې چې تا لکه
د بےحيا کنجرې په شان کارونه وکړل. ٣١ کله چې تا خپلې
بُتخانې د کوڅې په هر ګوټ کښې جوړې کړې او په هر
چوک کښې دې د خپل ځان دپاره زيارتونه جوړ کړل، تهٔ د
عام کنجرې په شان نهٔ وې ځکه چې تا پيسې اخستل بد ګڼل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ تهٔ هغه زناکاره ښځه يې چې د خپل خاوند په ځائ پردو
سړو سره بدکارى کوې. ۳۳ هره يوه کنجره پيسې اخلى،
خو تهٔ خپلو عاشقانو له تحفې ورکوې، هغوئ له خرچه
ورکوې چې تا له د هرې خوا نه د ناروا کارونو دپاره راشى.
۳۴ نو تهٔ په خپلې زناکارۍ کښې د نورو نه بدله يې. ستا د
شوق دپاره هيڅ څوک تا پسې نهٔ ګرځى. تهٔ بلکل د نورو نه
بدله يې، ځکه چې تهٔ خرچه ورکوې خو تهٔ په خپله څهٔ نهٔ
اخلې. ۳۵ نو بيا تهٔ اے زناکارې، د مالِک خُدائ کلام ته
غوږ ونيسه. ۳۶ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې،
ځکه چې تا خپل مال دولت په خپلو عاشقانو خرچ کړو او
خپله حيا دې د بدکارۍ په وخت کښې ښکاره کړه، ستا د
ټولو خرابو بُتانو په وجه، ځکه چې تا هغوئ ته د خپلو بچو
وينه پيش کړه، ۳۷ نو په دې وجه به زهٔ ستا ټول عاشقان يو
ځائ ته راغونډ کړم، د چا نه چې تا خوندونه اخستل، د چا
سره چې تا مينه کوله او هغوئ د چا نه چې تا نفرت کولو.
زهٔ به ستا ټول دشمنان د هر ځائ نه راغونډ کړم او د هغوئ
په وړاندې به دې بربنډه کړم تر هغې چې هغوئ ټول تا په
مکمل توګه لغړه وګورى. ۳۸ زهٔ به تا ته د هغه ښځو سزا
درکړم چا چې زنا کړې ده او چا چې وينه تويه کړې ده، زهٔ
به تا نه په خپل غيرت او قهر او غضب کښې د قتل کولو بدله
واخلم. ۳۹ نو بيا به زهٔ تا خپلو عاشقانو ته حواله کړم، او
هغوئ به ستا بُتخانې ورانې کړى او ستا زيارتونه به تباه
کړى. او هغوئ به ستا نه جامې او قيمتى کالى کوز کړى او
بربنډه او لغړه به دې پرېږدى. ۴۰ هغوئ به ستا خلاف
جلوس راوکاږى څوک چې به تا سنګسار کړى او تا به په
خپلو تُورو سره ټوټه ټوټه کړى. ۴۱ هغوئ به ستا کورونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسوزوی او د ډېرو ښځو په وړاندې به تا له سزا درکړی. زۀ
به ستا کنجرتوب بند کړم. او تۀ به نور خپلو عاشقانو له
پېسې نۀ ورکوې. ۴۲ نو بیا به زما غصه سړه شی او زما د
غېرت قهر به سوړ شی، او زۀ به په آرام شم او نور به تا ته نۀ
غصه کېږم. ۴۳ ځکه چې تا ته د خپلې ځوانئ ورځې يادې
نۀ دی خو زۀ تا په دې ټيزونو سره غصه کړم. تا چې کوم
بد عملونه کړی دی زۀ به د هغې ټولو بدله ستا نه واخلم،
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ته د خپلې ټولې حرام کارئ
سره په شهوت پرستئ کښې د حد نه تېره شوې.“

## يروشلم لکه د سدوم او سامريه په شان دے

۴۴ ”هر څوک چې متلونه وائی نو دا متل به ستا په حقله
وائی چې، څنګه يې مور وی هغسې يې لور وی. ۴۵ تۀ د
خپلې مور رښتينې لور يې، چا چې د خپل خاوند نه او د
خپلو ماشومانو نه نفرت وکړو، او تۀ د خپلې خور رښتينې
خور يې، چا چې د خپلو خاوندانو او ماشومانو نه کرکه
کوله، ستا مور حِتی وه او ستا پلار اموری وو. ۴۶ ستا
مشره خور سامريه وه، څوک چې ستا شمال خوا ته خپلو
لوريانو سره اوسيږی، او ستا کشره خور څوک چې په
جنوب کښې د خپلو لورِيانو سره اوسيږی، هغه سدوم دے.
۴۷ دا نۀ چې تۀ صرف د هغوئ په نقش قدم باندې روانه يې
او د هغوئ د حرامو کارونو پيروی دې وکړه بلکې په خپلو
ټولو کردارونو کښې تۀ ډېره زر د هغوئ نه بدتره شوې. ۴۸
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زما دې په خپل ذات
قسم وی، تر دې چې ستا خور سدوم او د هغې لوريانو کله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم داسې بد کارونه نهٔ وُو کړی کوم چې تا او ستا لوریانو
وکړل. ۴۹ نو د ستا د خور سدوم گناه وه چې، هغې او د
هغې لوڼو کبر کولو، او هغوئ خېټه ورې وې او د آرام ژوند
يې تېرولو، خو د غريبو او ضرورتمندو سره يې امداد نهٔ
کولو. ۵۰ هغوئ کبرژن وُو او حرام کارونه يې زما په
وړاندې وکړل. نو په دې وجه ما هغوئ لرې کړل لکه څنگه
چې تاسو وليدل. ۵۱ سامريې ستا د گناه په نيمه حِصه هم
گناه نهٔ ده کړې، تا د هغوئ نه ډېر زيات حرام کارونه کړی
دی، او کوم حرام کارونه چې تا کړی دی تا خپلې خوېندې د
هغوئ په نسبت ويخښلې. ۵۲ نو تهٔ اوس په شرم وشرمېږه،
ستا گناهونه دومره خراب دی چې تا خپلې خوېندې ويخښلې
او هغه دې صادقه وگرځولې.“

## د سدوم او سامريه بيا ودانول

۵۳ ”خو زهٔ به د سدوم او د هغې د لوريانو ژوندون دوباره
بحال کړم او د سامريه او د هغې د لوريانو ژوندون به هم
بحال کړم او ستا حالت به هم ورسره ښهٔ کړم. ۵۴ نو تهٔ به
په خپل شرم رسوا شې او په خپلو کړو به وشرمېږې. سدوم
او سامريه به خوشحاله شی چې هغوئ ستا په شان گناهگار
نهٔ دی. ۵۵ او ستا خوېندې، سدوم او د هغې لوڼه او
سامريه او د هغې لوڼه، او تهٔ او ستا لوڼه، به بيا دوباره په
هغه حالت شئ لکه څنگه چې تول د اول نه وئ. ۵۶ د خپلې
مغرورتيا په ورځو کښې تا خپلې خور سدوم پورې خندا
کوله. ۵۷ خو اوس ستا بدعملونه ټولې دُنيا ته ښکاره شول.
اوس تهٔ په خپله په شرمونو کښې پټه شوې او ادوم او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ګاونډيان او فلستيان ستا نه نفرت کوى. ۵۸ تهٔ به د
خپلې عياشئ او حرام کارونو سزا وزغمې، مالِک خُدائ
فرمائى.“

## ابدى لوظ

۵۹ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، ”زهٔ به تا
سره هغه شان سلوک وکړم د کوم چې تهٔ حقدار يې، ځکه
چې د لوظ په ماتولو سره تا د قسم خوړلو سپکاوے وکړو.
۶۰ خو ما ته لا تر اوسه پورې هغه لوظ ياد دے کوم چې ما
تا سره ستا د ځوانئ په ورځو کښې کړے وو، او زهٔ به تا
سره ابدى لوظ وکړم. ۶۱ نو تهٔ به خپل هغه بد عملونه راياد
کړې کوم چې تا کړى دى او په هغې به شرمنده شې کله چې
تهٔ خپلې مشرې او کشرې خويندې سره مِلاو شې. زهٔ به تا ته
هغوئ لکه د لونړو په شان درکړم خو په دې بنياد نهٔ چې تا په
لوظ عمل کړے دے. ۶۲ نو زهٔ به خپل لوظ تا سره تازه
کړم، نو تهٔ به په دې پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۶۳
کله چې زهٔ ستا ټول کارونه تا ته معاف کړم کوم چې تا کړى
دى، نو تا ته به دا ګناهونه ياد وى او په هغې به دومره
شرمېږې چې بيا به يې نوم په خولهٔ نهٔ اخلې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائى.“

## د باز او د انګورو د بوټى مثال

۱۷ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنى آدمه، بنى اِسرائيل قوم ته يو مثال پېش کړه او يو متل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته ووايه. ٣ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، د طاقتورو وزرو او د اوږدو او رنګينه بڼو
والا غټ باز لبنان ته راغلو. هغهٔ د دِيار لوړه څوکه راونيوله.
٤ هغهٔ ځان سره د دې د سر نه کچه ښانګه راپرې کړه او
د سوداګرو مُلک ته يې يوړه، کومه چې هغهٔ هلته د سوداګرو
په ښار کښې وکَرله. ٥ هغهٔ ستا د مُلک نه دا بوټے
راواخستو او په زرخيزه زمکه کښې يې وکَرلو. هغهٔ دا لکه د
خارولی په شان د روانو اوبو په غاړه وکَرلو. ٦ نو هغه
راوټوکېدو او په زمکه لکه د انګور د بوټی په شان خور شو. د
دې ښانګې د هغهٔ طرف ته اوږدې شوې، خو جرړې يې لاندې
په زمکه کښې پاتې شوې. نو دا لکه د انګورو د ونې په شان
شوه او نوې ښانګې يې پېدا کړې او په پاڼو پټه شوه. ٧ خو
يو بل غټ باز وو چې طاقتور وزرونه يې وُو او په بڼو پټ وُو.
هغه د انګور بوټے هغه ځائ نه چرته چې کَرلے شوے وو
خپلې جرړې او ښانګې د اوبو دپاره هغهٔ ته وراوږدې کړې.
٨ هغه په ښهٔ خاوره کښې د ډېرو اوبو په خوا کښې کَرلے
شوے وو چې ښانګې وکړی، مېوه ونيسی او يو شاندار بوټے
ترې جوړ شی. ٩ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، ولې دا بوټے به کامياب شی څهٔ؟ ولې دا
به د جرړو نه راونهٔ باسی څهٔ؟ او ولې هغه به د مېوو نه خالی
نهٔ کړی څهٔ؟ د هغهٔ ټولې ښانګې به وچې شی. د دې د
راويستلو دپاره د طاقتور لاس او ډېرو کسانو ضرورت نشته
چې د جرړو نه يې راوباسی. ١٠ کهٔ څهٔ هم چې دا بل ځائ
وکرلے شی، ولې دا به کامياب شی څهٔ؟ ولې دا به بلکل اوچ
نهٔ شی کله چې د مشرق بادونه دا ووهی؟ دا به په هغه پټی
کښې اوچ نهٔ شی چرته چې را لوئ شوے وو؟”

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د دې مثال وضاحت

١١ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ١٢ "دې
سرکشه قوم ته ووايه چې، تاسو په دې نۀ پوهېږئ چې د دې
مثال څۀ مطلب دے؟ هغوئ ته ووايه چې، د بابل بادشاه
يروشلم ته لاړو او د هغې بادشاه او سپين روبى يې بوتلل، او
د خپل ځان سره يې بابل ته راوستل. ١٣ بيا هغۀ د شاهى
خاندان نه يو کس خوښ کړو، او د هغۀ سره يې لوظ وکړو
او د وفادارۍ قسم يې ترې نه واخستلو. هغۀ د ځان سره د
مُلک مشران هم بوتلى وُو، ١٤ نو چې د هغوئ بادشاهت
کمزورے شى چې بيا د سر اوچتولو قابل نۀ شى. نو دغه
شان اِسرائيل به په خپلې وفادارۍ ژوندى پاتې شى. ١٥ خو
د يهوداه بادشاه د هغۀ په خلاف بغاوت وکړو چې هغۀ خپل
قاصدان مِصر ته ولېږل او هلته نه يې آسونه او لوئ لښکر
راوستو. ولې هغه به کامياب شى؟ ولې ځوک چې داسې
کارونه وکړى بچ به شى؟ ولې هغه به د لوظ په ماتولو د
تکليف نه خلاص شى؟ ١٦ مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى
چې، زما دې په خپل ذات قسم وى، هغه به د بابل په مُلک
کښې مړ شى، د هغه بادشاه په مُلک کښې چا چې هغه په
تخت کښېنولے وو، د چا قسم ته چې هغۀ سپک وکتل او
چې د چا لوظ يې مات کړو. ١٧ فِرعون به د خپلو تکړه
سپاهيانو او غټو لښکرو سره په جنګ کښې د هغۀ مدد ونۀ
کړى، کله چې دشمن د ښار محاصره وکړى او د حملې
دپاره د خاورو غونډۍ جوړې کړى د دې دپاره چې ډېر خلق
تباه کړى. ١٨ هغۀ د لوظ په ماتولو سره د قسم سپکاوے
وکړو، ځکه چې هغۀ د لوظ دپاره خپل لاس ورکړو او اوس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې دا ټول کارونه وکړل نو هغه به بچ نهٔ شی. ۱۹ نو په دې
وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زما دې په
خپل ذات قسم وی، چې هغهٔ زما لوظ مات کړو او زما قسم
ته يې سپک وکتل نو زهٔ به د خپل هغه قسم نقصان د هغهٔ په
سر راولم. ۲۰ زهٔ به د هغهٔ دپاره خپل جال خور کړم، او
هغه به زما په دام کښې راګير شی. زهٔ به هغه بابل ته راولم او
خپل قضاوت به هلته په هغهٔ باندې وکړم ځکه چې هغه ما
سره بې‌وفائی وکړه. ۲۱ د هغهٔ د ټولو نه تکړه فوجيان به په
تُوره مړهٔ شی. او بچ پاتې شوی به په هوا کښې خوارهٔ شی. نو
بيا به تهٔ په دې پوهه شې چې ما مالِک خُدائ دا فرمائيلی
دی.“

## د خُدائ پاک د اُميد وعده

۲۲ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”زهٔ به په
خپله د دِيار د لوړې څوکې نه يوه څانګه راواخلم او هغه به
وکرم، زهٔ به يوه نازکه څانګه د يو لوَړ دِيار د څوکې نه راپرې
کړم او هغه به په يو لوړ او اوچت غر وکرم. ۲۳ زهٔ به يې د
اِسرائيل په اوچتو غرونو وکرم، هغه به څانګې وکړی او مېوه
به ونيسی او هغه به يو شاندار دِيار شی. هر قسمه مرغۍ به په
کښې جالې جوړې کړی، او هغوئ به د دې د څانګو سورې
کښې پناه اخلی. ۲۴ په زمکه کښې ټولې ونې به په دې پوهه
شی چې زهٔ مالِک خُدائ لوړه ونه لاندې کوم او ټيټه ونه زهٔ
لوړه کړم. زهٔ شنه ونه اوچوم او اوچه ونه زهٔ تازه او شنه
کوم. ما مالِک خُدائ داسې وفرمائيل او زهٔ به داسې وکړم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# هر څوک د خپلې ګناه ذمه وار دے

۱۸ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”ستاسو
خلقو د اِسرائيل د مُلک په حقله د دې متل د وئيلو نه څۀ
مطلب دے چې وائى، تراوۀ انګور يې پلار وخوړل، او
غاښونه يې د بچو په برېښ شُو؟ ۳ زما دې په خپل ذات
قسم وى مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى چې، تاسو به په
اِسرائيل کښې نور دا متل ونۀ کړئ. ۴ ځکه چې هر ژوندے
ځان زما دے، پلار او د هغۀ زوئ دواړه يو شان زما دى.
څوک چې ګناه وکړى هم هغه به مړ کيږى. ۵ کۀ يو صادق
سړے هغه څۀ کوى څۀ چې صحيح وى او د اِنصاف په
مطابق وى. ۶ نۀ هغه د غرونو دپاسه په بُت‌خانو کښې
خوراک کوى او نۀ د بنى اِسرائيلو د قوم د بُتانو عبادت کوى
او نۀ هغۀ د خپل ګاونډى د ښځې سره زنا کوى، او نۀ د
ماهوارۍ په دوران کښې د ښځې سره کوروالے کوى. ۷
هغه په هيچا باندې ظلم نۀ کوى، او په امانت کښې خيانت نۀ
کوى او هغه پوره واپس کوى. هغه غلا نۀ کوى، خو خپل
خوراک په غريبانانو تقسيموى او بربنډو له جامې ورکوى.
۸ هغه قرض د سود دپاره نۀ ورکوى او ناروا ګټه هم نۀ
کوى، بدو کارونو نه ځان ساتى او د دوو کسانو په لانجه
کښې د صحيح اِنصاف فيصله کوى. ۹ هغه زما د قانون
پيروى کوى او په وفادارۍ سره زما قانون منى، هم دا کس
صادق دے هغه به په يقين سره ژوندے پاتې شى، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائى. ۱۰ نو بيا فرض کړئ چې د دۀ يو
ظالم زوئ دے چې هغه قتل و غارت او نور داسې خراب
کارونه هم کوى، ۱۱ پلار يې داسې کارونه نۀ وُو کړى چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوئ یې کوی. هغه د غرونو دپاسه په بُتخانو کښې هم
خوراک کوی او د خپل ګاونډی د ښځې سره زنا هم کوی.
١٢ هغه په غریبانانو او ضرورتمندو ظلم کوی او غلاګانې
کوی. او هغه چې ضمانت واخلی بیا یې نهٔ واپس کوی، او
هغه د بُتانو عبادت کوی او حرامکاری کوی. ١٣ هغه په
سود پیسې ورکوی او ډېره زیاته ګټه اخلی. آیا داسې کس به
ژوندے پاتې شی څهٔ؟ نه هغه به پاتې نهٔ شی. ځکه چې هغهٔ دا
ټول حرام کارونه وکړل، په یقین سره هغه به مړ شی او د هغهٔ
خون به د هغهٔ د خپلې غاړې وی. ١۴ خو فرض کړئ چې د
دې زوئ یې یو زوئ وی ځوک چې د خپل پلار ټول ګناهونه
وینی، کهٔ څهٔ هم چې هغه دا وینی خو بیا هم هغه د خپل پلار
غوندې کارونه نهٔ کوی. ١۵ هغه په غرونو د بُتخانو خوراک
نهٔ خوری، او نهٔ د بنی اِسرائیل د قوم د بُتانو عبادت کوی، او
نهٔ هغه د خپل ګاونډی د ښځې سره زنا کوی. ١۶ هغه نهٔ په
چا ظلم کوی، او په امانت کښې خیانت نهٔ کوی، هغه غلا نهٔ
کوی خو خپل خوراک په غریبانانو تقسیموی او بربنډو له
جامې ورکوی. ١٧ هغه خپل لاس په بدو کارونو نهٔ پلیتوی
او سود نهٔ اخلی او په ګټه پیسې نهٔ ورکوی، هغه زما په
شریعت عمل کوی او زما د تعلیماتو پیروی کوی. داسې
سړے به د خپل پلار د ګناه په وجه مړ نهٔ شی، یقیناً به هغه
ژوندے پاتې شی. ١٨ بلکې د هغهٔ پلار به ضرور د خپلو
ګناهونو دپاره مړ شی، ځکه چې هغهٔ ظلم کولو، د خپلو
ورونړو نه یې غلا کوله او هغه کارونه یې کول کوم چې د هغهٔ
د قوم په مینځ کښې غلط وُو. ١٩ خو بیا تاسو تپوس کوئ
چې زوئ یې ولې د خپل پلار په جرم کښې شریک نهٔ دے؟
ځکه چې زوئ یې هغه څهٔ کړی دی څهٔ چې صحیح دی او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِنصاف په مطابق دى او زما په حکمونو په وفادارۍ سره
عمل کوى، هغه به يقيناً ژوندے پاتې شى. ۲۰ کوم کس چې
ګناه وکړى هم هغه کس به مړ شى. زوئ به د پلار په ګناه نۀ
شى نيولے، او نۀ به پلار د زوئ په ګناه کښې نيولے شى. د
صادق انسان صداقت به هغۀ ته په نيکۍ کښې حساب شى،
او بدعمله ته به د بدعملۍ سزا مِلاو شى. ۲۱ خو کۀ يو
بدعمله کس د خپلو ټولو ګناهونو نه مخ واړوى کوم چې هغۀ
کړى دى او زما په ټول قانون عمل وکړى او هغه کارونه
کوى څۀ چې د اِنصاف او صحيح وى، نو په يقين سره به
هغه ژوندے پاتې شى، هغه به مړ نۀ شى. ۲۲ هغه ګناهونه
چې د هغۀ نه شوى دى يو به هم د هغوئ خلاف نۀ حسابوم. د
هغه ښۀ کارونو په وجه کوم چې هغوئ کړى دى، هغوئ به
ژوندى پاتې شى. ۲۳ مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى چې،
ولې تاسو دا سوچ کوئ چې زۀ د شريرانو په هلاکت
خوشحالېږم؟ بلکل نه، زۀ غواړم چې هغه د خپلو خرابو لارو
نه واوړى او ژوندے پاتې شى. ۲۴ خو کۀ چرې يو صادق
انسان د خپلو نيکو کارونو نه واوړى او ګناه وکړى او حرام
کارونه وکړى کوم چې يو بدعمله کس کوى ولې هغه به
ژوندے پاتې شى؟ يو صادق کار به يې هم حساب نۀ شى کوم
چې هغۀ کړى دى. د هغه بې‌ايمانۍ په وجه کومه چې هغۀ
کړې ده او کوم ګناهونه يې چې کړى دى د هغې په بدله کښې
به هغه مړ شى. ۲۵ خو بيا تاسو وايئ چې، د مالِک خُدائ
کارونه د اِنصاف نۀ دى، اے د بنى اِسرائيل قومه، ما ته غوږ
شئ، آيا تاسو دا خيال کوئ چې زما کارونه بې‌اِنصافه دى؟
خو دا ستاسو عملونه دى چې بې‌اِنصافه دى. ۲۶ کۀ چرې
يو صادق انسان خپل صداقت پرېږدى او ګناهونه شروع

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی، هغه به د دې په وجه مړ شی. د هغه ګناهونو په وجه
کوم چې هغهٔ وکړل. ٢٧ خو کهٔ چرې یو بدعمله انسان د
خپلو ګناهونو نه واوړی کوم چې هغهٔ کړی دی او هغه څهٔ
کوی چې صحیح او د اِنصاف په مطابق دی، هغه به خپل
ژوند بچ کړی. ٢٨ کهٔ هغه په خپلو ګناهونو غور وکړی او
هغه پرېږدی کوم چې هغهٔ کړی دی، نو یقیناً به هغه ژوندے
پاتې شی او مړ به نهٔ شی. ٢٩ خو د بنی اِسرائیلو قوم وائی
چې د مالِک خُدائ کارونه د اِنصاف نهٔ دی. اے د بنی
اِسرائیل قومه، ولې زما کارونه بې‌اِنصافه دی؟ ولې ستاسو
کارونه بې‌اِنصافه نهٔ دی؟ ٣٠ نو په دې وجه، اے د بنی
اِسرائیلو قومه، زهٔ به ستاسو د هر یو کس د اعمالو په مطابق
ستاسو عدالت وکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. توبه
وباسئ. د خپلو ټولو ګناهونو نه واوړئ، نو بیا به ګناه ستا د
هلاکت سبب نهٔ وی. ٣١ خپلو ټولو ګناهونو ته شا کړئ کوم
چې تاسو کړی دی، او په خپل ځان کښې نوے زړهٔ او نوے
روح پېدا کړئ. تاسو ولې مړ کېدل غواړئ، اے د بنی
اِسرائیل قومه؟ ٣٢ زهٔ د هیچا په هلاکت نهٔ خوشحالېږم،
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. توبه وباسئ او ژوندی پاتې
شئ.“

## د اِسرائیل د شهزادګانو په حقله مرثیه

١٩ ١ د اِسرائیل د شهزادګانو په حقله دا مرثیه ووایه،
٢ ستا مور د زمرو په مینځ کښې څهٔ تکړه زمرۍ وه، هغه
د ځوانانو زمرو په مینځ کښې پرته وه او خپل بچی یې لوئ
کړل. ٣ هغې خپل یو بچے لوئ کړو، او د هغهٔ نه یو تکړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمرے جوړ شو. هغهٔ د ښکار کولو طريقه زده کړه، او
انسانان يې خوړل. ۴ مُلکونو د هغهٔ په حقله واورېدل، او
هغه يې په کنده کښې ګېر کړو. هغوئ هغه پېزوانى د مِصر
مُلک ته بوتلو. ۵ خو کله چې هغې خپل اُميد نامکمله
وليدلو، د هغې طمع ختمه شوه، هغې خپل بل بچے
راواخستو او د هغهٔ نه يې يو تکړه زمرے جوړ کړو. ۶ هغه
د نورو زمرو په مينځ کښې ډاړه ګرځېدو راګرځېدو، ځکه چې
هغهٔ نه يو تکړه زمرے جوړ شوے وو. هغهٔ د ښکار کولو
طريقه زده کړه، او انسانان به يې هم خوړل. ۷ هغهٔ د
هغوئ قلعې ماتې کړې او د هغوئ ښارونه يې تباه کړل. هغه
مُلک او ټول هغه کسان چې په کښې اوسېدل د هغهٔ د
غړمبېدو نه يرېدل. ۸ نو بيا د هغهٔ نه ګېرچاپېره مُلکونو نه
قومونه د هغهٔ خلاف راغلل. هغوئ خپل جال د هغهٔ دپاره
خور کړو، او هغه د هغوئ په کنده کښې راګېر شو. ۹
هغوئ هغه پېزوانى کړے راښکلو او په پنجره کښې يې بند
کړو او هغه يې د بابل بادشاه له راوستو. هغوئ هغه په
قېدخانه کښې واچولو، ترڅو چې نور د اِسرائيل په غرونو د
هغهٔ غړمبېدل وانهٔ ورېدلے شى. ۱۰ ستاسو مور ستاسو د
انګورو باغ کښې لکه د انګور د بوټى په شان وه چې د اوبو په
سر کَرلے شوې وه. د ډېرو اوبو په وجه هغه مېوه داره او د
څانګو نه ډکه شوه. ۱۱ د هغې څانګې مضبوطې وې، او د
بادشاهانو د امساګانو جوړولو دپاره جوګه وې. دا د نورو
ګڼو بوټو نه ډېره زياته اوچته شوه، او د خپل ګڼوالى او
اوچتوالى په وجه د هر چا په نظر راتله. ۱۲ خو په غصه
کښې دا د جرړو نه راوويستلے شوه او په زمکه وغورزولے
شوه. د مشرق هواګانو دا مړاوې کړه، دا د مېوو نه خالى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه، د دې مضبوطې څانګې وچې شوې، او اور هغه
وسوزولې. ١٣ نو اوس دا په بيابان کښې په اوچه او تږې
زمکه کښې وکرلے شوه. ١٤ اور د دې د يو خاص څانګې
نه خور شو، او د دې مېوه يې وسوزوله. يوه مضبوطه څانګه
په کښې پاتې نۀ شوه چې د بادشاه د امسا جوړولو جوګه
وى. دا د غم يوه مرثيه ده، او د مرثيه په توګه استعمال شوې
ده.

## سرکشه بنى اِسرائيل

٢٠ ١ د اوۀم کال، د پينځمې مياشتې په لسمه ورځ، د
اِسرائيل يو څو مشران راغلل او زما په وړاندې کښېناستل او
د خپل ځان په حقله يې زما نه د مالِک خُدائ د پېغام تپوس
وکړو. ٢ نو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ٣
”اے بنى آدمه، د اِسرائيل د مشرانو سره خبرې وکړه او ورته
ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، آيا تاسو
راغلى يئ چې زما نه معلومات حاصل کړئ؟ زما دې په خپل
ذات قسم وى، زۀ به تاسو ته معلومات درنۀ کړم. قادر مطلق
مالِک خُدائ فرمائى. ٤ اے بنى آدمه، ولې تۀ غواړې چې د
هغوئ عدالت وکړې؟ نو کۀ تۀ داسې کوې نو بيا هغوئ ته د
هغوئ د پلار نيکۀ حرام کارونه وروښايه. ٥ او هغوئ ته
ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، په کومه
ورځ چې ما بنى اِسرائيل غوره کړل، ما د يعقوب د اولاد سره
قسم وکړو او خپل ځان مې هغوئ ته په مِصر کښې ښکاره
کړو. په قسم سره ما هغوئ ته وفرمائيل، زۀ ستاسو مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک یم. ۶ په هغه ورځ ما هغوئ سره قسم وکړو
چې زۀ به هغوئ د مِصر نه هغې زمکې ته راولم کومه چې ما
هغوئ دپاره خوښه کړې ده، هغه زرخیزه مُلک ته کوم چې د
ټولو مُلکونو نه ډېر ښکلے دے. ۷ او ما هغوئ ته ووئیل
چې، تاسو ټول هغه پلیت بُتان د خپلې مخې نه اخوا کړئ
کوم چې تاسو د خپلو سترګو د وړاندې اېښې دی، او خپل
ځانونه د مِصر په بُتانو مۀ پلیتوئ. زۀ ستاسو مالِک خُدائ
یم. ۸ خو هغوئ زما خلاف سرکشی وکړه او ما ته یې غوږ
ونۀ نیولو، او یو هم د خپلو بُتانو نه لاس وانۀ خستو په کومو
چې د هغوئ توجو وه، او نۀ هغوئ د مِصر بُتان پرېښودل. بیا
ما ووئیل، زۀ به خپل غضب په هغوئ نازل کړم او زۀ به
خپله غصه د هغوئ خلاف په مِصر کښې سړه کړم. ۹ خو
بیا، د دې په وجه ما د خپل نوم د خاطره هغه څۀ وکړل څۀ
چې به هغوئ د هغه قومونو د وړاندې د سپکوالی نه وساتی د
چا په مینځ کښې چې دوئ اوسېدل او د چا په وړاندې چې ما
خپل ځان بنی اِسرائیلو ته د مِصر نه په راویستلو ښکاره
کړو. ۱۰ نو په دې وجه هغوئ ما د مِصر نه راوویستل او
بیابان ته مې راوستل. ۱۱ ما هغوئ له خپل حُکمونه ورکړل
او خپل قانون مې هغوئ ته وښودلو، هر څوک چې په دې
عمل کوی نو هغوئ به ژوندی پاتې شی. ۱۲ ما ورته د سبت
ورځ هم ورکړه چې دا زمونږ دواړو په مینځ کښې د لوظ نښه
وی، نو چې هغوئ په دې پوهه شی چې ما مالِک خُدائ دوئ
مقدس کړی دی. ۱۳ خو د بنی اِسرائیلو خلقو په صحرا
کښې هم زما خلاف سرکشی وکړه. هغوئ زما په حکمونو
عمل ونۀ کړو او زما شریعت یې رد کړو، او دا چې چا هم په
دې عمل وکړو هغه به په دې ژوندی پاتې شی. خو هغوئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکاره توګه زما د سبت بې‌عزتي وکړه. نو ما وفرمائيل چې
زۀ به خپل قهر او غضب په دوئ نازل کړم او هغوئ به په
صحرا کښې تباه کړم. ۱۴ بلکې د خپل نوم دپاره ما هغه څۀ
وکړل څۀ چې به هغه د هغه قومونو د سترګو د وړاندې د
سپکوالی نه وساتی چا چې زۀ وليدلم چې ما هغوئ بهر
راوويستل. ۱۵ خو بيا په صحرا کښې ما دوئ سره قسم
وکړو چې زۀ به هغوئ هغه مُلک ته رانۀ ولم کوم چې ما دوئ
له ورکړے دے هغه مُلک چې زرخيزه دے، چې د ټولو
مُلکونو نه ډېر ښکلے دے، ۱۶ په دې وجه چې هغوئ زما
شريعت رد کړو او زما د حکمونو پيروی يې ونۀ کړه او زما
د سبت سپکاوے يې وکړو. ځکه چې د هغوئ زړونه خپلو
بُتانو ته وقف شوی وُو. ۱۷ خو بيا هم ما دوئ ته د رحم په
سترګه وکتل او تباه مې نۀ کړل او نۀ مې هلته په صحرا کښې
ختم کړل. ۱۸ ما د هغوئ بچو ته په صحرا کښې وفرمائيل
چې، د خپل پلار نيکۀ د رِواج پيروی مۀ کوئ او مۀ د هغوئ
په قانون عمل کوئ او مۀ د هغوئ په بُتانو خپل ځان پليتوئ.
۱۹ زۀ مالِک ستاسو خُدائ پاک يم. زما د حکمونو
پيروی وکړئ او په غور سره زما په قانون عمل وکړئ. ۲۰
زما د سبت ورځ مقدسه وساتئ، ځکه چې دا به زمونږ دواړو
په مينځ کښې د لوظ نښه وی. نو تاسو به په دې پوهه شئ چې
زۀ مالِک ستاسو خُدائ پاک يم. ۲۱ خو د هغوئ اولاد زما
خلاف سرکشي وکړه، او هغوئ زما د سبت سپکاوے وکړو.
هغوئ زما د حکمونو پيروی ونۀ کړه، او زما د قانون په
ساتلو يې غور ونۀ کړو. چا چې د دې تابعداری وکړه نو په
دې به ژوندی پاتې شی. بيا ما وفرمائيل چې، زۀ به په هغوئ
خپل قهر نازل کړم او خپله غصه به په هغوئ په صحرا کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره کړم. ۲۲ خو ما خپل لاس ترې ونیولو، بلکې د خپل
نوم د خاطره ما هغه څهٔ وکړل څهٔ چې به هغه د هغه قومونو
د سترګو د وړاندې د سپکوالی نه وساتی چا چې زهٔ ولیدلم
چې ما هغوئ بهر راوویستل. ۲۳ خو ما هم په صحرا کښې
دوئ سره قسم وخوړلو چې زهٔ به هغوئ په نورو قومونو او
مُلکونو کښې خوارهٔ کړم، ۲۴ ځکه چې هغوئ زما قانون ونهٔ
منلو بلکې د منلو په ځائ يې رد کړو او زما د سبت
بې‌حرمتی يې وکړه، او د هغوئ سترګې د هغوئ د پلار نيکهٔ
بُتانو ته وې. ۲۵ ما هغوئ فضول قانون او اصُولو ته حواله
کړل کوم چې د ژوند طرف ته نهٔ وُو روان. ۲۶ ما هغوئ
پرېښودل چې خپل ځانونه بُتانو ته په نذرانې پېش کولو سره
پليت کړی تر دې چې خپل مشران زامن هم ورته قربان
کړی، نو په دې کار سره به زهٔ هغوئ حق حېران کړم تر دې
چې هغوئ به په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۲۷ نو
په دې وجه اے بنی آدمه، د بنی اِسرائيلو سره خبرې وکړه او
هغوئ ته ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، هم داسې ستاسو پلار نيکهٔ هم کُفر وکړو او ما سره يې
غداری وکړه. ۲۸ کله چې هغوئ ما هغه مُلک ته راوستل
کوم چې ما د هغوئ سره د ورکولو وعده کړې وه نو هرکله
چې به هغوئ اوچتې غونډۍ يا شنې ونې وليدلې، نو بيا به
هلته هغوئ خپلې قربانۍ پېش کولې، هغوئ داسې قربانۍ بُتانو
ته کولې چې زهٔ يې په قهر کړم، او هغوئ هلته خپلې د
خوشبويانو قربانۍ، او د څښلو نذرانې پېش کړې. ۲۹ ما بيا
هغوئ ته وفرمائيل، نو دا کوم اوچت ځائ دے چرته چې
تاسو ځئ؟ تر نن ورځې پورې ورته بامه يعنې اوچت ځائ
وائی. ۳۰ په دې وجه د بنی اِسرائيلو قوم ته ووايه، مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې ولې تاسو خپل ځانونه
پلیتوئ لکه څنګه چې ستاسو پلار نیکۀ کړی وُو او د هغه
ناپاکه بُتانو سره په زنا کولو خپل ځانونه ګمراه کوئ؟ ۳۱
کله چې تاسو خپلې نذرانې پېش کړئ او خپل زامن په اور
قربانی کړئ او تاسو خپل ځانونه تر نن ورځې پورې په خپلو
ټولو بُتانو پلیتوئ، نو ولې زۀ تاسو، اے د بنی اِسرائیلو قومه،
پرېږدم چې زما په حقله معلومات وکړئ؟ زما دې په خپل
ذات قسم وی، قادر مطلق خُدائ فرمائی، زۀ به تاسو پرې نۀ
ږدم چې زما معلومات وکړئ. ۳۲ تاسو وایئ چې مونږ
غواړو چې د دُنیا د هغه نورو قومونو په شان ژوند تېر کړُو،
څوک چې د لرګو او د کاڼو د بُتانو عبادت کوی. خو ستاسو
په ذهن کښې چې څۀ دی هغه به کله هم پوره نۀ شی.“

## د مالِک خُدائ سزا او معافی

۳۳ ”زما دې په خپل ذات قسم وی مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی، زۀ به په مضبوطو لاسونو سره په تاسو حکومت
وکړم او خپل لاس به دراوږد کړم او خپل غضب به په تاسو
نازل کړم. ۳۴ زۀ به په خپل زورَور او غزېدلی لاس او
راپارېدلی غضب سره تاسو د هغه مُلکونو نه واپس راولم
کومو ته چې تاسو خوارۀ وارۀ شوی وئ. ۳۵ زۀ به تاسو د
قومونو بیابان ته راولم او هلته به زۀ تاسو سره مخامخ شم او
ستاسو عدالت به وکړم. ۳۶ لکه څنګه چې ما ستاسو د پلار
نیکۀ د مِصر په بیابان کښې عدالت کړے وو، نو هم هغه شان
به زۀ ستاسو عدالت وکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.
۳۷ چې زۀ به ستاسو سره حساب کوم چې تاسو خپل لوظ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوره کړې دے کۀ نه. ۳۸ زۀ به تاسو د هغه خلقو نه راچاڼ
کړم څوک چې زما خلاف ګناه او سرکشي کوی. اګر کۀ زۀ
به هغوئ د هغه مُلک نه راوباسم چرته چې هغوئ اوسیږی
خو هغوئ به د بنی اِسرائیلو په مُلک کښې داخل نۀ شی. بیا
به تاسو پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم. ۳۹ تر څو پورې
چې ستاسو خبره ده اے د بنی اِسرائیلو قومه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی، تاسو ټول لاړ شئ او د خپلو بُتانو
عبادت وکړئ، خو د دې نه وروستو به تاسو په یقین سره ما
ته غوږ ونیسئ او په خپلو نذرانو او د بُتانو په وجه به نور زما
د مقدس نوم سپکاوے نۀ کوئ. ۴۰ زما په مقدس غر، د بنی
اِسرائیلو په اوچت غر، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، هلته
په هغه مُلک کښې د بنی اِسرائیلو ټول قوم به زما عبادت
وکړی، او هلته به زۀ هغوئ قبول کړم. او هلته به زۀ ستاسو
نه نذرانې او غوره تحفې او ستاسو ټولې مقدسې قربانۍ
وغواړمه. ۴۱ زۀ چې کله تاسو د هغه مُلکونو نه واپس راولم
او د هغه مُلکونو نه مو راغونډ کړم کومو ته چې تاسو خوارۀ
وارۀ شوې وئ، نو زۀ به تاسو د ښکلې خوشبو په شان قبول
کړم، او زۀ به خپل ځان ستاسو په مینځ کښې او د نورو
قومونو په نظر کښې مقدس څرګند کړم. ۴۲ نو تاسو به
پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم کله چې زۀ تاسو د بنی
اِسرائیلو مُلک ته واپس راولم، هغه مُلک ته چې ما په اوچتو
لاسونو ستاسو پلار نیکۀ ته د ورکولو قسم کړے وو. ۴۳ نو
هلته به تاسو ته خپل ټول چال چلن او عملونه دریاد شی د
کومو په کولو چې تاسو خپل ځان پلیت کړے دے، او د
خپل ځان نه به نفرت کوئ د هغه اعمالو په وجه کوم چې
تاسو کړی دی. ۴۴ تاسو به په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ یم، اے د بنی اِسرائیلو قومه، کله چې زۀ تاسو سره د
خپل نوم د خاطره نرم سلوک وکړم او ستاسو د خرابو
کارونو او ستاسو د غلطو اعمالو په مطابق سلوک ونۀ کړم،
مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی."

## د جنوب خلاف پېشګوئي

۴۵ نو بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۴۶ "اے
بنی آدمه، د جنوب خوا ته وګوره، د جنوب خلاف تبلیغ
وکړه او د جنوبی مُلک د ځنګلو په خلاف پېشګوئي وکړه.
۴۷ جنوبی ځنګل ته ووایه، د مالِک خُدائ کلام واورئ،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زۀ اوس په تاسو
باندې اور لګوم، او دا به ستا ټولې شنې او وچې ونې
وسوزوی. دا د اور لمبې به مړې نۀ شی، او د جنوب نه د
شمال پورې ټول مخونه به د دې په لمبو وسوزی. ۴۸ هر یو
به یې وګوری چې ما مالِک خُدائ دا اور لګولے دے، دا به
مړ نۀ شی." ۴۹ بیا ما وفرمائیل چې، "اے مالِکه قادر مطلق
خُدایه، هغوئ زما په حقله وائی چې، ولې هغه هسې متلونه نۀ
وائی؟"

## د مالِک خُدائ د عدالت تُوره

۲۱ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ "اے
بنی آدمه، د یروشلم په خلاف خپل مخ راواړوه او د هغوئ د
مقدسو ځایونو خلاف بیان وکړه. او د بنی اِسرائیلو د مُلک
خلاف پېشګوئي وکړه. ۳ او هغوئ ته ووایه چې مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ فرمائی، زۀ ستاسو خلاف يم. زۀ به خپله تُوره د کاش
نه راوباسم او ستاسو نه به صادقان او بدعمله دواړه ختم
کړم. ۴ ځکه زۀ صادقان او ګناهګاران دواړه وژنم، زما
تُوره به د کاش نه د جنوب نه د شمال پورې د هر چا خلاف
راوويستلے شی. ۵ بيا به ټول خلق په دې باندې پوهه شی
چې ما مالِک خُدائ خپله تُوره د کاش نه راويستې ده. دا به
بيا واپس نۀ شی. ۶ نو په دې وجه اے بنی آدمه، زبيرګی
کوه، په مات زړۀ او سختو دردونو سره د هغوئ په وړاندې
سوال زاری وکړه. ۷ او کله چې هغوئ تا نه تپوس وکړی
چې تۀ ولې زبيرګی کوې؟ نو هغوئ ته ووايه چې د هغه خبر
په وجه چې راتلونکے دے. هر يو سخت زړۀ به نرم شی او
هر يو لاس به شل شی، هر يو روح به ودريږی او هره يوه
ګوډه به د يرې نه په ريږدان شی. دا راتلونکی دی، دا به په
يقين سره وشی، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“ ۸ د
مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۹ ”اے بنی آدمه،
پېشګوئي وکړه او خلقو ته ووايه، مالِک خُدائ داسې فرمائی
چې، يوه تُوره تيره شوې او پالش شوې ده. ۱۰ دا د قتل و
غارت دپاره تيره شوې ده، داسې پالش شوه چې د برېښنا په
شان ځليږی. نو آيا اوس به خوشحاله شې څۀ؟ هغوئ څوک
چې ستاسو نه ډېر زيات زورَور وُو د دې تُورې لاندې راغلل.
۱۱ ما تُوره چا له ورکړې ده چې تيره يې کړی. اوس دا تيره
ده، چمکداره ده او تياره ده چې قاتل ترينه کار واخلی. ۱۲
اے بنی آدمه، وير او ژړا وکړه، ځکه دا زما د خلقو خلاف
ده، دا د بنی اِسرائيلو د ټولو شهزادګانو خلاف ده. هغوئ زما
خلقو سره يوځائ د تُورې خولې ته وغورزولے شول. نو په
دې وجه خپلې سينې ووهئ. ۱۳ دا به هغوئ ټول په آزميښت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې واچوی، نو دوئ سره به د خلاصون لار نۀ وی؟“ مالِک
قادر مطلق خُدائ فرمائی. ۱۴ ”نو بیا اے بنی آدمه، نبوت
وکړه او خپل لاسونه وپړقوه او زما تُوره به دوه ځله بلکې
درې ځله ووهی. دا تُوره د تباهئ دپاره ده او دا تُوره د لوئ
قتل و غارت دپاره ده چې د هرې خوا نه به هغوئ راګېر
کړی. ۱۵ تر دې چې هغوئ د يرې نه خپل زړونه بائيلی او
راوغورزيږی، ما د هغوئ په ټولو دروازو کښې تُوره د دوئ د
وژلو دپاره مقرر کړې ده. افسوس، هغه داسې جوړه شوې ده
چې لکه د برېښنا په شان پړقيږی، او دا د قتلولو دپاره
راخستلے شوې ده. ۱۶ اے تُورې، ښی طرف او بیا ګس
طرف ته، او هرې خوا چې ستا مخ تاويږی وځيره. ۱۷ زۀ
به هم خپل لاسونه وپړقوم او زما غضب به سوړ شی. ما
مالِک خُدائ داسې وفرمائيل.“

## د بابل بادشاه تُوره

۱۸ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۹ ”اے بنی آدمه،
د بابل بادشاه د تُورې دپاره دوه لارې په ګوته کړه چې په
هغې لاړه شی، چې دواړه د يو ښار نه شروع شی. هلته کښې
نښه جوړه کړئ چرته چې ښار ته خپلو کښې لارې جدا
کيږی. ۲۰ د تُورې دپاره يوه لاره په ګوته کړئ چې د
عمونيانو د ربه ښار خلاف راشی او بله د يهوداه او د يروشلم
پوخ ښار خلاف راشی. ۲۱ ځکه چې د بابل بادشاه به په هغه
ځائ کښې چرته چې نښه شوې ده چې لارې جدا کيږی
ودريږی چرته چې لارې دوه شوې دی، نو په دې وخت کښې
به د خپل قسمت فال وګوری، هغه به په غشو سره ځان دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فال معلوم کړی، او د خپلو بُتانو سره به مشوره وکړی، هغه
به د ځاروو اينه معائنه کړی چې هغه کوم طرف ته لاړ شی.
۲۲ نو د هغهٔ په ښی لاس کښې به فال د يروشلم دپاره راشی،
چرته چې به هغه د دېوالونو غورزولو مشين ولګوی، هغه به د
قتل و غارت حکم ورکړی، او د جنګ آوازونه به وکړی، او د
دروازو خلاف به د ماتولو مشينرى ولګوی، حصارونه به
جوړ کړی او د محاصره کولو دپاره به د خاورو ډېرى جوړ
کړی. ۲۳ دا به د هغوئ دپاره د دروغو فال ښکاری چا چې
هغهٔ سره د امن قَسم کړے دے، خو هغه به هغوئ ته خپله
ګناه ورياده کړی او هغوئ به ونيولے شی. ۲۴ نو په دې
وجه قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ځکه چې تاسو بيا بيا
خپل قصورونه ما ته رايادوئ او تر دې چې هغه په ښکاره
توګه سر ته رسوئ او په هر کار کولو کښې ستاسو ګناهونه
ليدلے کيږی نو په داسې کولو به تاسو ونيولے شئ. ۲۵ اے
د بنی اِسرائيلو بېدينه او بدکاره شهزاده، ستا وخت پوره
شوے دے، او د چا ورځې چې راغلې دی، د چا د سزا
وخت چې پوره شوے دے. ۲۶ مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، خپل پټکے ښکته کړه او خپل تاج اخوا
کړه. هر څهٔ به داسې نهٔ وی څنګه چې مخکښې وُو، عاجز به
اوچت کړے شی او اوچت به عاجز کړے شی. ۲۷ کنډر،
کنډر، زهٔ به ښار کنډر کړم. دا به بيا په خپل حال نهٔ شی
ترڅو چې هغه رانهٔ شی د چا چې دا حق دے چې فيصله پرې
وکړی. چا ته به چې زهٔ دا مُلک ورکړم.“

## د خُدائ پاک تيره شوې تُوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ ”او تهٔ اے بنی آدمه، نبوت وکړه او ووايه چې، مالِک
قادر مطلق خُدائ د عمونيانو او د هغوئ د گستاخئ کولو په
حقله فرمائی چې، تُوره د حلالېدو دپاره راوويستلے شوه،
هغه د قتلولو دپاره پالش کړے شوه او لکه د برېښنا ځلېږی.
۲۹ هغوئ ستاسو په حقله غلطې روياگانې بيانوی او ستاسو
په حقله د دروغو پېشگوئې کوی، دا به د بدکارو په غاړو پرته
وی ځوک چې به قتل کړے شی، د چا ورځې چې راغلې دی،
د چا د سزا وخت چې پوره شوے دے. ۳۰ تُوره په خپل
کاش کښې واپس واچوه. په کوم ځائ کښې چې تهٔ پېدا
شوے يې، ستا د پلار نيکهٔ په مُلک کښې، زهٔ به ستا عدالت
وکړم. ۳۱ زهٔ به خپل غضب په تاسو نازل کړم او د خپلې
غصې اور له به ستاسو خلاف پوکے ورکړم، زهٔ به تاسو
قاتلانو او هغه کسانو ته حواله کړم چې په تباهئ کښې ماهر
وی. ۳۲ تهٔ به د اور دپاره خشاک يې، ستا وينه به ستا په
مُلک کښې تويه شی، تهٔ به نور ياد نهٔ کړے شې، ځکه چې ما
مالِک خُدائ داسې وفرمائيل.“

## د يروشلم گناهونه

۲۲ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، ولې تهٔ به د هغهٔ عدالت وکړې؟ ولې تهٔ به د دې
خونی ښار عدالت وکړې؟ نو بيا هغوئ ته د هغوئ ټول حرام
کارونه مخامخ کړه. ۳ او ورته ووايه چې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، اے ښاريې ځوک چې په
خپل مينځ کښې د وينې تويولو په وجه په خپل ځان مرگ
نازلوی او د بُتانو جوړولو په وجه خپل ځان پليتوی. ۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه وینه چې تا تویه کړه د هغې په وجه تهٔ ګناه ګار شوې
او د هغه بُتانو په وجه تهٔ پلیت شوې کوم چې تا جوړ کړل. تا
خپل ژوند لنډ کړو، او تا خپل عمر ختم کړو. نو په دې وجه
زهٔ به تا نورو قومونو ته د خندا مثال کړمه او په ټولو مُلکونو
کښې به دې د مسخرو کړم. ۵ ځوک کهٔ نزدې دی او کهٔ
لرې وی، اے بدنامې او د فساد نه ډکې ښارېې، په تا پورې به
خندا کوی. ۶ وګوره، د بنی اِسرائیلو هر یو مشر ځوک
چې په تا کښې اوسیږی خپل ټول زور طاقت د وینې تویدو
دپاره استعمالوی. ۷ په تا کښې هغوئ د خپل پلار او مور
سپکاوے وکړو، په تا کښې هغوئ په مسافرو ظلم وکړو او په
کونډو او یتیمانو یې زور زبردستی وکړه. ۸ تاسو زما د
مقدسو څیزونو سپکوالے وکړو او زما د سبت بےحرمتی مو
وکړه. ۹ په تا کښې تهمت لګوونکی خلق دی چې وینې
تویوی، په تا کښې هغوئ دی چې د غرونو دپاسه عبادتخانو
کښې خوراک کوی او غلط کارونه کوی. ۱۰ په تا کښې
هغوئ دی چې د خپل پلار د کټ بےحرمتی کوی، په تا کښې
هغوئ دی چې د ښځو سره په ماهوارۍ کښې څملی، کله چې
هغوئ په شرعی توګه پاکې نهٔ وی. ۱۱ په تا کښې داسې
سړی دی چې د خپل ګاونډی د ښځې سره زنا کوی، د خپلې
اِنږور سره زنا کوی، او د خپلې خور سره د خپل پلار د لور
سره زنا کوی. ۱۲ په تا کښې خلق په پیسو مرګونه کوی،
تاسو سود کوئ او ډېره زیاته ګټه اخلئ، او د خپلو ګاونډیانو
نه ناجائزه ګټه کوئ. تاسو زهٔ هېر کړے یم، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائی. ۱۳ زهٔ به په یقین سره خپل لاسونه
ستاسو خلاف وپړقوم په هغه ناجائزو ګټو چې تاسو کړې دی
او په هغه وینه چې تاسو په خپل مینځ کښې تویه کړې ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ولې تاسو به په هغه ورځ دومره زړَور يئ يا ستاسو په
متو کښې به دومره زور وى کله چې زهٔ تاسو سره دا معامله
کوم؟ ما مالِک خُدائ وفرمائيل او زهٔ به داسې وکړم. ۱۵ زهٔ
به تاسو د نورو قومونو او مُلکونو په مينځ کښې خوارهٔ وارهٔ
کړم، او زهٔ به تاسو د پليتئ نه پاک کړم. ۱۶ کله چې تهٔ د
نورو قومونو په وړاندې خپل ځان وشرموې نو تهٔ به بيا په دې
پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## د مالِک خُدائ د صفا کولو بټۍ

۱۷ بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۸ ”اے
بنى آدمه، د بنى اِسرائيلو قوم زما دپاره د هغه ګند په شان
شو، چې د تانبې، ټيم، اوسپنې او سيکې د ګرمولو نه وروستو
په بټۍ کښې پاتې شى. دوئ لکه د سپينو زرو د پاتې شوى
ګند په شان دى. ۱۹ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائى، ځکه چې تاسو ټولو نه پاتې شوے ګند جوړ
شوے دے، نو زهٔ به تاسو يروشلم ته راټول کړم. ۲۰ لکه
څنګه چې خلق سپين زر، تانبه، اوسپنه، سيکه او ټيمان
راټولوى او په بټۍ کښې يې په تيز اور ويلى کوى، نو هم داسې
به زهٔ تاسو خپل قهر او غضب کښې راټول کړم او په ښار
کښې دننه به مو واچوم او ويلى به مو کړم. ۲۱ زهٔ به تاسو
راټول کړم او زهٔ به خپل يرووونکے غضب په تاسو نازل کړم،
او تاسو به په هغې کښې دننه ويلى شئ. ۲۲ لکه څنګه چې
سپين زر په بټۍ کښې ويلى کيږى، نو دغه شان به تاسو په
هغې کښې دننه ويلى شئ، او تاسو به پوهه شئ چې ما، مالِک
خُدائ په تاسو خپل قهر او غضب نازل کړے دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د بنی اِسرائیلو د مشرانو ګناهونه

۲۳ بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲۴ ”اے بنی
آدمه، دې مُلک ته ووایه چې، تهٔ هغه مُلک یې چې لا پاک
شوے نهٔ یې، په تا د غضب په ورځو کښې باران ونهٔ شو.
۲۵ د هغهٔ سازش کوونکی شهزادګان د هغه غړمبېدونکو
زمرو په شان دی چې خپل ښکار په مینځ شلوی، هغوئ
انسانان خوری، هغوئ مال دولت او قیمتی څیزونه چور
کوی او د دې ډیرې ښځې کونډې کوی. ۲۶ د هغهٔ اِمامان
زما شریعت ماتوی او زما د مقدسو څیزونو بےحرمتی کوی،
هغوئ د مقدسو څیزونو او د عامو څیزونو په مینځ کښې فرق
نهٔ کوی، او هغوئ د پاکو او پلیتو په مینځ کښې د فرق کولو
تعلیم نهٔ ورکوی، او هغوئ زما د سبت په ساتلو باندې خپلې
سترګې پټوی، نو زهٔ د هغوئ په مینځ کښې سپک شوے یم.
۲۷ د هغهٔ سرکاری آفسران لکه د لیوانو په شان خپل ښکار
شلوی، هغوئ وینه تویوی او خلق وژنی چې بےاِنصافه ګټه
وکړی. ۲۸ د هغې نبیان په غلطو رویاګانو او دروغژنو
پیشګویو سره د هغوئ دا کارونه صفا کوی. هغوئ وائی چې،
دا مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی، خو په حقیقت کښې
مالِک خُدائ دا نهٔ وی فرمائیلی. ۲۹ د هغه مُلک خلق
زیاتے کوی او غلا کوی، هغوئ په غریبانانو او محتاجو
خلقو ظلم کوی، او د مسافرو سره بد سلوک کوی او د
هغوئ حق نه اِنکار کوی. ۳۰ ما د هغوئ په مینځ کښې د یو
داسې کس لټون کولو چې د دیوال مرمت وکړی او په وران
شوی ځائ لکه د دیوال په شان ودریږی د هغه مُلک دپاره
ودریږی چې زهٔ یې تباه نهٔ کړم، خو ما څوک هم پیدا نهٔ کړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ نو زۀ به په هغوئ خپل غضب رانازل کړم او هغوئ به په
خپل سخت قهر کښې وسوزوم، او هر هغه څۀ به د هغوئ په
خپل سر راولم څۀ چې هغوئ کړی دی. مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی.“

## دوه زناکارې خوېندې

۲۳ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، دوه ښځې وې چې د يوې مور لوڼه وې. ۳ هغوئ
په مِصر کښې کنجرې جوړې شوې، او په پېغلتوب کښې يې
پردو سړو ته د خپلو سينو سره د لوبو کولو اجازت ورکړو.
۴ د مشرې نامه اوحوله وه، او د هغې د خور نامه
اوحوليبه وه. هغوئ زما وې او زامن او لوڼه يې راوړل. د
اوحوله نه سامريه مطلب دے، او اوحوليبه نه يروشلم مطلب
دے. ۵ اوحوله په کنجرتوب کښې آخته شوه کله چې هغه
لا زما وه، او هغه د شوق نه خپلو عاشقانو د اسورى جنګيالو
پسې وه. ۶ سرکارى آفسران او کمانډران ټول ښکلى
ځوانان وُو او شاندراې جامې يې اچولې وې او په آسونو
سوارۀ وُو. ۷ هغې خپل ځان د اسوريانو ټولو آفسرانو ته
لکه د کنجرې په شان پېش کړو او خپل ځان يې د هغه هر چا
ټولو بُتانو سره پليت کړو چا پسې چې د هغې شوق وو. ۸
هغې هغه کنجرتوب پرې نۀ ښودو چې په مِصر کښې يې
شروع کړے وو، کله چې د هغې د پېغلتوب په دوران کښې
سړى د هغې سره خملاستل او د هغې سينو سره يې لوبې
وکړې او خپل شوق يې په هغې پوره کړو. ۹ نو په دې وجه
ما هغه خپلو عاشقانو ته حواله کړه، اسوريانو ته چا سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغې شوق دے. ۱۰ هغوئ هغه بربنډه کړه، د هغې نه
يې زامن او لوڼه واخستل او هغه يې په تُوره ووژله. او هغه د
نورو ښځو په مينځ کښې د عبرت مثال شوه، او سزا په هغې
نازله شوه. ۱۱ د هغې خور اوحوليبه دا وليدل خو اوس هغه
په شهوت پرستئ او کنجرتوب کښې د خپلې خور نه ډېره
زياته تيزه وه. ۱۲ اسورى مشرانو او آفسرانو او د ښائسته
جامو جنګيالو ته او په آسونو سوارو آفسرانو ته، زياته په
شوق کښې وه چې ښکلى ځوانان وُو. ۱۳ نو ما وليدل چې
هغې هم خپل ځان پليت کړو، او هغوئ دواړه په يوه لاره
باندې لاړې. ۱۴ خو هغې خپل کنجرتوب مخکښې جارى
وساتلو. هغې د سړو تصويرونه په دېوال وليدل، د بابليانو
تصويرونه چې په سور رنګ نقش شوى وُو. ۱۵ هغوئ
ملابندونه تړلى وُو او په سرونو يې غټ پټکى تړلى وُو، هغوئ
ټولو د بابليانو د جنګى ګاډو د آفسرانو په شان لباس
اغوستے وو. ۱۶ څنګه چې هغې هغوئ وليدل، نو هغوئ ته
يې ډېر شوق وشو او ورپسې يې بابل ته قاصدان ورولېږل.
۱۷ بيا بابليان راغلل د هغې سره بستره کښې يو ځائ شول،
او په خپل شهوت سره يې هغه پليته کړه. وروستو د دې نه
چې هغه د دوئ په وجه پليته شوه، هغه د هغوئ نه بېزاره
شوه او د هغوئ نه واوړېدله. ۱۸ کله چې هغې په ښکاره
توګه خپل کنجرتوب شروع کړو او خپل ځان يې ټولو ته لغړ
کړو، زۀ د هغې نه بېزاره شوم او خپل مخ مې ترې نه واړولو
لکه څنګه چې ما د هغې د خور نه اړولے وو. ۱۹ خو هغه د
پخوا نه هم ډېره زياته کنجره شوه لکه څنګه چې هغه په مِصر
کښې د خپلې ځوانئ په عمر کښې کنجره وه. ۲۰ هغې هلته
د خپلو عاشقانو سره شهوت بازى وکړه، د چا شرمګاه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خرونو په شان غټ ووَ او د چا انزال چې د آسونو په شان
وُو. ۲۱ نو تهٔ د خپلې ځوانئ د هغه مستئ بيا خواهشمنده
يې، لکه څنګه چې ستا په پېغلتوب کښې پردو سړو په مِصر
کښې ستا د سينو سره لوبې وکړې.“

## د اوحوليبه سره د مالِک خُدائ عدالت

۲۲ نو په دې وجه، اے اوحوليبه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی، ”زهٔ به ستا عاشقان ستا خلاف راپاڅوم، د چا
نه چې تهٔ اوړېدلې يې او نفرت ترې کوې، او زهٔ به هغوئ ستا
خلاف د هرې خوا نه راولم. ۲۳ بابليان او ټول د فقود او د
شوع او د کوع خلق او هغوئ سره به ټول اسوريان، ښکلې
ځوانان سړی، ټول آفسران او حاکمان، د جنګی ګاډو
آفسران او د اوچت مقام خلق ټول په آسونو سوارهٔ ستا
خلاف راولم. ۲۴ هغوئ به ستا خلاف د وسلو، جنګی ګاډو
او ريړو او د ډېرو خلقو او لوئ لښکر سره راشی. هغوئ به
ستا خلاف هرې خوا ته مورچه شی او د لويو او وړو ډالونو
او جنګی ټوپئ په سر به په تا حمله وکړی. او زهٔ به تا هغوئ
ته د سزا دپاره حواله کړم. او هغوئ به د خپل قانون په
مطابق تاسو له سزا درکړی. ۲۵ زهٔ به ستاسو خلاف خپله
غصه نازله کړم، او هغوئ به تاسو سره د غصې سلوک
وکړی. هغوئ به ستاسو پوزې او غوږونه پرې کړی، او په
تاسو کښې چې څوک پاتې شی په تُوره به مړهٔ کړے شی.
هغوئ به ستاسو زامن او لوڼه بوځی، او تاسو نه چې څوک
پاتې شی هغوئ به په اور کښې وسوزولے شی. ۲۶ هغوئ به
ستاسو نه جامې وباسی او قيمتی کالی به درنه واخلی. ۲۷

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو زۀ به ستا هغه فحاشي او کنجرتوب ختم کړم کوم چې تا
په مصر کښې شروع کړے وو. تۀ به نور دې خيزونو ته د
خواهش نظر نۀ کوې او نۀ به مِصر يادوې. ۲۸ نو ځکه
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، زۀ تاسو هغه
خلقو ته حواله کوم چې تاسو ترې نفرت کوئ، هغوئ ته چا
نه چې تاسو په بېزارئ سره مخ اړولے وو. ۲۹ هغوئ به
تاسو سره د نفرت سلوک وکړى او هر هغه څيز به درنه
يوسى کوم دپاره چې تاسو محنت کړے دے. تاسو به برېنډ
او لغړ پرېږدى، او ستا د زناکارئ شرم به ښکاره شى. ستا
فحاشئ او زناکارئ ۳۰ دا هر څۀ په تا باندې راوستل، ځکه
چې تۀ نورو قومونو پسې بېقراره وې او خپل ځان دې د
هغوئ په بُتانو پليت کړو. ۳۱ تۀ د خپلې خور په لار لاړې، نو
زۀ به د هغې پياله ستا په لاس کښې کېږدم. ۳۲ مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، تۀ به د خپلې خور پيالئ
وڅښې، يوه لويه او ژوره پيالئ، دا به تا د خلقو د ټوقو او
مسخرو کړى، ځکه چې دا پياله ډکه ده. ۳۳ تۀ به په خفګان
او نشه اخته شې، د تباهئ او د دهشت پيالئ، يعنې ستا د
خور سامريې پيالئ. ۳۴ تۀ به دا وڅښې او تشه به يې کړې،
او په ماتو شوو ټوکړو به يې شخوند ووهې او خپله سينه به د
غم نه ووهې. ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا وفرمائيل. ۳۵ نو
په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، د کله
نه چې تا زۀ هېر کړے يم او وروستو خپل شا ته دې
غورزولے يم، په دې وجه تۀ به خامخا د خپلې شهوت پرستئ
او زناکارئ سزا وزغمې.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په دواړو خويندو د مالِک خُدائ عدالت

۳۶ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”اے بنی آدمه، ولې تهٔ به د
اوحوله او اوحوليبه عدالت وکړې؟ نو هغوئ تهٔ د هغوئ
حرام کارونه مخامخ کړه. ۳۷ ځکه چې هغوئ زنا وکړه او د
هغوئ لاسونه په وينو سرهٔ دی. هغوئ خپلو بُتانو سره زنا
وکړه، تر دې چې هغوئ خپل زامن هم بُتانو ته د خوراک
دپاره قربانی کړل، کوم چې هغوئ زما دپاره پيدا کړی وُو.
۳۸ هغوئ ما سره هم دا وکړل چې، په هم هغه وخت کښې
هغوئ زما مقدس کور پليت کړو او زما د سبت بې‌حرمتی يې
وکړه. ۳۹ په هغه ورځ چې هغوئ خپل ماشومان خپلو بُتانو
ته قربانی کړل، نو په هغه ورځ هغوئ زما مقدس کور ته ننوتل
او د دې بې‌حرمتی يې وکړه. دا هغه څهٔ دی چې هغوئ زما
کور کښې وکړل. ۴۰ تر دې چې هغوئ د سړو دپاره
قاصدان ليږلی وُو څوک چې د لرې ځائ نه راغلل، او کله
چې هغوئ راورسېدل تا خپل ځان د هغوئ دپاره پاک کړو او
خپلې سترګې دې تورې کړې او لا دا چې ځان دې په سرو
زرو سنګار کړو. ۴۱ بيا تهٔ په شانداره صوفې کښېناستلې
چې مېز يې په مخکښې پروت وو په کوم چې تا هغه خوشبو
او تېل ايښی وُو چې زما وُو. ۴۲ د ګڼو خلقو شور د هغې
سره نزدې وو، تر دې چې مست او عياش خلق يې د صحرا
نه راوستل او هغوئ دغه دواړو خويندو ته په متو کښې
بنګړی واچول او ښکلی تاجونه يې ورته په سر کړل. ۴۳ نو
ما بيا د هغه چا په حقله ووئيل څوک چې د زناکارئ په وجه
سترې شوې وه، اوس پرېږده چې هغوئ دا لکه د يو کنجرئ
په شان استعمال کړی، ځکه چې هغه هم داسې ده. ۴۴ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د هغې سره زنا وکړه. لکه څنګه چې سړے د زناکارې
سره څملی، نو هغوئ د هغه بےحیا ښځو اوحوله او اوحولیبه
سره څملاستل. ۴۵ خو صادقان به هغوئ ته د هغو ښځو
سزا ورکړی څوک چې زنا او قتل کوی، ځکه چې هغوئ
زناکارې دی او لاسونه يې په وینو سرهٔ دی.“ ۴۶ مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”د هغوئ خلاف لوئ لښکر
راوله او هغوئ يرې او لوټ مار ته حواله کړه. ۴۷ د هغوئ
دشمنان به هغوئ سنګسار کړی او په تُوره به يې ووژنی،
هغوئ به د دوئ زامن او لوڼه مړهٔ کړی او د هغوئ کورونه به
وسوزوی. ۴۸ نو زهٔ به په دې مُلک کښې شهوت پرستی
ختمه کړم، او ټولو ښځو ته به تنبیه مِلاو شی او هغوئ به نور
ستا په نقش قدم نهٔ ځی. ۴۹ تاسو به د خپلې شهوت پرستۍ
دپاره سزا وزغمئ او د خپلې بُت پرستۍ د ګناهونو سزا به
برداشت کړئ. نو بيا به تاسو په دې پوهه شئ چې زهٔ مالِک
قادر مطلق خُدائ یم.“

## د پخلی دیګ

۲۴ ۱ د جلاوطنۍ په نهم کال، د لسمې مياشتې په لسمه
ورځ، د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے بنی
آدمه، د نن ورځې تاريخ وليکه، ځکه چې هم دا نن په دې
تاريخ به د بابل بادشاه يروشلم محاصره کوی. ۳ يو مثال
دې سرکشه قوم ته ووايه او هغوئ ته ووايه چې، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، د پخلی ديګ په اور کيږدئ
او اوبهٔ په کښې واچوئ. ۴ او په هغې کښې د غوښې بوټۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واچوئ، ټولې ښې بوټۍ لکه پتون او اوږی غوښه په کښې
واچوئ. او د هم داسې ښو هډوکو نه يې ډک کړئ، ۵ د
رمې نه د خاص څاروے غوښه په کښې واچوئ، او د دېګ
لاندې خشاک کېږدئ. او اوبۀ ووېشوئ، او هډوکی هم د
غوښې سره پاخۀ کړئ. ۶ نو مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، افسوس دې وی د قاتلانو په ښار، لکه د
هغه دېګ په شان چې زنګ وهلے وی د چا ګندګی چې نۀ
اخوا کیږی، دېګ په يو شان سره خالی کړئ او خوښه نا
خوښه مۀ کوئ. ۷ کومه وینه چې یروشلم تويه کړه نو هغه
په میدان کښې په يو کولاو ګټ تويه شوه، داسې نۀ وو شوے
چې ګنې په زمکه تويه شوه او دوړې پټه کړه. ۸ نو په دې
وجه به زۀ خپله غصه راوپاروم او د هغوئ نه به بدله واخلم
او د هغۀ وينه به په کولاو کاڼی تويه کړم چې دا هم ښکاره
وی. ۹ نو ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې،
افسوس دې وی د وینو تویولو په ښارېي یروشلم باندې. زۀ به
هم ورته د اور بلولو دپاره لرګی ډېرے کړم. ۱۰ نو خشاک
راجمع کړئ، او اور بل کړئ. غوښه ښه پخه کړئ او
مصالحه ورباندې واچوئ او د هډوکو سره يې سکارۀ کړئ.
۱۱ بيا هغه د تانبې خالی دېګ په سکارو باندې کېږده چې دا
ګرم شی او تانبه يې تکه سره شی او ناپاکی په کښې ويلې شی
او د هغې زنګ وسوزیږی. ۱۲ خو دا ټول کارونه بېفائدې
وُو، تر دې چې د دې ډېر زيات زنګ په اور هم اخوا نۀ شو.
۱۳ نو اوس تا په خپلو بېحيا کارونو خپل ځان پليت کړے
دے. ځکه ما کوشش وکړو چې تا د خپلو پليتو عملونو نه
پاک کړم، خو تۀ پاک نۀ شوې، تۀ به تر هغې پاک نۀ شې
ترڅو چې زۀ خپله مکمله غصه په تا نازله کړم. ۱۴ ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ وفرمائيل. زما دپاره هغه وخت رارسيدلے دے
چې خپله کاروائی وکړم. زۀ به وروستو نۀ شم، زۀ به رحم نۀ
کوم، او نۀ به پښېمانه شم. ستاسو د چال چلن او عملونو په
مطابق به ستاسو عدالت وکړم، مالِک خُدائ داسې فرمائی.“

## د حضرت حزقی‌ایل د ښځې مرګ

۱۵ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۶ ”اے بنی
آدمه، په يو ګزار سره به زۀ ستا د سترګو تور، ستا ښځه
ختمه کړم. خو تۀ مۀ د غم سندرې وايه مۀ ژړا کوه او مۀ
اوښکې تويوه. ۱۷ چغې سورې مۀ وهه، د مړی دپاره
غمرازی مۀ کوه، خپل پټکے په سر وتړه او خپلې څپلۍ دې
په پښو کښې واچوه، د خپل مخ لاندې برخه مۀ پټوه او د
مړی خېرات مۀ خوره.“ ۱۸ نو ما په سحر کښې خلقو ته
وفرمائيل، او بيا په ماښام کښې زما ښځه مړه شوه. او په بل
سحر ما هغه شان وکړل لکه څنګه چې ما ته حکم شوے وو.
۱۹ نو بيا خلقو زما نه تپوس وکړو چې، ”ولې تۀ به مونږ ته
دا ووائې چې ستا د دې کارونو زمونږ دپاره څۀ مطلب
دے؟“ ۲۰ نو ما هغوئ ته ووئيل، ”د مالِک خُدائ کلام په ما
نازل شو چې، ۲۱ د بنی اِسرائيلو قوم ته دا ووايه چې، مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې زۀ اوس د خپلې مقدسې
قربان‌ګاه بې‌حرمتی کوم، هغه مضبوط مقام چې تاسو پرې
فخر کوئ ورانوم، ستاسو د سترګو تور يعنې ستاسو ښځې،
او ستاسو د زړۀ اُميد تباه کوم. او کوم زامن او لوڼه چې
تاسو پرېښودل هغوئ ټول به په تُوره قتل کړے شی. ۲۲ او
تاسو به هغه کار وکړئ کوم چې ما وکړو. تاسو به د خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخ لاندې حِصه نۀ پټوئ او نۀ به د مړی خیرات خورئ. ۲۳
تاسو به په خپل سر باندې پټکے ساتئ او پېزار به په پښو
کوئ. تاسو به غم او ژړا نۀ کوئ، او تاسو به په خپله ګناه
کښې ضائع شئ او تاسو به په خپلو ټولو ګناهونو ماتم کوئ.
۲۴ ستاسو دپاره حزقی‌ایل یو نمونه دے، تاسو به هم هغه
څۀ کوئ څۀ چې هغۀ وکړل. کله چې داسې وشی نو بیا به
تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ یم.
۲۵ او تۀ اے بنی آدمه، په کومه ورځ چې زۀ د هغوئ
مضبوط قلعه، د هغوئ خوشحالی او فخر، د هغوئ د سترګو
تور یعنې د هغوئ ښځې، د هغوئ د زړۀ خواهشونه، او د
هغوئ زامن او لوڼه ترې نه واخلم ۲۶ نو په هم هغه ورځ به
د یروشلیم نه یو بچ شوے سړے تا له راشی او هغه به تا له
خبر راوړی. ۲۷ نو هم په هغه وخت کښې به ستا خولۀ
کولاو شی، او تۀ به د هغۀ سره خبرې وکړې او نور به تۀ
خاموشه پاتې نۀ شې. نو تۀ به د هغوئ دپاره نمونه یې، او
هغوئ به په دې باندې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د عمون خِلاف پېشګوئي

۲۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنی آدمه خپل مخ دې د عمونیانو په خلاف راوګرځوه او
د هغوئ خلاف پېشګوئي وکړه. ۳ عمونیانو ته ووایه چې، د
مالِک قادر مطلق خُدائ کلام واورئ. مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی، کله چې زما د عبادتخانې بې‌عزتی کېدله
او د بنی اِسرائیلو زمکه شاړه کېدله او د یهوداه خلق
جلاوطن کېدل نو تاسو خوشحالی وکړه، ۴ نو زۀ په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وجه تاسو د مشرق خلقو ته د میراث په توګه حواله کوم.
هغوئ به ستاسو په مینځ کښې خپل کېمپونه جوړ کړی او
خېمې به ودروی، هغوئ به ستاسو مېوې وخوری او ستاسو
پئ به وڅښی. ٥ زۀ به د ربه ښار نه د اوښانو د څرن ځائ
جوړ کړم او د عمون نه به د ګډو شپول جوړ کړم. نو بیا به
تاسو په دې پوهه شئ چې زۀ مالِک خُدائ یم. ٦ نو مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ځکه چې تاسو د بنی
اِسرائیلو خلاف خپل لاسونه وپړقول او خپلو پښو سره مو
زمکه ودربوله، او تاسو د بنی اِسرائیلو د مُلک په تباهئ
خوشحالی وکړه، ٧ نو په دې وجه به زۀ خپل لاس ستاسو
خلاف دروغزوم او تاسو به نورو قومونو ته د غنیمت په توګه
حواله کړم. زۀ به ستاسو قوم ختم کړم او تاسو به خانه
بدوش کړم او تاسو به تباه کړم. نو تاسو به په دې پوهه شئ
چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د موآبیانو او د سعیر په حقله پېشګوئي

٨ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، نو ځکه چې
موآب او سعیر وائی وګوره، د یهوداه قوم لکه د نورو ټولو
قومونو په شان شو، ٩ نو په دې وجه، زۀ به د موآب
سرحدی ښارونه حملې دپاره پرېږدم چې په هغې کښې د
بیت‌یسیموت، بعل معون او قِریَتائم ښکلی ښارونه شامل دی.
١٠ زۀ به د مشرق په خلقو موآب او عمونیان قبضه کړم، نو
بیا به نور عمونیان د دُنیا په مُلکونو کښې نۀ یادیږی، ١١ زۀ
به په موآبیانو د سزا حکم وکړم. نو بیا به هغوئ په دې پوهه
شی چې زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ یم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ادوم خِلاف پېشګوئي

۱۲ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ځکه چې ادوم
د یهوداه د قوم نه په بدله اخستو سره سخت مجرم
وګرځولے شو. ۱۳ نو په دې وجه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، زۀ به خپل لاس د ادوم خلاف وغزوم او د
هغۀ خلق او ځناور به ووژنم. زۀ به دا د تیمان نه واخله تر
ددان پورې وران ویجاړ کړم او هغوئ به په تُوره قتل کړم.
۱۴ زۀ به د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو په لاس خپله بدله د
ادومیانو نه واخلم، او هغوئ به ورسره زما د قهر و غضب په
مطابق رفتار وکړی، هغوئ به زما په بدله اخستو پوهه شی،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی.“

## د فلستی خِلاف پېشګوئي

۱۵ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، فلستیانو د
یهوداه نه بې‌رحمه بدله واخسته، او هغوئ د خپل زړۀ پخوانۍ
کینه او دشمنی ورسره ښکاره کړه. ۱۶ نو په دې وجه،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زۀ به د فلستیانو
خلاف خپل لاس ورغزوم، او زۀ به چریتیان ختم کړم او
څوک چې د سمندر په غاړه اوسیږی هغوئ به تباه کړم. ۱۷
او زۀ به د هغوئ نه سخته بدله واخلم او په خپل غضب کښې
به ورله سزا ورکړم. نو بیا به هغوئ په دې پوهه شی چې زۀ
مالِک قادر مطلق خُدائ یم، کله چې زۀ د هغوئ نه بدله
واخلم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د صور خِلاف پېشګوئي

۲۶ ۱ د جلاوطنۍ په يوولسم کال، د مياشتې په وړومبۍ
ورځ کښې د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے بنى
آدمه، ځکه چې صور د يروشلم په حقله داسې وئيلى دى چې،
آو، د دې قومونو دروازه ماته شوې ده، او د هغوئ دروازې
بلکل زما دپاره کولاو دى، نو اوس هغه تباه پرته ده نو زۀ به
آباده شم. ۳ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائى
چې، اے صوره زۀ ستا خلاف يم، زۀ به ستا خلاف ډېر
قومونه راوچت کړم لکه څنګه چې سمندر خپلې چپې
راوچتوى. ۴ هغوئ به د صور دېوالونه تباه کړى او د هغۀ
برجونه به راګزار کړى او زۀ به د هغوئ ملبه داسې جارُو
کړم چې لکه د صفا ګټ په شان پاتې شى. ۵ دا به لکه په
سمندر کښې د ماهيګرو د جال د خورولو ځائ په شان وى،
ځکه چې ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا وفرمائيل چې، نور
قومونه به هغه په آسانۍ سره لوټ کولے شى. ۶ او په هغه
اصلى زمکه باندې به د هغې اوسېدونکى په تُورو قتل شى. نو
بيا به هغوئ په دې پوهه شى چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۷ نو
ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، زۀ به د شمال د
خوا نه د بابل بادشاه نبوکدنضر د بادشاهانو بادشاه، د آسونو
او جنګى ګاډو، د سوارو او د لوئ لښکر سره د هغوئ خلاف
راولم. ۸ او په هغه اصلى زمکه به د هغې اوسېدونکى په
تُورو قتل شى، هغه به ستا خلاف د خاورو ډېرے جوړ کړى،
او ستاسو دېوالونو ته به لارې جوړې کړى او خپل ډالونه به
ستا خلاف راوچت کړى. ۹ هغه به ستا دېوالونه په مشين
سره راګزار کړى او په خپلې وسلې سره به ستا برجونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړوی. ۱۰ د هغوئ آسونه به دومره زيات وی چې په
خپلو دوړو کښې به تا پټ کړی. او د جنګی آسونو د شور نه
به ستا دېوالونه په لړزان شی، د هغې بګۍ او جنګی ګاډئ چې
کله ستا د ښار دروازې ته درننوځی دا به د هغه ښار په شان
وی د چا دېوالونه چې د مخکښې نه وران شوی وی. ۱۱
ستا لارې کوڅې به د خپلو آسونو د پښو د نوکو لاندې کړی،
او هغه به ستا خلق په تُوره قتل کړی، او ستا مضبوطې
ستنې به په زمکه لاندې راوغورزيږی. ۱۲ هغوئ به ستا مال
دولت لوټ کړی او ستا د تجارت سامان به لوټ کړی،
هغوئ به ستا دېوالونه مات کړی او ستا ښکلې کورونه به
راوغورزوی او ستا کانړی، لرګی او ملبه به په سمندر کښې
وغورزوی. ۱۳ زۀ به ستا د سندرو آواز ختم کړم او ستا د
رباب آواز به نور نۀ اورېدلے کيږی. ۱۴ زۀ به تا بربنډ ګټ
کړم، او تۀ به هغه ځائ وګرځې چرته چې خلق د ماهيانو
جال خوروی. تۀ به بيا آباد نۀ شې ځکه چې مالِک خُدائ
فرمائيلی دی، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی. ۱۵ دا
هغه څۀ دی چې مالِک قادر مطلق خُدائ يې صور ته فرمائی،
آيا د سمندر ساحلی ځايونه به ستا د راغورزېدو د آواز په
وجه د يرې نه ونۀ لړزيږی کله چې زخميان چغې سورې وهی
او په تا کښې خلق حلاليږی؟ ۱۶ نو بيا به د ساحل ټول
شهزادګان د خپلو تختونو نه راکوز شی او خپله چُوغه به
وباسی او خپلې د ګُلکاری جامې به يوې خوا ته کيږدی.
هغوئ به د غم لباس واچوی په زمکه به کښېنی او د يرې نه
به ريږدی، او ستا په تباهۍ به خفه کيږی. ۱۷ نو بيا به هغوئ
ستا په حقله د غم په مرثيو کښې داسې وائی، تۀ څنګه تباه
شوې، د سمندرونو خلق به ستاسو مُلک قبضه کړی، اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشهورې ښارېې، يو وخت داسې وو چې تا په سمندر
بادشاهى کوله او په ټوله دُنيا مو يره خوره کړې وه. ۱۸ نو
اوس ساحلى علاقه ستا د راغورزېدلو په ورځ لړزيږى، په
سمندر کښې جزيرې ستا په راغورزېدلو په لړزان شوې دى.
۱۹ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، کله چې زهٔ
ستا ښار په کنډرو بدل کړم، لکه د هغه ښار په شان چې په
کښې کله څوک نهٔ وى آباد شوى، او کله چې زهٔ د سمندر د
تل نه اويهٔ په تا راوخېژوم او په هغه ډوبو اوبو کښې غرق
شې، ۲۰ نو بيا به زهٔ تا د هغه چا سره لاندې کندې ته بوځم،
هغه خلقو له څوک چې ډېر وړاندې تېر شوى دى. او زهٔ به تا
په لاندې زمکه کښې اوسوم، لکه د پخوانو تباه شوو سره به
اوسيږې، د هغوئ سره څوک چې لاندې کندې ته روان وى،
نو تهٔ به بيا هيڅکله راواپس نهٔ شې او نهٔ به د ژوندو په دُنيا
کښې خپل ځائ ته ورسيږې. ۲۱ زهٔ به تاسو په دردناک
مرګ ووژنم او تهٔ به نور په دُنيا کښې نهٔ يې. ستا لټون به
کولے شى خو تهٔ به هيڅکله نهٔ پيدا کيږې. مالِک قادر مطلق
داسې فرمائى.“

## د صور د غم مرثيه

# ۲۷

۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنى آدمه، د صور په حقله د غم مرثيه ووايه. ۳ صور
ته ووايه، چې تهٔ د سمندر په غاړه پروت يې او د سمندر د
غاړې ډېرو خلقو سره تجارت کوې، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائى چې، اے صوره تا د خپل ځان په حقله وئيل چې زما
د ښائست جواب نشته. ۴ ستا حدونه د سمندر مينځ پورې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رسېدلی دی. ستا جوړونکو ستا ښائست لاجوابه جوړ کړے
دے. ۵ تۀ لکه د سمندر د هغه کشتۍ په شان وې چې د
حرمون د غرۀ د نختر لرګی نه جوړه شوې وې او هغوئ د
دِیار لرګی د لبنان نه راوړل چې ستا دپاره یوه ستن ترې
جوړه کړی. ۶ هغوئ د ښېړۍ لرګی د بسن نه راوړل او
ستا د چلولو چپو یې ترې جوړ کړل، هغوئ ستا فرش د
قبرص د نخترو نه جوړ کړو په دې باندې یې د هاتی د
غاښونو کار وکړو. ۷ ستا بادبان د مِصر د ګُلکارۍ د
کتان نه جوړ وو، او دا ستا په سر باندې لکه د جنډې په شان
رپېدو، ستا شامیانه د کاسنی او آسمانی رنګی کپړې وه چې
د اِلیسه د ساحلی علاقې نه راوړلے شوې وه. ۸ د صیدا
او ارود کسان ستا چپو وهونکی وُو. اے صوره، ستا
هوښیار کسان ستا ماڼکیان وُو. ۹ د جبل د علاقې نه په
کار پوهه او هوښیار کسان په کشتۍ کښې وُو چې ستا
چاؤدونه بند کړی. د سمندر ټولې کشتۍ او د دې ماڼکیان
راغلل چې ستا د مال تجارت وکړی. ۱۰ د فارس، لِدیه او
لیبیا فوجیان ستا په لښکر کښې شامل وُو. هغوئ خپل ډالونه
او ټوپۍ ستا په دېوالونو راځوړند کړل چې تا ته شان و
شوکت مِلاو شی. ۱۱ د ارود او د حیلک سړو د هرې خوا
نه ستا د دېوالونو حفاظت وکړو، او د جماد خلق ستا په
برجونو کښې وُو. هغوئ خپل ډالونه ستا په دېوالونو راځوړند
کړل، هغوئ ستا حُسن مکمل کړو. ۱۲ ترسیس تا سره
کاروبار وکړلو ځکه چې تا سره هر قسم سامان ډېر زیات
مِلاوېدلو، او ستا د څیزونو په بدله کښې هغوئ تا ته سپین
زر، اوسپنه، ټیم او سیکه درکوله. ۱۳ یونان، توبل او مسک
تا سره کاروبار وکړو، هغوئ ستاسو د سامان په بدل کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غلامان او د زیړو ݜیزونه درکړل. ۱۴ د بیت‌تُجرمه خلقو د
ݜیزونو په بدل کښې تاسو له آسونه، جنګی آسونه او قچرې
درکړې. ۱۵ د ددان خلقو تاسو سره کاروبار وکړو، او د
ډېرو ساحلی علاقو خلق ستا ګاهکان وُو، هغوئ تا ته د هاتی
غاښونه او د آبنوس لرګی درکړل. ۱۶ د شام خلقو تا سره
کاروبار وکړو ځکه چې په تا کښې هر قسم ݜیز مِلاوېدو،
هغوئ ستا د سامان په بدله کښې تا له زمرد کانړی کاسنی او
آسمانی رنګی کپړې، ګُلکاری، نرم کتان، مرجان او یاقوت
درکول. ۱۷ یهوداه او بنی اِسرائیلو تا سره کاروبار وکړو، او
هغوئ ستا د ݜیزونو په بدله کښې تا ته د مِنیت نه غنم،
اینځر، شات، د زیتُونو تېل او مصالحې درکړې. ۱۸ دمشق
تا سره د ډېر پېداوار او د مال د زیاتوالی په وجه، کاروبار
وکړو او د دې ݜیزونو په بدله کښې یې د حلبون مے او د
صاحر وړۍ درکړه. ۱۹ د ودان او یونان خلقو ستاسو نه
ݜیزونه اخستل او د هغې په بدله کښې یې تاسو ته د کار
اوسپنه او خوشبودارې مصالحې درکولې. ۲۰ د ددان خلقو
د آسونو د قیمتی زینونو کاروبار تاسو سره کولو. ۲۱ د
عربو او د قیدار ټول شهزادګان ستا خریدار وُو، هغوئ تاسو
سره د ګډورو، ګډانو، او چېلو کاروبار وکړو. ۲۲ د شیبا او
راماه خلقو تا سره کاروبار وکړو، ستاسو د ݜیزونو په بدله
کښې هغوئ تاسو له اعلیٰ مصالحې، قیمتی کانړی او سرۀ زر
درکول. ۲۳ د حاران، کنه او عدن، د شیبا سوداګرو او د
اسور او کِلمد خلقو هم تا سره تجارت وکړو. ۲۴ ستاسو په
بازارونو کښې هغوئ تاسو سره د ښکلې کپړې، د آسمانې
رنګې کپړې، د ګُلکارۍ او د رنګینه قالینونو چې پړی ترې تاو
وُو او چې ګُلکارۍ یې کلکې تړلے شوې وې کاروبار وکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ د ترسيس بيړو ستا د سامان په وړولو کښې مدد کولو،
او د سمندر په زړهٔ کښې تهٔ د درووند مال نه ډکه وې. ۲۶
ستا چپو وهونکو تهٔ لوئ سمندر ته راوړسولې، خو د مشرق
هواګانې به تا د سمندر په مينځ کښې ماته کړى. ۲۷ ستا
مال دولت، د تجارت سامان او مال، ستا د بيړۍ ټول
چلوونکى، جوړونکى او پوهان، ستا تاجران، او ستا ټول
فوجيان، او نور ټول هغه کسان چې په کشتۍ کښې ناست دى
به د سمندر په زړهٔ کښې ډوب شى په کومه ورځ چې ستا
کشتۍ تباه شى. ۲۸ ستا د ماڼکيانو د چغو په وجه به د
سمندر په غاړه خلق د يرې نه ولړزيږى. ۲۹ هغه ټول چپو
وهونکى به خپله کشتۍ پريږدى، ماڼکيان او نور کار کوونکى
به د ساحل په غاړه ودريږى. ۳۰ هغوئ به خپل آواز اوچت
کړى او په تا به سخته ژړا کوى، هغوئ به په خپلو سرونو
خاورې او دوړې وشيندى او په ايرو کښې به ورغړى. ۳۱
هغوئ به ستا په وجه خپل سرونه ګنجى کړى او د ټاټ جامې
به واچوى. هغوئ به په تا په پريشانه زړهٔ سره ژړا وکړى.
۳۲ کله چې هغوئ په تا باندې ژړا او وير کوى، هغوئ به
ستا په حقله د غم مرثيه وائى، څوک لکه د صور په شان
خاموشه وو، چې سمندر يې محاصره کړے وو؟ ۳۳ کله
چې به ستا د تجارت مال په سمندر کښې نورو مُلکونو ته
وړلے کيدو، تا ډير مُلکونه ماړهٔ کړل. ستا د ډير مال دولت
او مال سره تا د زمکې بادشاهان ماړهٔ کړل. ۳۴ اوس تهٔ د
سمندر په زورو اويو کښې مات او ډوب شوے يې، ستا
سامانونه او ستا کارکوونکى ټول تا سره لاندې ډوب شول.
۳۵ هر هغه څوک چې د سمندر په غاړه اوسيږى، هغوئ تا
ته حيران دى، د هغوئ بادشاهان يرې اخستى دى او پريشانه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوی دی او شکلونه يې د يرې نه په بله اوړېدلی دی. ۳۶ د
قومونو سوداګرو ستا په حقله په خپلو کښې وائی چې تويه
تويه، کله چې هغوئ ستا خراب اَنجام وليدو او تهٔ د تل دپاره
نيست نابود شوې.“

## د صور د بادشاه خِلاف پېشګوئي

۲۸ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، د صور حکمران ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې تا د خپل زړهٔ په مغرورتيا کښې وئيل چې،
زهٔ خُدائ يم او زهٔ د خُدائ په تخت د سمندر په زړهٔ کښې
ناست يم. خو تهٔ انسان يې او خُدائ پاک نهٔ يې، اګر چې ستا
دا خيال دے چې تهٔ د خُدائ په شان هوښيار يې. ۳ ولې تهٔ
دانيال نه ډېر هوښيار يې چې يو راز هم ستا نه پټ نهٔ دے؟
۴ ستا په خپل عقل او پوهه تا د خپل ځان دپاره مال دولت
راجمع کړو او په خپله خزانه کښې دې سرهٔ او سپين زر
راغونډ کړل. ۵ په تجارت کښې د ډېرې پوهې په ذريعه تا
خپل مال دولت زيات کړو، او د مال دولت په وجه ستا زړهٔ
ډېر مغروره شو. ۶ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، ځکه چې ستا خيال دا دے چې تهٔ هوښيار
يې، لکه د خُدائ په شان هوښيار يې، ۷ زهٔ به ستا خلاف د
غېرو قومونو نه د ټولو نه زيات بې‌رحمه خلق راولم، هغوئ به
ستا د حُسن او عقل خلاف خپلې تُورې راوکاږی او ستا
ځلېدونکے شان او شوکت به پليت کړی. ۸ هغوئ به تا
کندې ته ښکته کړی او تهٔ به د سمندر په زړهٔ کښې په
بې‌دردۍ سره مړ شې. ۹ ولې تهٔ به بيا د قاتلانو په مخکښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووائې چې زۀ خُدائ يم؟ هيڅکله نه. تۀ به صرف انسان يې، خُدائ نه، د هغوئ په لاسونو کښې څوک چې تا حلالوى. ۱۰
تۀ به د غېرو قومونو په لاسونو لکه د ناسنتو په شان مړ شې.
ما مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائيلى دى.“

## د صور د بادشاه د غم مرثيه

۱۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۲ ”اے بنى آدمه،
د صور د بادشاه په حقله د غم مرثيه ووايه او هغۀ ته ووايه
چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، تۀ د
کامليت نمونه وې، د عقل نه ډک وې او ستا حُسن د کمال
وو. ۱۳ تۀ په باغِ عدن کښې، د مالِک خُدائ په باغ کښې
وې، هر قسم قيمتى کاڼو لکه ياقوت، طوپاز، هيره،
ايکوامرين، اونيکس کاڼى، جاسپر، نيلم، زمرد او لعلونو تۀ
ښائسته کړے وې. تۀ د سرو زرو کار ښکلے کړے وې. په
کومه ورځ چې ستا تخليق وشو دا ستا دپاره تيار کړے شوى
وُو. ۱۴ ما تۀ د وزرو والا مخلوق په شان مسح شوے او
ساتونکے مقرر کړې او تۀ د خُدائ پاک په مقدس غر وې،
او تۀ د بلېدونکو کاڼو په مينځ کښې ګرځېدلې. ۱۵ ستا د
پېدايښت د ورځې نه ستا چال چلن بېداغه وو تر دې چې په
تا کښې بدکارى پيدا شوه. ۱۶ تۀ د خپل ډېر زيات تجارت
په وجه د ظلم زياتې نه ډک شوې او ګناه دې وکړه. نو ما بيا
تۀ په بې‌عزتۍ سره د خُدائ پاک د غرۀ نه وشړلې، او ما تۀ
اے حفاظت کوونکې فرښتې د هغه بلېدونکو کاڼو نه وشړلې.
۱۷ ستا زړۀ په خپل حُسن باندې مغروره شو، او تا خپل
عقل د خپل شان او شوکت په وجه خراب کړو. نو ما تۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمکې ته راوغورزولې، او بادشاهانو ته مې تماشه جوړه کړې.
١٨ تا په خپلو ډېرو ګناهونو او بې‌ایمانه تجارت خپل د
عبادت ځایونه ګنده کړل. نو ما په تا اور ولګولو او هغهٔ تهٔ
وسوزولې، او تهٔ مې په زمکه د ټولو هغه کسانو په وړاندې په
ايرو بدل کړې چې ستا تماشه يې کوله. ١٩ ټولو هغه مُلکونو
چې تهٔ يې پېژندلې تا ته حېران دی، ستا مرګ به ډېر خطرناک
وی او تهٔ به نور په دُنيا کښې پاتې نهٔ شې.“

## د صيدا خِلاف پېشګوئي

٢٠ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢١ ”اے بنی آدمه،
خپل مخ دې د صيدا خلاف کړه، د هغې خلاف پېشګوئي
وکړه ٢٢ او ووايه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، زهٔ ستا خلاف يم اے صيدا، او زهٔ به په تا کښې
جلال حاصل کړم. نو هغوئ به په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ يم. کله چې زهٔ په هغې د سزا فېصله وکړم او خپل
ځان په هغې کښې مقدس ښکاره کړم. ٢٣ زهٔ به په هغې وبا
راولم او د هغې په کوڅو کښې به وينې روانې کړم. د هرې
خوا نه به په تا حملې کيږی، ستا خلق به په کښې په تُوره مړهٔ
شی. نو بيا به هغوئ پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## بنی اِسرائيلو ته به برکت مِلاو شی

٢٤ ”د بنی اِسرائيلو د خلقو به نور کينه لرونکی ګاونډيان نهٔ
وی کوم چې لکه د درد ورکونکی ازغو او تېرهٔ غنو په شان
وُو. نو بيا به هغوئ پوهه شی چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ٢٥
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، کله چې زهٔ د بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائیلو قوم د هغه مُلکونو نه راغونډ کړم کومو مُلکونو ته
چې هغوئ خوارۀ وارۀ شوی وُو، زۀ به د هغوئ په مینځ کښې
او د نورو قومونو په وړاندې خپل ځان مقدس وښایم. نو بیا
به هغوئ په خپل مُلک کښې اوسیږی، کوم چې ما خپل
خِدمتګار یعقوب له ورکړے وو. ۲۶ هغوئ به هلته په امن
سره ژوند تېروی او هغوئ به کورونه جوړ کړی او د انګورو
بوټی به وکَری. زۀ به د هغوئ هغه ټولو ګاونډیانو له سزا
ورکړم چا چې ورپورې ټوقې کړې وې. نو بیا به هغوئ پوهه
شی چې زۀ د هغوئ مالِک قادر مطلق خُدائ یم.“

## د مِصر خِلاف پیشګوئي

۲۹ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ د لسم کال د لسمې میاشتې په
دولسمه ورځ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه، د مِصر د بادشاه فِرعون په خلاف خپل مخ
وروارړوه. د هغۀ او د ټول مِصر خلاف پیشګوئي وکړه. ۳
هغۀ ته ووایه چې مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې،
اے د مِصر بادشاه فِرعونه، زۀ ستا خلاف یم، تۀ لکه د یو
لوئ اژدها په شان په خپلو نِهرونو کښې غزېدلے یې او تۀ دا
وائې چې دریائے نیل زما دے او دا ما د خپل ځان دپاره
جوړ کړے دے. ۴ زۀ به ستا په خولۀ کښې کُنډه واچوم
او د هغه نِهرونو ټول کبان به ستا څرمن پورې ونښلوم. او زۀ
به تا سره د هغه ټولو کبانو د نِهرونو نه راوکاږم کوم چې ستا
څرمن پورې انښتی وی. ۵ زۀ به تا او ستا د نِهرونو هغه
ټول کبان په صحرا کښې پرېږدم. تۀ به په اوچه زمکه پروت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې او تهٔ به نهٔ راغونډ او نهٔ اوچت کړے شې. زهٔ به تا د زمکې
د ځناورو او د هوا د مارغانو خوراک کړم. ٦ نو بيا به
هغوئ ټول په دې پوهه شی څوک چې په مِصر کښې اوسيږی
چې زهٔ مالِک خُدائ يم. تهٔ د بنی اِسرائيلو د قوم دپاره صرف
د لوخې امسا په شان وې. ٧ کله چې تهٔ هغوئ په خپل
لاس کښې ونيولې نو تا دړه وکړه او د هغوئ اوږه دې سورے
کړه، او کله چې هغوئ په تا تکيه وکړه، نو ستا ملا ماته شوه.
٨ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، زهٔ به ستاسو خلاف تُوره راواخلم او ستاسو سړی او د
هغوئ ځناور به قتل کړم. ٩ نو مِصر به په صحرا او شاړه
زمکه بدل شی. نو بيا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ يم. ځکه چې تا وئيل چې، دريائے نيل زما دے، هغه
ما جوړ کړے دے. ١٠ نو په دې وجه زهٔ ستا او ستا د
نِهرونو خلاف يم، او زهٔ به د مِصر مُلک تباه او وران ويجاړ
کړم د مجدال نه تر اسوان پورې، او د ايتهوپيا د سرحدونو
پورې. ١١ نهٔ به د انسان او نهٔ به د ځناورو قدم په تا تېر
شی، او د څلوېښتو کالو پورې به په کښې هيڅ څوک هم نهٔ
اوسيږی. ١٢ زهٔ به د مِصر حال د خوا او شا ورانو مُلکونو
نه بدتر کړم. او د هغهٔ ښارونه به د تباه شوو ښارونو په مينځ
کښې د څلوېښتو کالو پورې تباه پراتهٔ وی. او زهٔ به مِصريان
په نورو قومونو او مُلکونو کښې خوارهٔ وارهٔ کړم. ١٣ نو
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ به مِصريان د
څلوېښتم کال په آخر کښې د هغه مُلکونو نه رايوځائ کړم
کوم ته چې هغوئ خوارهٔ شوی وُو. ١٤ زهٔ به هغوئ بيا
بحال کړم او خپل اصلی او د پلار نيکهٔ مُلک جنوبی مِصر ته
راولم. او هلته به د هغوئ يو کمزورے بادشاهت وی. ١٥ دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د نورو بادشاهتونو په مینځ کښې د ټولو نه کمزورے
بادشاهت وی او کله به هم په نورو بادشاهتونو خپل ځان
اوچت نهٔ کړی. زهٔ به دا دومره کمزورے کړم چې دا به
هیڅکله هم په نورو قومونو حکومت ونهٔ کړی. ۱۶ بنی
اِسرائیل به نور په مِصر تکیه نهٔ کوی خو دا به هغوئ ته د
خپلې هغه ګناه کولو یو یادګار وی چې کله به دوئ د هغوئ
نه مدد غوښتلو. نو بیا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ یم.“

## د نبوکدنضر بادشاه مِصر فتح کول

۱۷ په اوویشتم کال، د وړومبی میاشتې په وړومبی ورځ، د
مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۸ ”اے بنی آدمه، د
بابل بادشاه خپل فوجیان د صور خلاف د حملې دپاره
ورولیږل، تر دې چې د سخت جنګ په وجه ګنجیان شول او
د هغوئ اوږې پولی شوې، خو د دې ټول تکلیف باوجود
بادشاه او هغوئ تش لاس راغلل. ۱۹ نو په دې وجه مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ د مِصر مُلک
نبوکدنضر د بابل بادشاه له ورکوم، او هغه به د دې مال
دولت ځان سره یوسی. هغه به دا لوټ کړی، خپلو فوجیانو
ته به یې په تنخواه کښې حساب کړی. ۲۰ ما هغهٔ ته په انعام
کښې مِصر ورکړو د هغه کار په بدل کښې کوم چې هغهٔ او د
هغهٔ فوجیانو زما دپاره کړے دے. مالِک خُدائ داسې
فرمائی. ۲۱ چې کله دا هر څهٔ وشی نو زهٔ به بنی اِسرائیلو له
نوے طاقت ورکړم. اے حزقی‌ایله، په هغه وخت به زهٔ ستا
خولهٔ کولاو کړم او تهٔ به دوباره د هغوئ په مینځ کښې خبرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شروع کړي. نو بیا به هغوئ پوهه شی چې زهٔ مالِک قادر
مطلق خُدائ یم.“

## د مِصر دپاره د غم مرثیه

۳۰ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے
بنی آدمه پېشګوئي وکړه او ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی چې، ویر وکړئ او ووایئ، افسوس دې وی په
هغه ورځ ۳ ځکه هغه ورځ رانزدې ده، د مالِک خُدائ ورځ
رانزدې ده، د تورو تیارو ورځ، دا به د قومونو دپاره د قیامت
ورځ وی. ۴ د مِصر خلاف به تُوره رانازله شی، او په
ایتهوپیا باندې به غم نازل شی. کله چې مِصر کښې مړی
وشی، د هغهٔ مال دولت به لوټ شی او د هغهٔ بنیادونه به د
بېخه وران شی. ۵ د ایتهوپیا، لیبیا، د لِدیه، عربو، او د
کوب زما د غوره شوی مُلک خلق به د مِصر سره په تُوره
قتل کړے شی. ۶ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی
چې، مِصر او د هغهٔ اِتحادیان به ووژلے شی او د هغهٔ د کبر
کاسه به نسکوره شی. د مجدال نه تر اسوان پورې به هغوئ د
هغهٔ سره په تُوره قتل کړے شی، مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائی. ۷ هغوئ به د نورو ورانو مُلکونو په مینځ
کښې برباد وی، او د هغوئ ښارونه به د تباه شوو ښارونو په
مینځ کښې پراتهٔ وی. ۸ نو بیا به هغوئ په دې پوهه شی
چې زهٔ مالِک خُدائ یم، کله چې زهٔ په مِصر اور ولګوم او د
هغهٔ ټول مددګاران قتل شی. ۹ په هغه ورځ به پیغام
رسوونکی زما نه په کشتۍ کښې روان شی چې د ایتهوپیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مغروره خلق ويروی. د مِصر د تباهۍ په ورځ به هغوئ ډېر
پرېشانه شی، په يقين سره هغه ورځ راروانه ده. ۱۰ مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زۀ به د بابل بادشاه
نبوکدنضر په وسيله ګڼ مِصريان ختم کړم. ۱۱ هغه او د
هغۀ فوجيان چې په ټولو قومونو کښې ظالمان دی د دې
مُلک د تباهۍ دپاره به راوستے شی. هغوئ به خپلې تُورې د
مِصر خلاف راوباسی او هغه به د مړو نه ډک کړی. ۱۲ زۀ
به دريائے نيل اوچ کړم او هغه زمکه به په بدعملو خلقو
خرڅه کړم. د غېرو خلقو په لاس به دا زمکه او په دې کښې
هر څۀ شاړ کړم. ما مالِک خُدائ دا وفرمائيل. ۱۳ مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، زۀ به بُتان تباه کړم او په
ميمفِس کښې مجسمې به ختمې کړم. نور به په مِصر کښې
شهزاده نۀ وی، او زۀ به په ټول مُلک دهشت خور کړم. ۱۴
زۀ به بره مِصر تباه کړم، او ضُعن ته به اور ولګوم، او تيبس
ته به سزا ورکړم. ۱۵ زۀ به خپل غضب د مِصر په مضبوط
ښار پلوسيوم نازل کړم. او د تيبس ګڼ خلق به تباه کړم. ۱۶
زۀ به په مِصر اور ولګوم او پلوسيوم به د درد نه تاوېږی.
تيبس به په مينځ نيم کړم، او ميمفِس به په مسلسله پرېشانۍ
کښې وی. ۱۷ د هليوپوليس او بوبستيس ځوانان به په تُوره
مړۀ شی، او دا ښارونه به په خپله قبضه کړے شی. ۱۸ په
تحفنحيس کښې به د ورځې تيارۀ شی کله چې زۀ د مِصر جغ
مات کړم او د هغۀ زور به ختم شی. هغه به په وريځو کښې
پټ شی، او د هغۀ کلی به قبضه کړے شی. ۱۹ نو زۀ به په
مِصر سزا نازله کړم، او هغوئ به پوهه شی چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مِصر د فِرعون زور ختمېدل

٢٠ په يوولسم کال د وړومبۍ مياشتې په اوومه ورځ د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢١ ”اے بنی آدمه، ما د مِصر د
بادشاه فِرعون لاس مات کړو. هغه د رغېدلو دپاره ونۀ تړلے
شو او نۀ ورسره تخته ولګولے شوه چې هغه دومره مضبوط
شی چې تُوره ونيسی. ٢٢ په دې وجه مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی، زۀ د مِصر د بادشاه فِرعون په خلاف
يم. زۀ به د هغۀ دواړه لاسونه مات کړم، روغ او مات دواړه
لاسونه به يې مات کړم، او تُوره به د هغۀ د لاس نه وغورزوم.
٢٣ زۀ به مِصريان په نورو قومونو او مُلکونو کښې خوارۀ
وارۀ کړم. ٢٤ زۀ به د بابل د بادشاه لاسونه مضبوط کړم او
خپله تُوره به د هغۀ په لاس کښې کېږدم، خو زۀ به د فِرعون
لاسونه مات کړم، او هغه به د هغۀ په وړاندې د مرګونی
انسان په شان زبيرګی کوی. ٢٥ زۀ به د بابل د بادشاه
لاسونه مضبوط کړم، خو د فِرعون لاسونه به شل ګوډ کړم.
نو بيا به هغوئ پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم، کله چې زۀ
خپله تُوره د بابل د بادشاه په لاس کښې کېږدم او چې هغه يې
د مِصر خلاف راوکاږی. ٢٦ زۀ به مِصريان د نورو قومونو
او مُلکونو په مينځ کښې خوارۀ وارۀ کړم. نو بيا به هغوئ
پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“

## په لبنان کښې د دِيار ونه

٣١ ١ د جلاوطنۍ په يوولسم کال، د درېمې مياشتې په
اوله ورځ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ ”اے بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آدمه، د مِصر بادشاه فِرعون او د هغهٔ ټولو ګڼو خلقو ته
داسې ووايه، په لويئ کښې تهٔ خپل ځان چا سره برابر ګڼې؟
٣ تاسو د تکړه اسور په شان يئ، کوم چې يو وخت د
لبنان د دِيار د ونې په شان وو، چې څانګې يې ښائسته وې او
په ټول ځنګل يې سورے خور وو، او لوړوالے يې وريځو ته
رسېدو. ٤ هغه اوبو غټ کړو، او په زمکه کښې لاندې چينو
هغه لوړ کړے وو، او د هغوئ نِهرونه د هغه ونې ګېرچاپېره
بهېدل، او د اوبو لختى يې د پټى ټولو ونو ته ورغلى وُو. ٥
نو دا د پټى د نورو ټولو ونو نه ډېره اوچتېدله، او د دې څانګې
ډېرې پلنې اوږدې شوې وې ځکه چې جرړو ته زياتې اوبهٔ
رسېدلې وې. ٦ د هوا ټولو مارغانو د دې په څانګو کښې
جالې جوړې کړې، او ټولو ځنګلى ځناورو د هغې د څانګو
لاندې بچى راوړل، او د دُنيا ټول لوئ قومونه د هغې د سورې
لاندې کښيناستل. ٧ د خپل اوچتوالى او ګڼو څانګو په
وجه هغه ډېره زياته سيرابه وه، ځکه چې جرړو ته يې زياتې
اوبهٔ رسېدلې وې. ٨ د خُدائ پاک په باغ کښې د دِيار نورې
ونې هغې ته نهٔ شوې رسېدلے. د نختر ونو د هغې د څانګو د
ګڼوالى مقابله نهٔ شوه کولے، او د چنار ونو يې په څانګو
کښې برابروالے نهٔ شو کولے. د خُدائ پاک په باغ کښې بله
يوه ونه هم دومره ښکلې نهٔ وه. ٩ ما هغه په ګڼو څانګو
ښکلې کړې وه، د خُدائ پاک په باغِ عدن کښې ټولو ونو
ورسره سيالى کوله. ١٠ نو په دې وجه مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائى چې، هغه دومره اوچته شوې ده، او سر
يې بره وريځو سره لګېږى، او هغه خپل لوړوالى ته مغروره
شوې وه، ١١ نو ځکه ما هغه د غېرو مُلکونو بادشاهانو ته
حواله کړه چې د هغې د ګناهونو په مطابق ورسره رفتار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړی. ما هغه يوې خوا ته وغورزوله، ۱۲ او د ټولو نه
بې‌رحمه غير مُلکيانو هغه پرې کړه او داسې يې پرېښودله. د
هغې څانګې په غرونو او درو، ګړنګونو کښې راوغورزېدلې،
او د هغې څانګې د هغه مُلک په درو کښې ماتې شوې پرېوتې.
او د زمکې ټول قومونه د هغې د سورى نه بهر راووتل او هغه
يې پرېښوده. ۱۳ د هوا ټولو مارغانو په دې غورزېدلې ونه
کښې جالې جوړې کړې او د زمکې ځناور يې په څانګو کښې
اوسېدل. ۱۴ پس د دې نه دې د بل يو مُلک ونه هم په خپله
دومره کبر نۀ کوى اګر چې سر يې د ورېځو نه اوچت شوے
هم وى او جرړې يې اوبو ته رسېدلې دى، ځکه چې هغه ټولې
د مرګ خوا ته روانې دى، يعنې د فانى انسانانو سره لاندې
قبر ته، د هغوئ سره ښوک چې لاندې قبر ته روان دى. ۱۵
نو مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، په کومه ورځ
چې هغه ونه لاندې قبر ته ښکته شى نو هغه د اوبو چينې به
وربانديې ماتم او وير وکړى. ما د هغې نِهرونه بند کړل، او د
هغې بې‌حسابه اوبو بهېدل بند شول. نو د دې په وجه ما لبنان
ته د ماتم کپړې واغوستې، او د زمکې ټولې ونې وچې شوې.
۱۶ ما د هغې د راپرېوتو په آواز دُنيا په لړزان کړه کله چې
هغه ما د هغوئ سره لاندې د مړو دُنيا ته ښکته کړه ښوک
چې قبر ته روان وُو. بيا د عدن ټولې ونې او د لبنان ټولې
غوره شوې ونې، او هغه ټولې ونې چې ښې سيرابه شوې وې،
هغه لاندې زمکې ته ولېږلے شوې. ۱۷ د هغوئ د نورو
مُلکونو اِتحاديان هغه ښوک چې د دې په سورى کښې
اوسېدل هم د هغوئ سره قبر ته لاړل ښوک چې په تُوره قتل
شوى وُو. ۱۸ د باغِ عدن کومه يوه ونه تا سره په شان او
شوکت کښې مقابله کولے شى؟ خو تۀ به هم د عدن د نورو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونو سره لاندې زمکې ته راوغورزولے شي، تهٔ به د ناسنتو په
مينځ کښې خملې، د هغوئ سره څوک چې په تُوره وژلے
شوی دی. دا به د فِرعون او د هغهٔ د ټولو ګڼو خلقو اَنجام
وی، ما مالِک خُدائ دا وفرمائيل."

## د فِرعون دپاره د غم مرثيه

٣٢ ١ د دولسم کال، د دولسمې مياشتې په ورومبۍ
ورځ، د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ "اے بنی
آدمه، د مِصر د بادشاه فِرعون په حقله د غم مرثيه ووايه او
هغهٔ ته ووايه، تهٔ د مُلکونو په مينځ کښې لکه د زمری په شان
وې، خو په حقيقت کښې تهٔ لکه د سمندر د اژدها په شان يې
چې په خپلو نِهرونو کښې ګرځې راګرځې او په خپلو پښو
سره اوبهٔ تاووې او نِهرونه خړوې. ٣ مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ به ډېر خلق درولېږم چې تا زما
په جال کښې راګېر کړی، او په هغې کښې به دې د اوبو نه
رابهر کړی. ٤ زهٔ به تا په زمکه راوغورزوم او په اوچ ميدان
به دې راوولم. زهٔ به د هوا ټول مارغان پرېږدم چې په تا
کښېنی او د زمکې ټول ځناور به په تا باندې خپل ځانونه ماړهٔ
کړی. ٥ زهٔ به ستا غوښه په غرونو ونولم او ستا په لاش به
دَرې ډکې کړم. ٦ زهٔ به زمکه دومره ستا په وينو رنګ کړم
چې د غرونو سر ته ورسی، او ګړنګونه به ستا د وينو ډک
کړم. ٧ کله چې زهٔ ستا د ژوند شمع مړه کړم، نو زهٔ به
آسمان پټ کړم او د دې ستوری به تور کړم، زهٔ به نمر په
وريځو سره پټ کړم، او سپوږمۍ به خپله رڼا نهٔ خوروی.
٨ زهٔ به ستا دپاره د آسمان ټولې رڼاګانې تيارې کړم، زهٔ به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا په زمکه باندې تيارۀ راولم. مالِک خُدائ دا فرمائى. ۹
زۀ به د ډېرو قومونو زړونه پرېشانه کړم کله چې زۀ د نورو
مُلکونو په مينځ کښې تا تباه کړم، په هغه مُلکونو کښې چې تا
نۀ پېژندل. ۱۰ زۀ به ډېر خلق ستا د حالاتو په وجه پرېشانه
کړم، او ستا په وجه به د هغوئ بادشاهان د يرې نه ولړزيږى
کله چې زۀ خپله تُوره د هغوئ په وړاندې ښکاره کړم. ستا د
غورزيدو په ورځ به هغوئ ټول هره لحظه د خپل ژوند دپاره
لړزيږى. ۱۱ ځکه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى
چې، د بابل د بادشاه تُوره به ستاسو خلاف راشى. ۱۲ زۀ به
ستا لښکر ختم کړم د هغه طاقتورو خلقو په تُورو چې د ټولې
دُنيا بې‌رحمه خلق دى. هغوئ به د مِصر دبدبه ختمه کړى او
د هغې ټولې لښکرې به تباه شى. ۱۳ زۀ به د هغې ټول
څاروى چې د سيند په خوا کښې څرېږى تباه کړم، نور به د
انسان پښې دا اوبۀ نۀ تاووى او نۀ به د ځناورو پښې دا
خړوى. ۱۴ بيا به زۀ د دې اوبۀ دومره خاموشه کړم او د
دې دريابونه به لکه د تېلو په شان بهيږى، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائى. ۱۵ کله چې زۀ د مِصر مُلک وران ويجاړ
کړم او دا زمکه د هر څۀ نه خالى کړم، کله چې زۀ هغوئ
ټول هلاک کړم څوک چې هلته اوسيږى، نو بيا به هغوئ پوهه
شى چې زۀ مالِک خُدائ يم. ۱۶ دا هغه د غم مرثيه ده چې
دوئ به يې هغۀ ته ووائى. د دې مُلک لونړه به دا وائى، د مِصر
او د هغوئ ګنړ خلقو دپاره به د غم مرثيه وائى، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائى.“

## عالمِ ارواح

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ د دولسم کال د اولې مياشتې په پينځلسمه ورځ د مالِک
خُدائ کلام په ما نازل شو، ۱۸ ”اے بنى آدمه، د مِصر په
لښکرو باندې وير وکړه او هغه دواړه د نورو تکړه قومونو
لوريانو سره لاندې زمکې ته حواله کړه، د هغوئ سره څوک
چې قبر ته روان دى. ۱۹ هغوئ ته ووايه، ولې تهٔ د نورو نه
ډېره ښائسته يې څهٔ؟ عالمِ ارواح ته لاړه شه او د ناسنتو په
مينځ کښې پرېوځه. ۲۰ هغوئ به د هغه چا سره مړهٔ شى
څوک چې په تُوره قتل شوى دى. تُوره راويستلے شوې ده،
هغه پرېږده چې خپل ټول لښکر سره عالمِ ارواح ته راښکلے
شى. ۲۱ لاندې قبر نه به تکړه مشران د مِصر او د هغهٔ د
اِتحاديانو په حقله وائى، هغوئ لاندې راغلل او هغوئ د ناسنتو
سره مړهٔ پراتهٔ دى، هغوئ سره چې په تُوره مړهٔ شوى دى.
۲۲ اسور خپل ټول فوج سره هلته پروت دے، هغه د خپلو
ټولو وژلے شوو د قبرونو په مينځ کښې راګېر دے، هغوئ
ټولو سره چې په تُوره قتل شوى دى. ۲۳ د هغوئ قبرونه په
ژوره کنده کښې دى او د هغهٔ فوجيان د هغهٔ د قبر نه چاپېره
ښخ دى. هغوئ ټولو چا چې د ژوندو په دُنيا کښې دهشت
خورولو هغوئ قتل شول، او په تُوره مړهٔ شول. ۲۴ عيلام هم
هلته دے د هغهٔ ټولې لښکرې د هغهٔ د قبر نه چاپېره پرتې دى،
هغوئ ټول حلال کړے شوى، په تُوره وژلے شوى دى.
هغوئ ټولو چا چې د دُنيا په ټولو خلقو کښې دهشت خورولو
لاندې زمکې ته ناسنته ښکته شول. هغوئ خپله بې‌عزتى د
هغوئ سره وزغمى څوک چې لاندې عالمِ ارواح ته روان دى.
۲۵ د هغهٔ دپاره د مړو په مينځ کښې د آرام ځائ جوړ شو،
د هغې ټولو فوجيانو سره د هغې د قبر نه چاپېره. هغوئ ټول
ناسنته دى او په تُوره وژلے شوى دى. ځکه چې هغوئ د دُنيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ټولو خلقو کښې خپل دهشت خور کړے وو، هغوئ د هغه
چا سره شرمنده پراتۀ دی څوک چې په قبر کښې دی. ۲۶
مسک او توبل هلته سره د خپلو ټولو لښکرو د هغوئ د
قبرونو نه چاپېره دی. هغوئ ټول ناسنته دی، په تُوره وژلے
شوی دی ځکه چې هغوئ د دُنیا په ټولو خلقو کښې خپل
دهشت خور کړے وو. ۲۷ هغوئ د خپلو نورو جنګیالو په
شان په عزت ښخ نۀ شول، څوک چې د خپلو وسلو سره
عالمِ ارواح ته ښکته شوی وُو او چې ډالونه یې په لاشونو پراتۀ
وُو او تُورې یې د سرونو د لاندې ایښې وې. د هغوئ ګناه د
هغوئ دپاسه وه ځکه کله چې هغوئ لا ژوندی وُو نو هغوئ په
هر چا دهشت خور کړے وو. ۲۸ تۀ به هم، اے فِرعونه تیکه
تیکه شې او د ناسنته په مینځ کښې به ښخ کړے شې، د
هغوئ سره چې په تُوره مړۀ شوی دی. ۲۹ ادوم هلته د خپلو
بادشاهانو او شهزادګانو سره دے، باوجود د خپل ټول طاقت
هغوئ د هغوئ په مینځ کښې پراتۀ دی څوک چې په تُوره
وژلے شوی دی. هغوئ د ناسنتو سره پراتۀ دی، د هغوئ
سره څوک چې لاندې کندې ته روان دی. ۳۰ د شمال ټول
شهزادګان او ټول صیدانیان هلته پراتۀ دی، هغوئ لاندې د
وژلے شوو سره په بې‌عزتئ لاړل باوجود د دې چې د هغوئ
د طاقت په وجه دهشت خور وو. او اوس د هغوئ لاشونه د
ناسنته په حالت کښې د مړو سره پراتۀ دی. او هغوئ خپله
بې‌عزتی د هغوئ سره وزغمی څوک چې لاندې قبر ته روان
دی. ۳۱ فِرعون او د هغۀ ټول فوجیان به هغوئ وګوری او
هغه به د خپل ټول لښکر دپاره تسلی ومومی څوک چې په
تُوره مړۀ کړے شوی وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.
۳۲ تر دې چې ما هغه پرېښے وو چې هغوئ د دُنیا په ټولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو کښې خپل دهشت خور کړی، فِرعون او د هغهٔ ټول
فوجيان به د ناسنتو په مينځ کښې پراتهٔ وی، د هغوئ سره
چې په تُوره وژلے شوی دی، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی.“

## د حزقیایل د بنی اِسرائیلو محافظ مقررېدل

٣٣ ١ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ٢ ”اے
بنی آدمه د خپلو خلقو سره خبرې وکړه او هغوئ ته ووايه،
کله چې زهٔ د يو مُلک خلاف جنګ شروع کړم، نو د هغه
مُلک خلق د خپلو خلقو نه يو سړے غوره کړی چې د هغوئ
محافظ وی. ٣ کهٔ محافظ وګوری چې دشمن د هغه مُلک
خلاف راروان دے نو هغه به بيګل وغږوی چې خلقو له
خبردارے ورکړی. ٤ نو بيا چې څوک د بيګل آواز واوری
او هغې ته توجو ورنهٔ کړی او جنګ او تُوره راشی او د هغهٔ
ژوند ختم کړی نو خون به يې په خپله غاړه وی. ٥ ځکه
چې هغهٔ د کله نه چې د بيګل آواز واورېدو او توجو يې ورنهٔ
کړه، نو خون يې په خپله غاړه دے. کهٔ چرې هغهٔ خبرداری
ته توجو ورکړې وه، نو هغهٔ به خپل ځان بچ کړے وو. ٦
خو کهٔ محافظ دشمن وګوری چې راروان دے او بيګل ونهٔ
غږوی چې خلقو له خبردارے ورکړی او دشمن راشی او کهٔ
د يو سړی ژوند ختم کړی، نو هغه سړے خو به د خپلې ګناه
په وجه مړ شی، خو زهٔ به محافظ د هغهٔ د مرګ ذمه وار
وګرځوم. ٧ اے بنی آدمه، ما تهٔ د بنی اِسرائيلو د قوم دپاره
محافظ جوړ کړې، نو بيا هغه خبرې واوره کومې چې زهٔ تا ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم نو زما د خوا نه تهٔ هغوئ ته خبردارے ورکړه. ۸ کله
چې زهٔ يو بدعمله ته ووايم، "اے بدعمله، تهٔ به په حقيقت
کښې مړ شې،" او تهٔ د هغوئ سره خبرې ونهٔ کړې چې
هغوئ د خپلو عملونو نه واوړى، نو هغه بدعمله به د خپلو
ګناهونو په وجه مړ شى، او زهٔ به تا د هغهٔ د مرګ ذمه وار
کړم. ۹ خو کهٔ تهٔ يو بدعمله سړى له خبردارے ورکړې
چې خپلې غلطې طريقې پرېږدى او هغه داسې ونهٔ کړى، هغه
به د خپلو ګناهونو په وجه مړ شى، خو تا خپل ځان د هغهٔ د
خون د ذمه وارئ نه بچ کړو."

## د محافظ پيغام

۱۰ "اے بنى آدمه، د بنى اِسرائيلو قوم ته ووايه، تاسو داسې
وايئ چې، زمونږ جرمونو او ګناهونو مونږ لاندې کړى يُو، او
مونږ د هغوئ په وجه سخا او تباه شوى يُو، نو مونږ به څنګه
ژوندى پاتې شُو؟ ۱۱ هغوئ ته ووايه چې، زما دې په خپل
ذات قسم وى، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، زهٔ د
بدعمله په مرګ هيڅ نهٔ خوشحالېږم، بلکې په دې خوشحالېږم
چې هغه ټول غلط کارونه پرېږدى او ژوندے پاتې شى.
راوګرځئ، د خپلو بدو لارو نه راوګرځئ. اے بنى اِسرائيلو، نو
بيا ولې تاسو مرهٔ کېدل غواړئ څهٔ؟ ۱۲ اے بنى آدمه، خپل
د مُلک خلقو ته ووايه، د صادق انسان صداقت به هغه بچ نهٔ
کړى کهٔ هغه نافرمانى کوى، او د بدعمله انسان بدعملى به
هغه د مرګ کندې ته ونهٔ غورزوى کهٔ هغه دا پرېږدى. کهٔ
چرې يو صادق سړے ګناهونه وکړى، نو هغه به د خپل
پخوانى صداقت په وجه بچ نهٔ شى. ۱۳ کهٔ چرې زهٔ يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادق انسان ته ووایم چې تۀ به یقیناً ژوندے پاتې شې، خو
هغه بیا په خپل صداقت اعتماد وکړی او بد کارونه شروع
کړی، نو زۀ به د دۀ یو ښۀ عمل هم یاد نۀ کړم، کوم چې هغۀ
پخوا کړی دی، هغه به د هغه بدو کارونو په وجه چې کوم
هغۀ کړی دی، مړ شی. ۱۴ او فرض کړئ کۀ چرې زۀ یو
بدعمله ته ووایم چې تۀ به یقیناً مړ شې، نو کېدے شی چې
هغه په دې اورېدو سره د خپلو ګناهونو نه توبه وکړی او هغه
کارونه شروع کړی کوم چې د اِنصاف او صحیح دی، ۱۵
لکه مثال په طور هغه خپل ضمانت واپس کړی کوم چې هغۀ
د خلقو نه اخستے وی، او هر هغه څۀ واپس کړی کوم چې
هغۀ پټ کړی وی، او زما په ژوند ورکونکی شریعت عمل
وکړی او نور د بدئ نه مخ واړوی، نو یقیناً هغه به ژوندے
پاتې شی، مړ به نۀ شی. ۱۶ یوه ګناه به هم کومه چې هغۀ
کړی وی د هغۀ خلاف نۀ حسابیږی. ځکه چې هغۀ هغه څۀ
وکړل څۀ چې ښۀ او نېک دی، هغه به یقیناً ژوندے پاتې شی.
۱۷ خو بیا هم ستا د مُلک خلق وائی چې، د مالِک خُدائ
طریقې بې‌اِنصافه دی. خو دا هم دوئ دی چې د هغوئ
طریقې بې‌اِنصافه دی. ۱۸ کۀ یو صادق انسان خپل
صداقت پرېږدی او بدعملی شروع کړی، هغه به د دې کار په
وجه مړ شی. ۱۹ او کۀ چرې یو بدکاره د خپلې بدکارئ نه
واوړی او هغه څۀ وکړی چې کوم نېک او صحیح دی، نو په
داسې کولو سره به هغه خپل ژوند بچ کړی. ۲۰ خو اے د
اِسرائیل قومه، تاسو وایئ چې، د مالِک خُدائ طریقې د
اِنصاف نۀ دی. خو زۀ به ستاسو د هر یو عدالت ستاسو د
عملونو او طریقو په مطابق وکړم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یروشلم د تباه کېدو خبر

۲۱ زمونږ د جلاوطنئ په دولسم کال، د لسمې میاشتې په
پینځمه ورځ، یو سړے څوک چې د یروشلم نه راتښتېدلے وو
ما له راغلو او وې وئیل، ”هغه ښار راوغورزېدلو.“ ۲۲ د
هغه کس د راتلو نه یو ماښام وړاندې، د مالِک خُدائ لاس په
ما باندې وو، هغۀ زما خولهٔ په سحر کښې د هغه سړی د
راتلو نه وړاندې پرانستله. نو بیا زما خولهٔ پرانستلے شوې وه
او زهٔ نور چُپ نهٔ شوم پاتې کېدے.

## د خلقو گناهونه

۲۳ نو بیا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲۴ ”اے
بنی آدمه، کوم خلق چې د بنی اِسرائیلو په مُلک کښې په دې
شاړو او کنډراتو کښې اوسیږی نو هغوئ وائی چې، اِبراهیم
صرف یو سړے وو، خو بیا هم هغۀ دا زمکه حاصله کړه.
بلکې مونږ ډېر یُو، په یقین سره مونږ ته دا زمکه لکه زمونږ د
خپل ملکیت په شان راکړے شوې وه. ۲۵ نو دې خلقو ته
ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، تاسو
د وینو نه ډکې غوښې خورئ، او د معبودانو عبادت کوئ، او
وینه تویوئ، نو تاسو په داسې کولو سره خپل ځان د دې
زمکې حقدار گڼئ څهٔ؟ ۲۶ اے قاتلانو، بُت پرستانو، حرام
کارو، آیا تاسو د دې زمکې د وراثت قابل یئ څهٔ؟ ۲۷ نو
هغوئ ته دا ووایه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی، زما دې په خپل ذات قسم وی، هغه څوک چې په دې
کنډراتو کښې پاتې کیږی هغوئ به په تُوره مړهٔ شی، او څوک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په دشتو او میرو کښې بهر اوسیږی هغوئ به ځناورو ته
حواله کړم چې وې خوری، او څوک چې په قلعه ګانو او
غارونو کښې دی په ویا به مړهٔ شی. ۲۸ زهٔ به د دې مُلک نه
صحرا او بیابان جوړ کړم، او د هغهٔ مغرورانه طاقت به ختم
کړم، او د بنی اِسرائیلو غرونه به په شاړو بدل کړم چې هیڅ
څوک هم په هغې تېرېدے نهٔ شی. ۲۹ د هغوئ د حرامو
کارونو په وجه چې کوم هغوئ کړی دی زهٔ به دا مُلک په
صحرا بدلوم نو بیا به هغوئ په دې پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ یم.“

## د حزقی‌ایل د پیغام نتیجه

۳۰ مالِک خُدائ وفرمائیل چې، ”اے بنی آدمه، ترڅو چې
ستا خبره ده، ستا د مُلک خلق د خپلو کورونو د دېوالونو
خوا کښې او په دروازو کښې ودرېږی او ستا په حقله یو بل
ته وائی، راځئ چې د هغهٔ پیغام واورو کوم چې هغهٔ ته د
مالِک خُدائ نه مِلاو شوے دے. ۳۱ زما خلق به تا له
راشی، لکه څنګه چې هغوئ همېشه راځی، او ستا په وړاندې
به کښېنی چې ستا خبرو ته غوږ ونیسی، خو هغوئ په دې
عمل نهٔ کوی. په خپله خولهٔ هغوئ د عیش عشرت خبرې
کوی، او زړونه یې هم د لالچ نه ډک دی. ۳۲ په حقیقت
کښې تهٔ د هغوئ دپاره د یو داسې موسیقار په شان یې چې په
خوږ آواز سره د مینې سندرې وائی او یا ښهٔ ساز غږوی. نو
هم داسې هغوئ ستا خبرې اوری خو عمل پرې نهٔ کوی. ۳۳
هرکله چې دا هر څهٔ رښتیا شی، او یقیناً داسې به وشی، نو
بیا به هغوئ په دې باندې پوهه شی چې یو نبی د هغوئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مینځ کښې اوسېدو.“

## د بنی اِسرائیلو شپونکی

۳۴ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
”اے بنی آدمه، د شپونکو یعنې د بنی اِسرائیلو د مشرانو
خلاف پېشګوئې وکړه، او هغوئ ته ووایه، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی چې، د بنی اِسرائیلو په شپونکو دې
افسوس وی څوک چې صرف خپله ګېډه څروی. ولې یو
شپون ته پکار نۀ دی چې خپله رمه وڅروی؟ ۳ تاسو د دې
پئ څښئ، او د دې د وړی نه ځانله جامې جوړَوئ او د
خوښې ګډوری ترې نه حلالوئ، خو تاسو خپله رمه نۀ
څروئ. ۴ تاسو د کمزورو ګډو خیال نۀ کولو او نۀ مو د
بیمارانو دارو کول، او نۀ مو د زخمی شوو مرهم پټئ کوله.
تاسو ورک شوې واپس نۀ راوستل، او نۀ مو د ورک شوو
لټون کولو. تاسو په هغوئ په سختئ او د ظلم حکومت وکړو.
۵ نو هغه ګډې خوَرې شوې ځکه چې د هغوئ شپونکے نۀ
وو، او کله چې هغه خورې ورې شوې نو د ځنګلی ځناورو د
خوراک شوې. ۶ زما ګډې په ټولو غرونو او اوچتو غونډو
سرګردانه وګرځېدلې. هغوئ په ټوله زمکه باندې خوَرې
شوې، او چا هم نۀ د هغوئ لټون وکړو او نۀ یې وکتلې. ۷
نو په دې وجه اے شپونکو، د مالِک خُدائ کلام واورئ، ۸
زما دې په خپل ذات قسم وی، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی، ځکه چې زما د ګډو بښۀ شپونکے نشته نو په دې
وجه لوټ شوې او د ټولو ځنګلی ځناورو د خوراک شوې،
ځکه چې زما شپونکو زما د رمې لټون ونۀ کړو او زما د رمې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ځائې يې د خپل ځان خيال وساتلو، ⁹ نو په دې وجه
اے د قوم شپونکو، د مالِک خُدائ کلام واورئ، ¹⁰ مالِک
قادر مطلق خُدائ دا فرمائی چې، زۀ اوس د دې شپونکو
خلاف يم او هغوئ به زۀ د خپلو ګډو دپاره ذمه وار وګرځوم.
زۀ به هغوئ د خپلو ګډو د شپونتوب نه لرې کړم نو داسې به
شپونکی نور خپل ځانونه نۀ شی مړولے. زۀ به خپلې ګډې د
هغوئ د خُلو نه بچ کړم، او هغوئ به نور د دوئ خوراک نۀ
وی.“

## ښۀ شپون

11 ”مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زۀ به په خپله د
خپلو ګډو لټون وکړم او هغوئ به راپېدا کړم او د هغوئ
خيال به ساتم. 12 لکه څنګه چې شپونکی د خپلو ګډو سره
وی او د خپلو خوَرو ګډو په تلاش کښې وی، نو هم داسې به
زۀ هم د خپلو ګډو په تلاش کښې يم. زۀ به هغوئ د هغه ټولو
ځايونو نه بچ کړم چرته چې هغوئ د تيارې او د وريځې په
ورځ خوَرې ورې شوې وې. 13 زۀ به هغوئ د نورو قومونو
نه راوکاږم او د نورو مُلکونو نه به يې راغونډ کړم، او زۀ به
هغوئ خپل مُلک ته واپس راولم. هغوئ به زۀ د بنی اِسرائيلو
په غرونو، او سيندونو په غاړه او د مُلک په ټولو آبادو ځايونو
کښې وڅروم. 14 زۀ به هغوئ په ښۀ شنو ځايونو کښې
وڅروم، او د بنی اِسرائيلو د غرونو لوړې څوکې به د هغوئ د
څرېدو ځائ وی. او هلته به هغوئ په ښۀ شنو واښو کښې
څملی، او هغوئ د بنی اِسرائيلو د غرونو په شنو واښو کښې
وڅرېږی. 15 زۀ به په خپله د خپلو ګډو شپون يم او هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له به آرام ورکړم، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی. ۱۶ زۀ
به د ورکو شوو ګډو لټون وکړم او بې‌لارې شوې ګډې به
راواپس کړم. زۀ به د زخمی شوو مرهم پټۍ وکړم او کمزورو
له به طاقت ورکړم، خو حرصناکې او مضبوطې به هلاکې
کړم. زۀ به په اِنصاف سره د ګډو شپونتوب وکړم. ۱۷
ترڅو چې ستاسو خبره ده اے زما رَمې، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی، زۀ به په خپله د یو ګډ او بل ګډ په مینځ
کښې فیصله وکړم، او د ګډانو او د چېلو په مینځ کښې به
عدالت کوم. ۱۸ ولې دا ستاسو دپاره کافی نۀ ده چې په ښه
ګیاه کښې وڅرېږئ؟ ولې تاسو به نوره پاتې ګیاه د پښو لاندې
کوئ څۀ؟ ولې دا ستاسو دپاره کافی نۀ ده چې پاکې اوبۀ
وڅښئ؟ ولې تۀ به نورې پاتې اوبۀ په پښو سره خړوئ څۀ؟
۱۹ ولې زما رمه به هغه ګیاه خوری چې تاسو د پښو لاندې
کړې وی او هغه اوبۀ به څښی چې تاسو د پښو سره خړې
کړې دی؟ ۲۰ نو په دې وجه هغوئ ته، مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائی چې، ګورئ، زۀ په خپله به د څُرب ګډ او مانده
ګډ په مینځ کښې عدالت وکړم. ۲۱ ځکه چې تاسو څربه
ګډو، په خپلو اوږو او پتونونو باندې ټولې مانده ګډې دیکه
کړې، او په خپلو ښکرونو سره مو ډغرې ورکړې، تر دې چې
تاسو هغوئ خورې ورې کړې، ۲۲ نو زۀ به خپله رمه بچ
کړم، او هغوئ به نور نۀ تالا والا کیږی. زۀ به د یوې ګډې او
د بلې ګډې په مینځ کښې عدالت وکړم. ۲۳ زۀ به په هغوئ
یو شپونکے مقرر کړم، زما خِدمتګار داؤد، او هغه به هغوئ
څروی او هغه به د هغوئ شپونکے وی. ۲۴ زۀ، مالِک
خُدائ به د هغوئ خُدائ پاک یم، او زما خِدمتګار داؤد به د
دوئ په مینځ کښې شهزاده وی. ما مالِک خُدائ وفرمائیل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ زۀ به د هغوئ سره د امن لوظ وکړم او د هغه مُلک نه به
خطرناک ځناور وشړم، نو هغوئ به په میرو کښې ژوند کوی
او په ځنګلونو کښې به په امن سره اودۀ وی. ۲۶ زۀ به
هغوئ له، او خپل غر نه چاپېره ځایونو له برکت ورکړم. زۀ
به په صحیح موسم په هغوئ باران کوم، او دا به د فضل او
برکت بارانونه وی. ۲۷ د باغونو ونې به خپلې مېوې کوی او
زمکه به خپل فصلونه کوی، او خلق به په خپل مُلک کښې په
امن وی. نو بیا به هغوئ پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ یم،
کله چې زۀ د هغوئ د غلامۍ جغ مات کړم او د هغه خلقو د
لاس نه ورله خلاصون ورکړم چا چې هغوئ غلامان کړی
دی. ۲۸ نور به هغوئ د نورو قومونو د لاسه نۀ لوټ کیږی،
او نۀ به یې ځنګلی ځناور خوری. هغوئ به په امن سره ژوند
کوی، او هیڅوک به هغوئ نۀ شی یرولے. ۲۹ زۀ به هغوئ
له داسې زمکه ورکړم چې په فصل کولو کښې به مشهوره
وی، او هغوئ به نور په دې مُلک کښې د قحط په وجه په
تکلیف کښې نۀ وی او نۀ به د قومونو مسخرې زغمی. ۳۰ نو
بیا به هغوئ پوهه شی چې زۀ، مالِک خُدائ د دوئ خُدائ
پاک، د دوئ سره یم، او دوئ، د بنی اِسرائیلو قوم، زما خلق
دی. مالِک خُدائ دا فرمائی. ۳۱ تاسو زما ګډې، زما د
څرن د ځائ ګډې، زما خلق یئ، او زۀ ستاسو خُدائ پاک
یم. مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی.“

## د ادوم خلاف پیشګوئي

۳۵ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ۲ ”اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنی آدمه، خپل مخ په ادومِ کښې د سعیر د غرهٔ خلاف
ورواړوه، او د هغهٔ خلاف نبوت وکړه ۳ او ورته ووایه
چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، اے د سعیر
غره زهٔ ستا خلاف یم، او زهٔ به ستا خلاف خپل لاس
دروغزوم او تا به وران ویجاړ کړم. ۴ زهٔ به ستا ښارونه په
کنډرو بدل کړم او تهٔ به شاړ او ویجاړ شې. نو بیا به تهٔ پوهه
شې چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ۵ په هغه وخت کښې کله چې
ما بنی اِسرائیلو له آخری سزا ورکوله، نو ستاسو دائمی
نفرت هغوئ قصابخانې ته ورسول، په هغه وخت کله چې په
هغوئ افت نازل شوے وو. ۶ نو په دې وجه دې زما په
خپل ذات قسم وی، مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی چې، زهٔ
به تاسو قتل و غارت ته حواله کړم او دا به تاسو پسې وی.
لکه څنګه چې تاسو د قتل و غارت نه نفرت ونهٔ کړو، نو دغه
شان قتل و غارت به تاسو پسې وی. ۷ زهٔ به د سعیر غر
وران ویجاړ کړم او څوک هم چې په دې ځی راځی ټول به
مړهٔ کړم. ۸ زهٔ به ستا غرونه د مړو نه ډک کړم، هغه
څوک چې په تُوره مړهٔ شوی دی، ستا په غونډو او ستا په
درو او ستا په ټولو ګړنګونو کښې به پراتهٔ وی. ۹ زهٔ به تا د
تل دپاره خالی کړم، او ستا ښارونه به بیا آباد نهٔ شی. نو بیا
به تهٔ پوهه شې چې زهٔ مالِک خُدائ یم. ۱۰ څکه چې تا
ووئیل، "دا دوه مُلکونه، اِسرائیل او یهوداه به زمونږ وی او
مونږ به د دوئ جائیدادونه قبضه کړُو،" اګر کهٔ زهٔ مالِک
خُدائ هم هلته وم، ۱۱ نو په دې وجه زما دې په خپل ذات
قسم وی، مالِک خُدائ فرمائی، زهٔ به تاسو سره د هغه قهر او
کینې په مطابق سلوک وکړم، کوم چې تاسو د هغوئ نه په
نفرت کولو کښې ښکاره کړو او زهٔ به خپل ځان د هغوئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مينځ کښې ځرګند کړم کله چې زۀ ستاسو عدالت کوم. ۱۲
نو بيا به تاسو پوهه شئ چې ما مالِک خُدائ هغه بدې خبرې
اورېدلې دى کومې چې تاسو د بنى اِسرائيل د غرونو په حقله
کړې دى. تاسو ووئيل چې، دا وران او شاړ پراتۀ دى، مونږ ته
دې د خوراک په توګه راکړے شوى دى چې وې خورو. ۱۳
تا زما خلاف په بې‌پرواهئ سره لافې او ډيرې خبرې وکړې،
او ما دا واورېدلې. ۱۴ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى، کله چې ټوله دُنيا د خوشحالئ نه خوند اخلى، زۀ به
تاسو شاړ کړم. ۱۵ ځکه چې تاسو خوشحالى وکړه کله چې
د بنى اِسرائيلو د قوم ميراث تباه شو، دغسې سلوک به زۀ
تاسو سره وکړم. اے د سعير غره، تۀ او ټول ادوم به وران
ويجاړ شې. نو بيا به هر څوک پوهه شى چې زۀ مالِک خُدائ
يم.“

## د بنى اِسرائيلو د بيا آبادېدلو په حقله پېشګوئې

۳۶ ۱ ”اے بنى آدمه، د بنى اِسرائيلو غرونو ته پېشګوئې
وکړه او ووايه، اے د بنى اِسرائيل غرونو، د مالِک خُدائ
کلام واورئ. ۲ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى
چې، ستا دشمن دا پېغور درکولو چې، واه، ستاسو د غرونو
پخوانئ لوړې څوکې زمونږ شوې. ۳ نو په دې وجه
پېشګوئې وکړه او ورته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائى چې، تۀ هغوئ وران ويجاړ کړې، د هرې خوا نه يې
وهبولې او تۀ د نورو مُلکونو او قومونو ملکيت او د خندا او
غيبت سبب وګرځېدې، ۴ نو په دې وجه، اے د بنى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائیلو غرونو، د مالِک خُدائ کلام واورئ. مالِک قادر
مطلق خُدائ غرونو غونډو او کړنګونو، او درو ته داسې
فرمائی چې، کندو کپرو، وران او تباه شوو ښارونو ته چې د
نورو قومونو د لوټ او د خندا سبب ګرځېدلی دی، ٥
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، ما په خپل غېرت
کښې د نورو قومونو خلاف فېصله وکړه، او خاص د ټول
ادوم په خلاف، ځکه چې هغوئ په ډېرې خوشحالئ او سپک
نظر سره زما مُلک خپل ملکیت کړو ترڅو هغوئ د هغهٔ د
څرن سرسبزه ځائ لوټ کړی. ٦ نو په دې وجه د بنی
اِسرائیلو د مُلک په حقله پېشګوئي وکړه او غرونو او غونډو،
کړنګونو او درو ته ووایه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، ما په خپل غېرتی قهر کښې دې قوم ته دا ووئیل
ځکه چې تاسو د نورو قومونو مسخرې تېرې کړې. ٧
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، هغوئ چې څهٔ
کړی دی نو د هغې په وجه ما قسم وخوړو چې، ستاسو نه
ګېرچاپېره مُلکونه به هم دغه شان سپک او بې‌عزته کړم. ٨
بلکې تاسو به، اے د بنی اِسرائیل غرونو، څانګې او ډېره مېوه
زما د خلقو بنی اِسرائیلو دپاره وکړئ، ځکه چې هغوئ به ډېر
زر خپل کور ته راشی. ٩ ګورئ، زهٔ ستاسو خیال ساتم، او
تاسو ته به په ښه سترګه وګورم، او ستا په پټو کښې به بیا
خلق کَرل ریبل کوی. ١٠ زهٔ به په تا کښې خلق زیات کړم،
تر دې چې د بنی اِسرائیل ټول قوم به زیات کړم. ښارونه به
بیا آباد شی او وران شوی ځایونه به بیا جوړ کړے شی. ١١
زهٔ به ستا د سړو او څاروو شمېر زیات کړم، او هغوئ به
بارداره او ډېر شی. زهٔ به خلق په تا کښې د پخوا په شان په
ځائ کړم او د پخوا نه به ډېر برکت درکړم. نو بیا به تهٔ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې پوهه شي چې زهٔ مالِک خُدائ يم. ۱۲ زهٔ به خپل خلق
بنی اِسرائيل راولم چې په تا باندې وګرځی. هغوئ به په تا
قبضه وکړی، او تهٔ به د هغوئ ميراث يې، او تهٔ به بيا هيڅکله
هم هغوئ د خپلو ماشومانو نه، محرومه نهٔ کړې. ۱۳ مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې خلق ستا په حقله وائی
چې تهٔ خلق لواړ تېروې او خپل قوم د هغوئ د ماشومانو نه
محرومومې، ۱۴ نو د دې نه وروستو به تهٔ نور خلق تباه نهٔ
کړې او نهٔ به نور تهٔ خپل اوسېدونکی د ماشومانو نه خلاص
کړې، مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۱۵ زهٔ به نور تا دې ته
پرې نهٔ ږدم چې د نورو قومونو پيغورونه واورې، او نهٔ به نور
د قومونو د مسخرو نهٔ په تکليف شې او نهٔ به تهٔ نور د خپلو
خلقو دپاره د تيندک سبب يې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی.“

## د بنی اِسرائيلو نوے ژوند

۱۶ نو بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۷ ”اے
بنی آدمه، کله چې د بنی اِسرائيلو خلق په خپل مُلک کښې
اوسېدل، هغوئ هغه په خپل عمل او چال چلن سره پليت
کړو. د هغوئ چال چلن زما په وړاندې لکه د ښځو د
مياشتنئ بيمارئ په شان ناپاکه وو. ۱۸ نو ما بيا په هغوئ
خپل غضب نازل کړو ځکه چې هغوئ په هغه مُلک کښې
وينه تويه کړې وه او ځکه چې هغوئ هغه مُلک په خپلو بُتانو
سره پليت کړے وو. ۱۹ ما هغوئ په نورو قومونو کښې
خوارهٔ کړل، او هغوئ په ټولو مُلکونو کښې خوارهٔ شوی وُو.
ما د هغوئ د چال چلن او عمل په مطابق د هغوئ عدالت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو. ۲۰ هغوئ چې چرته هم په نورو قومونو کښې خوارۀ
وارۀ شول، هغوئ زما د مقدس نوم، په دې طريقې سره
بې‌حرمتی وکړه، يعنې د هغوئ په حقله نورو قومونو دا وئيل
چې، اګر چې هغوئ د مالِک خُدائ خپل خلق دی، خو هغوئ
د هغۀ د وطن په پرېښودو مجبور شول. ۲۱ نو ما د خپل
مقدس نوم په حقله سوچ کولو، کوم چې د بنی اِسرائيلو په
نورو مُلکونو کښې چې چرته هم هغوئ رسېدلی وُو سپک پې
کړو. ۲۲ نو په دې وجه بنی اِسرائيلو ته ووايه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، اے بنی اِسرائيلو دا ستاسو
دپاره نۀ دی کوم څيزونه چې زۀ کوم، خو دا زما د مقدس
نوم په خاطر دی، د کوم چې تاسو په نورو قومونو کښې
بې‌حرمتی وکړه چرته چې هم لاړئ. ۲۳ زۀ به د خپل عظيم
نوم قدوسيت ښکاره کړم، د کوم چې تاسو د نورو قومونو په
مينځ کښې بې‌حرمتی وکړه. مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی،
کله چې زۀ د هغوئ د سترګو د وړاندې خپل ځان مقدس
ښکاره کړم نو بيا به هغه قومونه په دې وپوهېږی چې زۀ
مالِک خُدائ يم. ۲۴ ځکه چې زۀ به تاسو د نورو قومونو نه
راغونډ کړم، زۀ به تاسو د ټولو مُلکونو نه راجمع کړم او خپل
مُلک ته به مو واپس راولم. ۲۵ زۀ به پاکې اوبۀ په تاسو
وشيندم، نو تاسو به پاک شئ. زۀ به تاسو د خپلو ټولو حرام
کارو او بُتانو نه پاک کړم. ۲۶ زۀ به تاسو له نوے زړۀ
درکړم او په تاسو کښې به نوے روح واچوم. زۀ به تاسو نه
دا سخت زړۀ لرې کړم او نرم زړۀ به درکړم. ۲۷ زۀ به په
تاسو کښې خپل روح واچوم او خپلې تابعدارۍ طرف ته به
ستاسو پام راوګرځوم چې زما په اصُولو عمل کوئ او زما د
حکمونو په ساتلو کښې احتياط کوئ. ۲۸ نو تاسو به بيا په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه مُلک کښې اوسېږئ کوم چې ما ستاسو پلار نیکهٔ له
ورکړے وو. تاسو به زما خلق یئ، او زهٔ به ستاسو خُدائ
پاک یم. ۲۹ زهٔ به تاسو د خپلو ټولو پلیتو نه بچ کړم. زهٔ به د
غلو فصلونو له برکت ورکړم او په تاسو به نور قحط نهٔ
راولم. ۳۰ زهٔ به ستاسو د ونو مېوې او د پټو فصلونه زیات
کړم، ترڅو تاسو د نورو قومونو په مینځ کښې د قحط په وجه
شرمنده نهٔ شئ. ۳۱ نو بیا به تاسو ته خپل حرام کارونه او
غلط حرکتونه در په یاد شی، او بیا به تهٔ په خپلو حرامو
کارونو او ګناهونو د پښېمانۍ احساس وکړې. ۳۲ زهٔ غواړم
چې تاسو په دې خبره پوهه شئ چې دا زهٔ ستاسو دپاره نهٔ
کوم چې ګنې تاسو د دې حقدار یئ، مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی. اے بنی اِسرائیلو، د خپلو عملونو او کردار په وجه په
شرمونو وشرمېږئ. ۳۳ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، په کومه ورځ چې زهٔ تاسو د خپلو ټولو ګناهونو
نه پاک کړم، زهٔ به ستاسو ښارونه بیا ودان، او دوباره به
ستاسو کنډرې آبادې کړم. ۳۴ هغه زمکه چې شاړه او
بنجره وه په کومه به چې څوک هم تېرېدل او هغوئ به لیدله
چې شاړه به پرته وه دوباره به په هغه زمکه کښې کرونده
وشی. ۳۵ او خلق به داسې وائی چې، دا کومه زمکه چې
شاړه پرته وه اوس ترې باغِ عدن جوړ شوے دے. او کوم
ښارونه چې کنډرې پراتهٔ وُو، شاړ او تباه شوی وُو، اوس
مضبوط او بیا آباد شوی دی. ۳۶ نو بیا هغه قومونه کوم
چې ستاسو په خوا او شا کښې پاتې دی هغوئ به په دې پوهه
شی چې ما مالِک خُدائ هغه ځهٔ آباد کړل کوم چې وران
ویجاړ شوی وُو او هغه ځهٔ مې وکرل کوم چې اوچ او شاړ
شوی وُو. ما مالِک خُدائ وفرمائیل، او زهٔ به یې وکړم. ۳۷
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، یو ځل بیا به د
بنی اِسرائیلو درخواست ته توجو وکړم او د هغوئ دپاره به دا
وکړم، زۀ به د ګډو په شان د هغوئ د خلقو شمېره زیاته
کړم، ۳۸ زۀ به هغوئ دومره زیات کړم لکه څومره رَمې به
چې د نذرانو اخترونو دپاره یروشلم ته راتللې. نو هم داسې به
وران ویجاړ ښارونه د خلقو د رَمو نه ډک کړم. نو بیا به
هغوئ په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د اوچو هډُوکو دره

۳۷ ۱ د مالِک خُدائ لاس په ما وو، او هغۀ زۀ د مالِک
خُدائ د روح په وسیله رابهر کړم او د یوې درې مینځ کښې
یې ودرولم، او دا د هډوکو نه ډکه وه. ۲ هغۀ زۀ د هغوئ په
مینځ کښې مخکښې وروستو وګرځولم، او ما هلته ډېر زیات
هډُوکی د هغې درې په زمکه ولیدل. او هغه هډُوکی ډېر اوچ
وُو. ۳ هغۀ ما نه تپوس وکړو، ”اے بنی آدمه، ولې دا
هډُوکی ژوندی کېدے شی؟“ نو ما ورته په جواب کښې
ووئیل، ”اے مالِک قادر مطلق خُدایه، صرف تۀ په دې
پوهېږې.“ ۴ بیا هغۀ ما ته وفرمائیل چې، ”دې هډوکو ته
پېشګوئي وکړه او ورته ووایه، اوچو هډوکو، د مالِک خُدائ
کلام واورئ. ۵ مالِک قادر مطلق خُدائ دې هډوکو ته دا
فرمائی چې، ګوره زۀ به په تاسو کښې ساه واچوم، او تاسو
به راژوندی شئ. ۶ زۀ به په تاسو باندې پلې، غوښه راولم
او په څرمن کښې به مو پټ کړم، زۀ به په تاسو کښې ساه
واچوم، او تاسو به راژوندی شئ. نو بیا به تاسو په دې پوهه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ چې زهٔ مالِک خُدائ يم.“ ۷ نو ما هم هغه شان
پېشګوئي وکړه څنګه چې ما ته حکم شوے وو. او کله چې
ما پېشګوئي کوله، نو ناګهانه بيا ما د هډوکو کړسار او شور
واورېدو، او هډُوکی خپلو کښې يو بل سره يوځائ شول او
ډانچې ورنه جوړې شوې. ۸ نو بيا ما وليدل چې، پلې او
غوښې په هغوئ باندې راغلې او بيا په څرمن کښې پټ شول،
خو په هغوئ کښې ساه نهٔ وه. ۹ بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل،
”ساه ته پېشګوئي وکړه، پېشګوئي وکړه، اے بنی آدمه، او
ورته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی، اے ساه، د
څلورو طرفونو هواګانو نه راشه، او په دې قتل شوو کښې
ننوځه چې هغوئ راژوندی شی.“ ۱۰ نو ما هم هغه شان
پېشګوئي وکړه څنګه چې هغهٔ ما ته حکم وکړو، او ساه په
هغوئ کښې راغله، هغوئ راژوندی شول او په خپلو پښو
ودرېدل، يو ډېر لوئ لښکر ترې جوړ شو. ۱۱ بيا هغهٔ ما ته
وفرمائيل، ”اے بنی آدمه، دا هډوکی د ټول بنی اِسرائيلی قوم
دی. هغوئ وائی چې، زمونږ هډوکی اوچ شوی دی او زمونږ
اُميد ختم شوے دے، او مونږ ختم شوی يُو. ۱۲ نو په دې
وجه پېشګوئي وکړه او هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق
خُدائ داسې فرمائی چې، ګورئ، اے زما خلقو، زهٔ به
ستاسو قبرونه پرانيزم او د هغوئ نه به مو بهر راوکاږم او زهٔ
به تاسو واپس د اِسرائيل زمکې ته راولم. ۱۳ نو بيا به تاسو
زما خلق په دې خبره پوهه شئ چې زهٔ مالِک خُدائ يم، کله
چې زهٔ ستاسو قبرونه پرانيزم او تاسو د دې نه راوکاږم. ۱۴
زهٔ به خپل روح په تاسو کښې واچوم او تاسو به ژوندی شئ،
او زهٔ به تاسو په خپله زمکه آباد کړم. بيا به تاسو په دې پوهه
شئ چې ما مالِک خُدائ څهٔ فرمائيلی وُو، هغه ما وکړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ داسې فرمائی.“

## د يهوداه او د اِسرائيل يو ځائ کېدل

۱۵ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۱۶ ”اے بنی
آدمه، يو امسا راواخله او په هغې وليکه چې دا د يهوداه او
هغهٔ سره ولاړې قبيلې دی. بيا يو بله امسا راواخله او په هغې
دا وليکه چې، د اِفرائيم امسا، دا د يوسف او د ټولو بنی
اِسرائيلو د شمالی قبيلو ده چې ورسره ولاړې دی. ۱۷ بيا
هغوئ په يوه امسا کښې داسې يو ځائ کړه چې ستا په لاس
کښې هغوئ يو بل سره ونښلی. ۱۸ کله چې ستا د مُلک
خلق ستا نه تپوس وکړی چې، ولې تهٔ به مونږ ته دا نهٔ وائې
چې د دې څهٔ مطلب دے؟ ۱۹ هغوئ ته ووايه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ به د يوسف امسا راواخلم
کومه چې د اِفرائيم په لاس کښې ده او د بنی اِسرائيلی قبيلو
سره ده چې دهٔ سره يې اِتحاد دے او دا د يهوداه امسا سره
يو ځائ کوم، او د هغوئ نه يوه امسا جوړوم. او هغه دواړه
به زما په لاس کښې يو شی. ۲۰ نو په کومو امساګانو دې
چې ليکل وکړل د هغه خلقو د سترګو د وړاندې يې ونيسه
۲۱ او هغوئ ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، زهٔ به بنی اِسرائيل د هغه قومونو د مېنځ نه
راوکاږم چرته چې هغوئ تللی دی. زهٔ به هغوئ د هرې خوا
نه رايوځائ کړم او هغوئ به خپل مُلک ته واپس راولم. ۲۲
زهٔ به د بنی اِسرائيلو په مُلک او د بنی اِسرائيلو په غرونو کښې
د هغوئ نه يو قوم جوړ کړم. په هغوئ ټولو به يو بادشاه
حکومت کوی او هغوئ به بيا هيڅکله نهٔ دوه قومونه شی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ به په دوو بادشاهتونو تقسيم شى. ﴿٢٣﴾ هغوئ به نور خپل
ځانونه نۀ پليتوى په خپلو بُتانو او نۀ په بدو شکلونو او نۀ په
خپلو نورو ګناهونو باندې، ځکه چې زۀ به هغوئ د خپلو ناروا
واپس کېدو نۀ وساتم، او زۀ به هغوئ پاک کړم. هغوئ به زما
خلق وى او زۀ به د هغوئ خُدائ پاک يم. ﴿٢٤﴾ زما خِدمتګار
داؤد به د هغوئ بادشاه او د هغوئ ټولو به يو شپونکے وى.
هغوئ به زما په اصُولو عمل کوى او زما د قانون د منلو به
ډېر خيال ساتى. ﴿٢٥﴾ هغوئ به په هغه مُلک کښې اوسيږى
کوم چې ما خپل خِدمتګار يعقوب له ورکړے دے، هغه مُلک
چې په کښې ستاسو پلار نيکۀ اوسېدل. هغوئ او د هغوئ
ماشومان به نسل در نسل په دې کښې د تل دپاره اوسيږى،
او داؤد زما خِدمتګار به د تل دپاره د هغوئ شهزاده وى. ﴿٢٦﴾
زۀ به د هغوئ سره د امن يو لوظ وکړم، او دا به ابدى لوظ
وى. زۀ به هغوئ په خپل مُلک کښې آباد کړم او د هغوئ
شمېر به زيات کړم، او زۀ به د هغوئ په مينځ کښې خپله
مقدسه عبادتګاه د تل دپاره جوړه کړم. ﴿٢٧﴾ زما د اوسېدو
ځائ به د هغوئ سره وى، زۀ به د هغوئ خُدائ پاک يم، او
هغوئ به زما خلق وى. ﴿٢٨﴾ نو بيا قومونه به په دې پوهه شى
چې ما مالِک خُدائ بنى اِسرائيل مقدس کړل، کله چې زما
مقدسه عبادتګاه د تل دپاره د هغوئ په مينځ کښې ده.“

## د جوج په خلاف پېشګوئي کول

۳۸ ﴿١﴾ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو، ﴿٢﴾ ”اے
بنى آدمه، خپل مخ د ماجوج د مُلک د جوج خلاف کړه، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسک او توبل د لوئ شهزاده، په خلاف پیشګوئي وکړه. ۳
او ورته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی چې، اے
جوجه د مسک او توبل لوئ شهزاده زۀ ستاسو خلاف يم.
۴ زۀ به تا ته راوګرځوم، او په ژامنو کښې به دې کُنډې
واچوم او د خپل ټول فوج او آسونو سره به دې بهر راوکاږم،
ستا د آسونو سوارۀ په زغرو سمبال دی، او يو لوئ لښکر د
خپلو وړو او غټو ډالونو سره دے، او هغوئ ټولو خپلې تُوری
راويستلی دی. ۵ د فارس، ايتهوپيا او ليبيا خلق به تا سره
شی، او دوئ سره به خپل ډالونه او جنګی ټوپۍ وی. ۶
جُمر به هم سره د خپل ټول لښکر تا سره وی، او د شمال د
لرې ځائ بيت‌تُجرمه به خپل ټول لښکر سره او نور ډېر
قومونه به تا سره وی. ۷ تۀ تيار شه، تيار اوسه، ټول لښکر
چې تا ته د خوا او شا نه راغونډ شوے دے د هغې مشری
وکړه. ۸ ډېرې ورځې وروستو به تا ته حکم وشی چې
مسلح شه. په راتلونکی کالونو کښې به تۀ په يو داسې مُلک
حمله وکړې کوم چې د جنګ نه په آرام شوے دے، د چا
خلق چې د ډېرو مُلکونو نه د بنی اِسرائيلو غرونو ته راغونډ
شوی دی، کوم مُلک چې د ډېرې مودې نه وران وو. هغوئ د
هغه مُلکونو نه راوستلے شوی دی، او اوس هغوئ ټول په
امن کښې اوسيږی. ۹ تۀ او ستا ټول لښکر او هغه ډېر
قومونه چې تا سره دی به ورمخکښې شی، لکه د طوفان په
شان حمله به وکړی، او تاسو به لکه د وريځې په شان په هغه
مُلک کښې خوارۀ شئ. ۱۰ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې
فرمائی چې، په هغه ورځ به ستا ذهن کښې بد خيالونه راشی
او تۀ به غلطه منصوبه جوړه کړې. ۱۱ تۀ به ووائې چې، زۀ
به په هغه مُلک حمله وکړم چې ديوالونه يې نۀ وی، زۀ به په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه خلقو باندې حمله وکړم چې پُراَمنه او په آرام ژوند کوى،
هغوئ ټول بغير د دېوالونو او دروازو او کُنډو اوسيږى. ۱۲
زهٔ به لوټ مار جوړ کړم او خپل لاس به بيا ودان شوو
کنډرو پسې او د هغه خلقو خلاف کړم چې د ډېرو قومونو نه
راغونډ شوى دى، هغوئ اوس د څاروو او سامانونو نه مالا
مال دى، او د دُنيا په مينځ کښې اوسيږى. ۱۳ د شيبا او د
ددان او د ترسيس سوداګر او د دې ټول کليوال به تا ته وائى،
ولې تهٔ لوټ کولو له راغلے يې څهٔ؟ ولې تا خپل لښکر د دې
دپاره راغونډ کړے دے چې لوټ مار وکړى، سپين زر او
سرهٔ زر يوسى، چې څاروى او سامانونه يوسى او ډېر مال
لوټ کړى؟ ۱۴ نو په دې وجه، اے بنى آدمه، پېشګوئي وکړه
او جوج ته ووايه، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې
په هغه ورځ، کله چې زما خلق بنى اِسرائيل په امن اوسيږى
ولې تهٔ به دا نهٔ ګورې څهٔ؟ ۱۵ تهٔ به د خپل لرې ځائ شمال
نه راشې، تهٔ او ډېر قومونه به درسره وى، هغوئ ټول به په
آسونو سوارهٔ وى، يو لوئ لښکر، او تکړه فوج به وى. ۱۶ تهٔ
به زما د قوم بنى اِسرائيلو خلاف لکه د وريځ حمله وکړې
کومه چې زمکه پټوى. په راتلونکو ورځو کښې، اے جوجه،
زهٔ به تا د خپل مُلک په خلاف راپاڅوم، نو چې مُلکونه ما
وپېژنى کله چې ستا په وسيله زهٔ خپل ځان د هغوئ د سترګو
د وړاندې مقدس ښکاره کړم. ۱۷ مالِک قادر مطلق خُدائ
داسې فرمائى، ولې تهٔ هم هغه نهٔ يې د چا چې ما ډېر پخوا د
خپلو خِدمتګارانو د بنى اِسرائيلو د پيغمبرانو په وسيله خبرې
کړې وې؟ په هغه وخت کښې هغوئ تر ډېرو کالونو پورې
پېشګوئي وکړه چې زهٔ به تا د هغوئ خلاف راولم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## جوج له د خُدائ پاک سزا

۱۸ ”په هغه ورځ به داسې وشی، کله چې جوج د اِسرائيل په
مُلک حمله وکړی، زما سخت قهر به راوپارېږی، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائی. ۱۹ زهٔ په خپل غېرت او سخت قهر
کښې دا فرمايم چې په هغه ورځ به د اِسرائيل په مُلک کښې
يوه لويه زلزله راشی. ۲۰ د سمندر کبان، د هوا مارغان، د
صحرا ځناور، هر يو مخلوق کوم چې په زمکه باندې ګرځی،
او د زمکې په مخ باندې ټول انسانان به زما په حضور کښې
ولړزېږی. غرونه به اولټه شی، د غرونو څوکې به راونړېږی او
هر يو دېوال به په زمکه راپرېوځی. ۲۱ زهٔ به تُوره د جوج
خلاف په خپلو ټولو غرونو ورولېږم مالِک قادر مطلق خُدائ
فرمائی. د هر چا تُوره به د خپل ورور خلاف وی. ۲۲ زهٔ به
په وبا او قتل عام د هغهٔ عدالت وکړم، زهٔ به سېلابی بارانونه،
ږلۍ او سوزونکی ګوګړ په هغهٔ او د هغهٔ په لښکرو او ورسره
په نورو ډېرو قومونو نازل کړم. ۲۳ او بيا به زهٔ خپله لوئی او
پاکوالے ښکاره کړم، او زهٔ به خپل ځان د ډېرو قومونو په
وړاندې ښکاره کړم. بيا به هغوئ پوهه شی چې زهٔ مالِک
خُدائ يم.“

## د جوج شکست

۳۹ ۱ ”اے بنی آدمه، د جوج خلاف پېشګوئی وکړه او
ورته ووايه چې، مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، اے
جوجه، د مسک او توبل لوئ شهزاده زهٔ ستا خلاف يم. ۲
زهٔ به تا راتاو کړم او رابه دې کاږم. زهٔ به تا د شمال لرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځائ نه راولم او د بنی اِسرائيلو د غرونو خلاف به دې ولېږم.
٣ بيا به زۀ لينده ستا د ګس لاس نه واخلم او غشی به ستا
د ښی لاس نه وغورزوم. ٤ د بنی اِسرائيلو په غرونو به تۀ
سره د خپلو ټولو فوجيانو او ټولو قومونو چې تا سره دی قتل
کړے شې. زۀ به تاسو د هر قسمه مردار خورو مارغانو او
ځنګلی ځناورو په خوراک بدل کړم. ٥ تاسو به په هوار
مېدان کښې قتل شئ، ځکه چې دا ما مالِک قادر مطلق
خُدائ فرمائيلی دی. ٦ زۀ به په ماجوج او په هغوئ څوک
چې د سمندر په غاړه کښې په امن اوسيږی اور نازل کړم، او
هغوئ به په دې پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ يم. ٧ زۀ به
خپل مقدس نوم د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو په مينځ کښې
څرګند کړم. زۀ به نور خپل مقدس نوم بې‌حرمتئ ته پرې نۀ
ږدم، او قومونه به پوهه شی چې زۀ مالِک خُدائ په بنی
اِسرائيلو کښې مقدس ذات يم. ٨ دا ورځ راروانه ده، دا به
يقيناً راشی، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. دا هغه ورځ
ده چې ما يې ذکر کړے دے. ٩ بيا هغوئ څوک چې د بنی
اِسرائيلو په ښارونو کښې اوسيږی به بهر لاړ شی او وسلې به
د سوزولو دپاره استعمال کړی او واړۀ او غټ ډالونه، ليندې
او غشی، جنګی ډنډې او نيزې به وسوزوی. د اووۀ کالو
پورې به هغوئ دا سوزولو دپاره استعمالوی. ١٠ هغوئ ته
به ضرورت نۀ وی د پټو نه د خشاک راټولولو او نۀ به ورته د
ځنګل د کټ کولو، ځکه چې هغوئ به وسلې د خشاک په
طور استعمال کړی. او هغوئ به هغه لوټ کړی چا چې دوئ
لوټ کړی وُو او هغوئ به تالا کړی چا چې دوئ تالا کړی
وُو، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جوج ښخېدل

١١ ”په هغه ورځ به زهٔ جوج له په بنی اِسرائيلو کښې د يو
لوئ قبرستان ځائ ورکړم، په هغه وادئ کښې په کومه کښې
چې خلق د سمندر مشرق خوا ته تلهٔ راتلهٔ کوی. دا به د
مسافرو لاره بنده کړی، ځکه چې جوج او د هغهٔ ټول لښکر به
هلته ښخ وی. نو بيا به دې ته د هامون جوج وادی وئيلے
کيږی. ١٢ تر اوو مياشتو پورې به د بنی اِسرائيلو قوم هغوئ
ښخوی د دې دپاره چې زمکه ترې صفا کړی. ١٣ د هغه
مُلک ټول خلق به د هغوئ په ښخولو کښې مدد وکړی، په دې
ورځ چې زهٔ په دُنيا باندې خپل جلال ښرګند کړم، نو دا کار
به د دوئ دپاره د عزت باعث شی، مالِک قادر مطلق خُدائ
دا فرمائی. ١٤ د مُلک پاکولو دپاره به کسان لګولے شوی
وی چې هغه صفا کړی. او د هغوئ سره څهٔ کسان به په ټول
مُلک کښې وګرځی او نور لاشونه چې په زمکه پاتې وی چې
هغه ښخ کړی. او پوره اووهٔ مياشتې به هغوئ خپل لټون
جاری وساتی. ١٥ کله چې هغوئ په ټول مُلک کښې ګرځی
او په هغوئ کښې يو کس د انسان هډوکی وګوری، نو هغه به
د دې په خوا کښې نښه جوړه کړی ترڅو چې قبرکند هغه د
هامون جوج په وادئ کښې ښخ کړی. ١٦ هلته يو ښار هم
دے چې هامونه نوميږی. نو دغه شان به هغوئ زمکه پاکه
کړی. ١٧ اے بنی آدمه، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی
چې، هر قسمه مارغانو او ځناورو ته آواز وکړئ چې، راجمع
شئ او د ټولو ګيرچاپيره ځايونو نه هغه قربانئ دپاره راشئ
چې زهٔ يې تاسو دپاره تياروم، دا د بنی اِسرائيلو په غرونو
لويه قربانی ده. هلته به تاسو غوښې وخورئ او وينه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وڅښئ. ۱۸ تاسو به د تکړه سړو غوښې وخورئ او د زمکې
د شهزادګانو وينې به وڅښئ، دوئ ټول لکه د بسن د ګډانو او
ګډورو، چيلو او غويانو، څاربۀ څاروی په شان دی. ۱۹
کومه قربانی چې زۀ تاسو دپاره تياروم، د دې چربی به تاسو
په مړه خېټه وخورئ او وينه به تر هغې وڅښئ چې نشه شئ.
۲۰ زما په دسترخوان به تاسو د آسونو او د آسونو د سورو،
د تکړه سړو، او د هر قسم فوجيانو غوښې وخورئ، مالِک
قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. ۲۱ زۀ به د قومونو په مينځ
کښې خپل جلال ښکاره کړم، او ټول قومونه به وګوری هغه
سزا چې زۀ يې نازلوم او هغه لاس چې ما په هغوئ باندې
ايښے دے. ۲۲ د هغه ورځې نه به بنی اِسرائيل په دې پوهه
شی چې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم. ۲۳ او
قومونه به په دې پوهه شی چې بنی اِسرائيل د خپلې ګناه په
وجه جلاوطن کړے شوی وُو، ځکه چې هغوئ ما سره بې‌وفا
وُو. نو ځکه ما خپل مخ د هغوئ نه پټ کړو او هغوئ مې
دشمنانو ته حواله کړل، او په تُوره باندې قتل کړے شول.
۲۴ ما د هغوئ سره د هغوئ د ناپاکوالی او د بدعملۍ په
مطابق سلوک وکړو، او ما خپل مخ د هغوئ نه پټ کړو.“

## د بنی اِسرائيلو وطن ته واپس راوستل

۲۵ ”نو په دې وجه مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی،
زۀ به اوس يعقوب د غلامۍ نه واپس راولم او د اِسرائيل په
ټولو خلقو به رحم وکړم، او زۀ به په خپل مقدس نوم غيرت
وکړم. ۲۶ هغوئ به خپل شرم او هغه ټوله بې‌ايمانی هېره
کړی کومه چې هغوئ زما خلاف کړې وه کله چې هغوئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل مُلک کښې بغېر د چا د يرې نه په امن او سکون کښې
اوسيږى. ۲۷ کله چې زۀ هغوئ د نورو قومونو نه واپس
راولم او هغوئ د خپلو دشمنانو د مُلکونو نه راغونډ کړم، نو
زۀ به خپل ځان د نورو ډېرو قومونو د سترګو په وړاندې د
دوئ په وسيله مقدس ښکاره کړم. ۲۸ نو بيا به هغوئ پوهه
شى چې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم، اګر کۀ ما
هغوئ نورو مُلکونو ته جلاوطن کړى وُو، زۀ به هغوئ خپل
مُلک ته رايوځائ کړم، او د هغوئ يو کس به هم وروستو
پرې نۀ ږدم. ۲۹ زۀ به نور هيڅکله خپل مخ د دوئ نه پټ نۀ
کړم، زۀ به خپل روح د بنى اِسرائيلو په قوم نازل کړم، مالِک
قادر مطلق خُدائ دا فرمائى.“

## د مالِک خُدائ د نوى کور رويا

## د حزقى‌ايل يروشلم ته بوتلل

۴۰ ۱ زمونږ د جلاوطنۍ په پينځويشتم کال، د څوارلسم
کال په شروع کېدو او د مياشتې په لسم تاريخ چې ښار
راپرېوتو په هم دغه ورځ د مالِک خُدائ لاس په ما باندې وو
او هغۀ زۀ هلته بوتلم. ۲ د مالِک خُدائ په رويا کښې هغۀ
زۀ د بنى اِسرائيلو مُلک ته بوتلم. او د يو ډېر اوچت غر دپاسه
يې کښېنولم، د چا په جنوب طرف کښې چې يو څو عمارتونه
وُو کوم چې د يو ښار په شان ښکارېدل. ۳ کله چې هغۀ
زۀ هلته بوتلم، نو ما يو سړے وليدو څوک چې د زېړو په
شان ښکارېدو، او هغه د دروازې په خولۀ کښې ولاړ وو او په
لاس کښې يې د کتان فيته وه او د ناپ تول لرګے يې نيولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. ۴ هغه سړی ما ته ووئيل، ”اے بنی آدمه، په خپلو
سترګو وګوره او په خپلو غوږونو واوره او هر څۀ چې درته
ښايم هغې ته ښۀ توجو وکړه، ځکه خو تۀ د دې دپاره
راوستلے شوے يې. هر څۀ چې تۀ ووينې هغه د بنی اِسرائيلو
قوم ته ووايه.“

## د مشرق طرف ته دروازه

۵ ما وليدل چې هلته د مالِک خُدائ د کور نه ګېرچاپېره
دېوال راتاو وو. د هغه سړی په لاس کښې د ناپ کولو لرګے
لس نيم فټه وو چې دېوال يې ناپ کړو، او دېوال غټوالے لس
نيم فټه پلن وو او لس نيم فټه اوچت وو. ۶ نو بيا هغه د
هغې دروازې خوا ته لاړو چې مخ يې د مشرق طرف ته وو.
هغه په پوړو وروختو او د دروازې درشل يې ناپ کړو چې
هغه لس نيم فټه وه. ۷ هلته په دروازه کښې ښې طرف ته
او ګس طرف ته درې د څوکيدارانو کوټې جوړې شوې وې
چې د هرې يوې اوږدوالے او پلنوالے لس نيم فټه وو او د
څوکيدارانو د کوټو په مينځ کښې د دېوال پلنوالے پاو کم نهۀ
فټه وو. او د څوکيدارانو د کوټو شاته د تېرېدو لاره وه چې
لس نيم فټه ژوره وه او د دې کمرو نه وروستو يوه بله درشل
وه چې لس نيم فټه وه او د مالِک خُدائ کور ته تللې وه. ۸
نو بيا هغۀ د دروازې دننه هيوډۍ ناپ کړه، ۹ نو بيا د هغې
اوږدوالے څوارلس فټه وو او د هغې د ستنې پلنوالے درې
نيم فټه وو. د دې هيوډۍ آخر سر د خُدائ پاک د کور د
داخلېدو دواړو خواؤ دېوالونو ته نزدې او مخامخ وو. ۱۰ د
مشرق خوا ته دروازه کښې په دواړو طرفونو ته درې کوټې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وې، او ټولې په يو ناپ تول وې او د دې په مينځ کښې ټول
دېوالونه هم يو شان پلن وُو. ١١ نو بيا هغهٔ د دروازې سره د
داخلېدو د ځائ پلنوالے ناپ کړو، کوم چې اوولس نيم فټه
پلن وو او د دروازې سره لاره پاو کم درويشت فټه وه. ١٢
د څوکيدارانو د هرې کوټې مخکښې يو دېوال وو چې
يوويشت اِنچه وو او د هرې کمرې اوږدوالے او پلنوالے لس
نيم فټه وو. ١٣ نو بيا هغهٔ په دې دروازه د څوکيدار د کوټې
د شا د دېوال نه واخله د مخامخ کوټې د شا د دېوال پورې
فاصله ناپ کړه، هغه پاو کم څلور څلويښت فټه وه. ١٤
هغهٔ بيا د دروازې مينځنے دېوال کوم چې د خُدائ د کور
دربار سره يوځائ شوے وو ناپ کړو هغه يو سل او پينځهٔ
فټه وو. ١٥ د دروازې د داخلېدو نه واخله د دربار تر آخر
سر پورې فاصله اووهٔ اتيا نيم فټه وه. ١٦ د څوکيدارانو په
ټولو کوټو کښې وړې وړې کړکۍ غوندې وې، څهٔ په بهرنى
دېوالونو کښې وې، څهٔ د کمرو په دننه دېوالونو کښې وې. او
په دېوالونو د کجورو د ونو گُلکارى شوې وه.

## د مالِک خُدائ د کور بهرنے دربار

١٧ نو بيا هغهٔ زهٔ د دروازې په لار د خُدائ د کور بهرنى
دربار ته راوستلم. هلته ما يو څو کوټې او پياده لاره وليدله
چې د دربار نه گېرچاپېره راتاو شوې وه او دې لار ته مخامخ
ديرش کوټې وى. ١٨ دا پخه لار تر دروازو پورې جوړه
شوې وه او د دېوالونو نه تر دربار پورې غزيدلې وه او هم
دومره فاصله يې د عمومى دروازې پورې وه. ١٩ نو بيا هغهٔ
د دننه نه د ښکته دروازې د دربار داخل نه بهر طرف ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فاصله ناپ کړه، دا د مشرق خوا ته يو سل او پينځۀ اويا فټه او شمال خوا ته هم يو شان فاصله وه.

## شمال خوا ته دروازه

۲۰ نو بيا هغۀ شمال خوا ته د دروازې اوږدوالے او پلنوالے ناپ کړو، کوم چې بهر صحن طرف ته ځی. ۲۱ د دروازې د داخلېدو په لار کښې دواړو خواو د څوکيدارانو درې درې کوټې وې، د هغوئ په مينځ کښې دېوالونه او د هغوئ دننه کوټې ټولې د هغې وړومبې مشرقی دروازې په اندازه وې. د دروازې ډيوډی اووۀ اتيا نيم فټه اوږده وه او پاو کم څلور څلوېښت فټه پلنه وه. ۲۲ د مشرق دروازې په شان، د هغې د داخلېدو کوټه او کړکۍ او د کجورو د ونو ګُلکاری هم هغه شان په يوه اندازه شوې وې. او اووۀ پوړۍ هم ورته ختلې وې، چې مخامخ ورته ډيوډی وه چې دربار ته تللې وه. ۲۳ هلته دننه د دربار طرف چې د شمال خوا نه يوه دروازه وه، بلکل لکه د هغه دروازې په شان لکه څنګه چې په مشرق کښې وه. هغۀ د يوې دروازې بلې دروازې ته مخامخ فاصله ناپ کړه، هغه يو سل او پينځۀ اويا فټه وه.

## جنوبی دروازه

۲۴ نو بيا هغه سړی زۀ د جنوب خوا ته بوتلم او ما بيا هلته يوه دروازه وليده چې د جنوب خوا ته يې مخ وو. هغۀ بيا د دې دېوالونه او کوټې ناپ کړې چې بلکل د هغه نورو دروازو په ناپ تول وې. ۲۵ د دروازې او د هغې د چوکيدارانو د کوټو ګېرچاپېره وړې وړې کړکۍ وې، د هغې کړکۍ د نورو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړکو په شان وي. د تېرېدو لار اووۀ اتيا نيم فټه اوږده وه او پاو کم څلور څلويښت فټه پلنه وه. ۲۶ د هغه کوټو مخامخ هغې ته د بهر نه يوه لار ورختلې وه چې اووۀ پوړۍ يې وې، او د هغې په دېوالونو باندې په دواړو خواؤ د کجورو د ونو ګُلکارى شوې وه. ۲۷ د دننه دربار هم يوه دروازه وه چې جنوب خوا ته يې مخ وو، او هغۀ بيا د دې دروازې نه د بهر د جنوب دروازې خوا ته ناپ تول وکړو، هغه يو سل او پينځۀ اويا فټه وو.

## دننه دربار ته داخلى دروازه

۲۸ نو بيا هغه سړى زۀ دننه دربار ته په جنوبى دروازه باندې راوستلم، او هغۀ جنوبى دروازه ناپ کړه، هغه هم د نورو دروازو په ناپ وه. ۲۹ د هغې د څوکيدارانو کوټې، او مينځنى دېوالونه او ډيوړۍ د هغه نورو دروازو سره په ناپ کښې يو شان وې. دروازه او د هغې د کوټو کړکۍ ګېرچاپېره وې، هغه اووۀ اتيا نيم فټه اوږدې او پاو کم څلور څلويښت فټه پلنې وې. ۳۰ د دروازې د داخلېدو د کوټې ناپ تول کومه چې دننه د دربار صحن ته ورغلې وه څوارلس فټه اوږده او پاو کم څلور څلويښت فټه پلنه وه. ۳۱ د هغې د کوټې مخ بهر دربار خوا ته وو، د هغې په ستنو د کجورو د ونو ګُلکارى شوې وه، او اتۀ پوړۍ ورته ورختلې وې.

## د داخلى دربار شرقى دروازه

۳۲ نو بيا هغۀ زۀ په مشرقى لار دننه دربار ته راوستلم، او هغۀ هغه دروازه ناپ کړه، د هغې ناپ هم د نورو سره يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان وو. ۳۳ د هغې د ځوکیدارانو کوټې، مینځنی دېوالونه او
د هغې ډیوډۍ د نورو دروازو سره یو شان په یو ناپ وې. د
دروازې او د برنډې یو شان ګېرچاپېره کړکۍ وې. دا اووۀ
اتیا نیم فټه اوږدې وې او پاو کم څلور ځلوېښت فټه پلنې
وې. ۳۴ د هغې د ډیوډۍ مخ دننه د دربار طرف ته وو، او د
دواړو طرفو په ستنو یې د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه، او
اتۀ پوړۍ ورختلې وې.

## د دربار دننه د شمال خوا ته دروازه

۳۵ نو بیا هغۀ زۀ د شمال دروازې طرف ته راوستلم او هغۀ
د هغې ناپ واخستو. او هغه لار هم د هغه نورو په شان په یو
ناپ وه. ۳۶ د هغې د ځوکیدارانو کوټې، مینځنی دېوالونه او
د هغې ډیوډۍ د نورو دروازو سره یو شان په یو ناپ وې. د
دروازې او برنډې یو شان ګېرچاپېره کړکۍ وې. دا اووۀ اتیا
نیم فټه اوږدې وې او پاو کم څلور ځلوېښت فټه پلنې وې.
۳۷ ډیوډۍ بهرنی دربار ته مخامخ وه. د تېرېدو د ځائې په
دېوالونو باندې د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه. دې
دروازې ته اتۀ پوړۍ ختلې وې.

## د قربانو دپاره کوټې

۳۸ د شمال د طرف نه دننه یوه دروازه وه چې د داخلېدو د
کوټې د لارې نه دننه دربار ته تللې وه چې هلته به په هغې
کښې د سوزولو قربانۍ خاروی وینځلے کېدل. ۳۹ د
دروازې د ډیوډۍ سره په دواړه خواو کښې دوه مېزونه ؤُو،
په کومو به چې د سوزولو د نذرانو، د ګناه د نذرانو او د ګناه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تاوان د نذرانو ښاروی حلالولے شول. ۴۰ د کوټې
دروازې د کوټې د بهرنی دېوال سره، د پوړو سره نزدې د
شمال دروازې ته د داخلېدو په لار هلته هم دوه مېزونه وُو، او
د پوړو په بل طرف هم دوه مېزونه وُو. ۴۱ نو بيا د دروازې
په يوې خوا کښې هم څلور مېزونه وُو او په بله خوا کښې هم
څلور مېزونه وُو. دا ټول اتۀ مېزونه وُو په کومو به چې د
قربانۍ ښاروی حلالېدل. ۴۲ نو هلته هم څلور مېزونه د
تراشلے شوو کاڼو نه د سوزېدونکې قربانۍ دپاره جوړ شوی
وُو چې يو دېرش نيم اِنچه اوږدۀ او پلن وُو او يوويشت اِنچه
لوړ وُو. په دې مېزونو باندې د قربانۍ د ښاروو د حلالېدلو
دپاره د قصابانو چړې او نور څيزونه پراتۀ وُو. ۴۳ په
ګېرچاپېره دېوال کښې د دوو څُلو والا کُنډې راځوړندې وې
چې يو څپک اوږدې وې. دا مېزونه د نذرانو د ښاروو دپاره
وُو. ۴۴ نو بيا مونږ دننه دربار ته ننوتو، هلته د شمالی
دروازې سره يوه کوټه وه چې دننه دربار طرف ته کولاو وه
او د هغې مخ جنوب طرف ته وه. د جنوبی دروازې سره هم
دا شان کوټه وه چې د هغې مخ شمال طرف ته وو. ۴۵ هغه
سړی ما ته ووئيل، د کومې کوټې چې د جنوب طرف ته يې
مخه ده د هغه اِمامانو دپاره ده څوک چې د مالِک خُدائ په
کور کښې مشران دی. ۴۶ او هغه کوټه د کومې مخه چې
شمال خوا ته ده د هغه اِمامانو دپاره ده څوک چې د
قربانګاه مشران دی. او هغوئ د صدوق زامن دی، څوک
چې د ليويانو د قبيلې يواځې هغه کسان دی چا ته چې د
مالِک خُدائ په حضور کښې د خِدمت کولو اجازت ورکړے
شوے دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دننه دربار او د مالِک خُدائ کور

۴۷ نو بیا هغه سړی د مالِک خُدائ د کور دننه دربار ناپ
کړو او هغه یو سل او پینځهٔ اویا فټه اوږد او یو سل او پینځهٔ
اویا فټه پلن وو. او قربانګاه د دربار په صحن کښې د مالِک
خُدائ د کور مخې ته وه. ۴۸ بیا هغهٔ زهٔ د مالِک خُدائ د
کور دننه کوټې ته راوستلم. او هغهٔ د ډیوډۍ د ستنو ناپ
واخستو، او هغه پاو کم نهٔ فټه په هرې خوا پلنې وې، او په
خپله د داخلېدو د دروازې پلنوالے ځلیریشت فټه وو، او یو
بل دېوال وو په هره خوا کښې چې پاو کم شپږ فټه وو. ۴۹ د
داخلېدو د کوټې پلنوالے پینځهٔ دېرش فټه وو، او اوږدوالے
یې یوویشت فټه وو. او دې کوټې ته لس پوړۍ ورختلې وې، د
دروازې په دواړو خواو دېوالونو کښې ستنې ولاړې وې.

۴۱ ۱ بیا هغه سړی زهٔ د خُدائ د کور مقدس ځائ ته
راوستلم او هغهٔ د دروازو ستنې ناپ کړې، دواړو خواو ته د
ستنو پلنوالے لس نیم فټه وو. ۲ د داخلېدو لار اوولس نیم
فټه پلنه وه، او د دواړو خوا دېوال پاو کم نهٔ فټه اوږد وو.
هغهٔ بهرنے مقدس ځائ هم ناپ کړو، دا اویا فټه اوږد وو او
پینځهٔ دېرش فټه پلن وو. ۳ بیا هغه دننه مقدس ځائ ته
لاړو او د داخلېدو د لارې ستنې یې ناپ کړې، او هره یوه
درې نیم فټه پلنه وه. د داخلېدو لار لس نیم فټه پلنه وه، او د
دواړو خواؤ دېوالونه پاو باندې دولس فټه پلن ؤو. ۴ او
هغهٔ د دننه مقدس ځائ اوږدوالے ناپ کړو، هغه پینځهٔ
دېرش فټه وو، او د دې پلنوالے پینځهٔ دېرش فټه وو. هغهٔ ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ووئيل، ”دا د ټولو نه زيات مقدس ځائ دے.“

## د مالِک خُدائ د کور سره لګېدلې کوټې

٥ بيا هغۀ د خُدائ د کور دېوال ناپ کړو، هغه لس نيم فټه
پلن وو. او د خُدائ د کور ګېرچاپېره هر طرف ته کوټه اووۀ
فټه پلنه وه. ٦ دا کوټې درې منزله وې، او په هر منزل
کښې دېرش کوټې وې. د خُدائ د کور د دېوال ګېرچاپېره
پايې وې د دې دپاره چې دا د دې کوټو دپاره ټيک وې. نو
چې د دې کوټو تيرونه دېوال کښې دننه نۀ لګېدل. ٧ د
خُدائ د کور ګېرچاپېره د دويم چت کوټې د اول چت نه غټې
وې او د درېم چت کوټې د دويم چت نه غټې وې. کومه
ډانچه چې د خُدائ د کور ګېرچاپېره جوړه شوې وه د لاندې
نه بره حالت کښې جوړه وه، نو هغه کوټې کولاو وې چې بره
وې. د لاندې نه تر درېم چت پورې پوړۍ ختلې وې. ٨ ما
وليدل چې د خُدائ د کور نه ګېرچاپېره اوچته چونتره وه،
چې د کوټو بنياد وو. د دې ناپ تول لس نيم فټه اوچت وو.
٩ د هغه کوټو بهرنے دېوال پاو کم نهۀ فټه پلن وو. د کوټو
په مينځ کښې هغه کولاو ځائ وو. ١٠ او د خُدائ د کور نه
ګېرچاپېره د اِمامانو کوټې پينځۀ دېرش فټه پلنې وې. ١١ د
کولاو ځائ نه دې کوټو ته د ورننوتلو لارې ورغلې وې، يوه په
شمال کښې او بله په جنوب کښې وه، او بنياد چې دا کولاو
ځائ په خپلو کښې يو ځائ کوی پاو کم نهۀ فټه کولاو وو.

## د مغرب طرف ته يو کور

١٢ يو بل عمارت چې مخه يې د خُدائ د کور د دربار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مغرب طرف ته وه هغه يو سل دوويشت نيم فټه کولاو او يو
سل او اووۀ پنځوس نيم فټه اوږد وو، او د هغې دېوالونه پاو
کم نهۀ فټه پلن وُو.

## د مالِک خُدائ د کور ناپ کېدل

۱۳ بيا هغۀ د خُدائ د کور ناپ وکړو، دا يو سل او پينځۀ
اويا فټه اوږد وو، او د خُدائ د کور دربار او هغه عمارت
چې د دې دېوالونو سره وو هغه هم يو سل او پينځۀ اويا فټه
اوږد وو. ۱۴ مشرق طرف ته د مالِک خُدائ د مقدس کور
دربار د خُدائ د کور مخې سره يو سل او پينځۀ اويا فټه پلن
وو. ۱۵ بيا هغۀ د هغه عمارت اوږدوالے د دېوالونو سره
ناپ کړو چې د خُدائ د کور دربار ته مخامخ وو، چې دا يو
سل او پينځۀ اويا فټه وو.

## د مالِک خُدائ د کور دننه حِصه

د مالِک خُدائ د کور هېوړۍ، مقدس ځائ او د ټولو نه زيات
مقدس ځائ، ۱۶ او ورې کړکۍ او د دې دريواړو نه
ګېرچاپېره هالونه د دې هر څۀ نه وروستو او د هېوړۍ سره
ټول په لرګی پټ وُو. فرش او دېوال، تر کړکيانو پورې او
کړکۍ هم پټې وې. ۱۷ د دروازو دپاسه کومه لار چې د
مالِک خُدائ د کور دننه مقدس ځائ ته ورغلې وه او د هغې
په دننه او بهر دېوالونو باندې هم ۱۸ د وزرو والا د مخلوق او
د کجورو د ونو تصويرونه جوړ شوی وُو. او د وزرو والا
مخلوق او د کجورو ونې يو د بل پسې نقش شوی وُو، او د هر
يو وزرو والا مخلوق دوه مخونه وُو. ۱۹ انسانی مخ يې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کجورې يوې ونې طرف ته وو او د زمرى مخ يې د کجورې د
بلې ونې طرف ته وو. دا تصويرونه ګېرچاپېره د خُدائ پهٔ
کور کښې نقش شوى وُو. ۲۰ د فرش نه تر د ننوتلو دروازې
پورې پاس، او د بهرنى مقدس ځائ پهٔ دېوال باندې د وزرو
والا د مخلوق او د کجورو د ونو تصويرونه جوړ شوى وُو.
۲۱ د بهرنى مقدس ځائ د دروازو چوکاټونه مربع وُو او د
ډېر زيات مقدس ځائ مخې ته هم د دې پهٔ شان وُو.

## د لرګى قربانګاه

۲۲ هلته د لرګى يوه قربانګاه وه چې پاو باندې پينځهٔ فټه
اوچته او درې نيم فټه پلنه وه. د دې ګوټونه، د دې بېخ، او د
دې اړخونه د لرګى نه جوړ شوى وُو. هغه سړى ما ته ووئيل،
”دا هغه مېز دے چې د مالِک خُدائ پهٔ وړاندې ولاړ دے.“

## دروازې

۲۳ بهرنى دواړو مقدس ځايونو او ډېر زيات مقدس ځائ
دوه دروازې وې. ۲۴ هرې يوې دروازې دوه پلې لرلې او
هرې يوې پلې ته دوه قبضې وې. ۲۵ او د بهرنى مقدس ځائ
پهٔ دروازو د وزرو والا مخلوق تصوير او د کجورو د ونې
تصويرونه نقش وُو لکه څنګه چې پهٔ دېوالونو باندې نقش
شوى وُو، او هلته د لرګو يو دالان د وړې کوټې مخې ته جوړ
شوے وو. ۲۶ د وړې کوټې پهٔ بهرنى دېوالونو باندې وړې
کړکۍ وې چې پهٔ هره يوه باندې د کجورو ونې نقش شوې
وې. د خُدائ د کور د وړو کوټو مخې کښې هم د لرګو
دالانونه وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۴۲

۱ بیا هغه سړی زۀ د شمال خوا ته بهرنی دربار ته
بوتلم او زۀ يې د مالِک خُدائ د کور مخامخ دربار کوټو ته او
بهرنی دېوال ته مخامخ د شمال خوا ته راوستلم. ۲ هغه
کور چې دروازه يې د شمال طرف ته وه هغه يو سل او پينځۀ
اويا فټه اوږده وه او اووۀ اتيا نيم فټه پلنه وه. ۳ دواړه په
دې حِصه کښې پينځۀ دېرش فټه کښې د دننني دربار نه او په
مخامخ بله حِصه کښې د بهرنی دربار نه، په درېواړو منزلونو
کښې کړکۍ يو بل ته مخامخ وې. ۴ د دې کوټو په مخکښې
يوه دننه لار وه اوولس نيم فټه پلنه او يو سل او پينځۀ اويا فټه
اوږده وه. د دې دروازې په شمال کښې وې. ۵ نو بره
کوټې تنګې وې، ځکه چې په دې کښې هالونو د لاندې او
مينځنی منزلونو د کور د کوټو په نسبت ډېر ځائ نيولے وو.
۶ د درېم چت په کوټو کښې ستنې نۀ وې، لکه څنګه چې د
دربار وې، نو دا نسبت د لاندې او مينځنی چتونو نه لږې
شان وړې وې. ۷ هلته بهرنے دېوال د کوټو او د بهرنی
دربار سره برابر وو، او دا د کوټو مخې ته اووۀ اتيا نيم فټه
اوږد وو. ۸ نو د کوټو قطار د بهرنی دربار په طرف اووۀ
اتيا نيم فټه اوږد وو، او د مقدس ځائ سره نزدې قطار يو
سل او پينځۀ اويا فټه اوږد وو. ۹ لاندې کوټو ته د مشرق
طرف نه د ننوتو لار وه کومه چې دې ته د بهرنی دربار نه
ورننوځی. ۱۰ د خُدائ د کور جنوب طرف ته يو بله آبادی
وه چې د مالِک خُدائ د کور مغرب طرف ته وه ۱۱ چې د
دې مخې ته د تېرېدو لاره وه. دا لکه د شمال د کوټو په شان
وې، دا هم هغه هومره اوږدې او پلنې وې، او هم يو شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لارې او ناپ یې وو. د شمال د تېرېدو د دروازو په شان د دې
١٢ د کوټو دروازې جنوب طرف ته وې. هلته یوه دروازه وه
چې دا د حِفاظتی دېوال سره یو شان د مشرق طرف ته
غزېدلې وه، په کومه چې یو کس کوټو ته ننوځی. ١٣ بیا هغهٔ
ما ته ووئیل، ”شمال او جنوب ته کوټې چې د مالِک خُدائ د
کور دربار ته یې مخې دی د اِمامانو کوټې دی، چرته چې هغه
اِمامان ځوک چې د مالِک خُدائ په وړاندې ودرېدل نو هغوئ
دې مقدسې نذرانې وخوری. هلته به هغوئ ډېرې مقدسې
نذرانې کېږدی، یعنې د غلې نذرانې، د ګناه نذرانې او د ګناه د
تاوان نذرانې، ځکه چې هغه ځائ مقدس دے. ١٤ کله چې
اِمامان د مالِک خُدائ په مقدس کور کښې داخل شی، بیا به
هغوئ تر هغه وخته بهرنی دربار ته نهٔ ځی ترڅو چې هغوئ
هغه مقدسې جامې ونهٔ باسی په کومو کښې چې هغوئ
خِدمت کولو، ځکه چې دا مقدسې دی. هغوئ له پکار دی چې
نورې کپړې واچوی د دې نه مخکښې چې هغوئ هغه ځایونو
ته ورشی کوم چې د نورو خلقو دپاره دی.“

## د مالِک خُدائ کور ناپ کول

١٥ کله چې هغهٔ د مالِک خُدائ د کور دننه هر څهٔ ناپ
کړل، بیا هغهٔ زهٔ په مشرقی دروازې بهر راوویستلم او هغهٔ
ګېرچاپېره ټول هر څهٔ ناپ کړل. ١٦ هغهٔ د ناپ تول په
چوکۍ مشرقی دېوال ناپ کړو، دا اتهٔ سوه او پینځهٔ اویا فټه
اوږد وو. ١٧ بیا هغهٔ شمال طرف ته دېوال ناپ کړو، دا د
ناپ په چوکې اتهٔ سوه او پینځهٔ اویا فټه وو. ١٨ هغهٔ جنوبی
طرف دېوال ناپ کړو، هغه د ناپ په چوکې اتهٔ سوه او پینځهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اویا فټه وو. ۱۹ بیا هغه مغرب طرف ته تاو شو او هغه
دېوال یې ناپ کړو، او د ناپ په چوکې دا اتۀ سوه او پينځۀ
اویا فټه وو. ۲۰ بیا هغۀ هغه څلور واړه طرفونه ناپ کړل.
او د دې نه ګېرچاپېره دېوال وو، چې اتۀ سوه او پينځۀ اویا
فټه اوږد او اتۀ سوه او پينځۀ اویا فټه پلن وو، د دې مقصد دا
وو چې عام ځائ د مقدس ځائ نه جدا کړی.

## د مالِک خُدائ جلال خپل مقدس کور ته راواپس کېدل

۴۳
۱ بیا زۀ هغه سړی هغه دروازې ته راوستلم چې د
مشرق طرف ته یې مخ وو، ۲ او ناګهانه ما ولیدل چې د
بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک جلال د مشرق خوا نه راروان وو.
د هغۀ آواز لکه د ډېرو اوبو د غرار په شان وو، او زمکه د
هغۀ د جلال په وجه روښانه وه. ۳ کومه رویا چې ما
ولیدله د هغه رویا په شان وه کومه چې ما لیدلې وه کله چې
هغه د ښار تباه کولو له راغلو او د هغه رویا په شان چې ما د
کبار د سیند په غاړه ولیدله، او زۀ پړمخې پرېوتلم. ۴ د
مالِک خُدائ جلال د مالِک خُدائ په کور کښې د نمرخاتۀ
دروازې نه ورننوتو. ۵ بیا زۀ روح اوچت کړم او دننه
دربار ته یې راوستلم، او د مالِک خُدائ جلال د خُدائ کور
ډک کړو. ۶ کله چې هغه سړے زما خوا کښې ولاړ وو، ما
دا واورېدل چې څوک ما ته د خُدائ د کور دننه نه خبرې
کوی. ۷ هغۀ وفرمائیل، ”اے بنی آدمه، دا زما تخت او د
پښو د لګولو مقام دے. دا هغه مقام دے چې زۀ به په کښې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تل دپاره د بنی اِسرائیلو په مینځ کښې اوسېږم. هغوئ او د
هغوئ بادشاهان به نور په بُتخانو کښې بُت پرستی او زما د
مقدس نوم سپکاوے نۀ کوی. او نۀ به نور دوئ د خپلو مړو
بادشاهانو د علاقائی زیارتونو عزت کوی. ٨ کله چې
هغوئ خپل درشل زما درشل سره خوا کښې او د خپلو
دروازو بازو زما د دروازو د بازوګانو سره ولګول، زما او د
هغوئ په مینځ کښې صرف یو دېوال وو، هغوئ زما د مقدس
نوم بې‌حرمتی په خپلو بدو عملونو سره وکړه. نو ما په خپله
غصه کښې هغوئ تباه کړل. ٩ هغوئ دې اوس خپله بُت
پرستی او د خپلو بادشاهانو زیارتونه زما د مخې نه اخوا
کړی، او زۀ به د هغوئ په مینځ کښې د تل دپاره اوسېږم. ١٠
اے بنی آدمه، د مالِک خُدائ کور د بنی اِسرائیل قوم ته
وښایه، چې هغوئ په خپلو ګناهونو وشرمېږی. پرېږده چې
هغوئ په غور سره نقشه وګوری، ١١ او کۀ چرې هغوئ په
خپلو ټولو کارونو باندې وشرمېږی کوم چې هغوئ کړی دی،
نو هغوئ ته د خُدائ د کور نقشه او د هغې ترتیب، د هغې د
وتو لارې او د داخلېدو لارې، د هغې ټوله نقشه او د هغې
اصُول او احکام وښایه. دا د هغوئ د وړاندې ولیکه نو چې
هغوئ د دې ترتیب وفاداری وکړی او د دې د احکامو پیروی
وکړی. ١٢ د مالِک خُدائ د کور دا قانون دے، د غرۀ
دپاسه ګېرچاپېره علاقه به د ټولو نه زیاته مقدسه وی. دا د
خُدائ د کور قانون دے.“

## قربانګاه

١٣ ”دا د قربانګاه په اوږدو ناپ تول دے، د قربانګاه نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګېرچاپېره غاړه يوويشت اِنچه ژوره وه او يوويشت اِنچه پلنه
وه، او د هغې ګېرچاپېره غاړه نهۀ اِنچه پلنه وه. او هم دا د
قربانګاه اوچتوالے دے، ۱۴ په زمکه د غاړې نه بره تر
ښکته چجې پورې دا درې نيم فټه اوچته وه او يوويشت اِنچه
پلنه وه. او د وړې چجې نه تر غټې چجې پورې دا اووۀ فټه
اوچته او يوويشت اِنچه پلنه وه. ۱۵ د قربانګاه برنۍ برخه
اووۀ فټه اوچته وه چې قربانۍ به په کښې سوزولے کېدله او
د هغې په هر يو ګوټ کښې يو يو ښکر لګولے شوے وو. ۱۶
قربانګاه د سر څلور ګوټونه وُو، يوويشت فټه اوږدۀ او
يوويشت فټه پلن وو. ۱۷ بره چجه هم مربع وه، څلېريشت
نيم فټه اوږده او څلېريشت نيم فټه پلنه وه، چې غاړه يې
يوويشت اِنچه وه او ګېرچاپېره لس نيم اِنچه غاړه وه. او د
قربانګاه پوړۍ نمرخاتۀ طرف ته وې.“

## د قربانګاه وقف کول

۱۸ بيا هغۀ ما ته وفرمائيل، ”اے بنى آدمه، مالِک قادر
مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، د سوزېدونکې قربانۍ د
نذرانو دپاره به دا اصُول وى او په قربانګاه به وينه
وشيندلے شى کله چې دا تياره شى، ۱۹ تاسو به يو ځوان
سخے د ګناه د نذرانې دپاره اِمامانو له ورکړئ، څوک چې
ليويان دى او د صدوق د نسل نه دى، او څوک چې زما
وړاندې خِدمت کوى، مالِک خُدائ دا فرمائى. ۲۰ تاسو د
دې نه لږه وينه واخلئ او د قربانګاه په څلورو ګوټونو کښې
په ښکرونو باندې په بره حِصه کښې او د هغې په غاړو باندې
وشيندئ، او دغه شان قربانګاه مقدسه کړئ او د هغې دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کفاره ورکړئ. ۲۱ تاسو به يو غوَيے د ګناه د نذرانې دپاره
واخلئ او د خُدائ د کور په مقرر شوی ځائ د مقدس ځائ
نه بهر به يې وسوزوئ. ۲۲ په دويمه ورځ به تاسو بےعيبه
چېلے د ګناه د نذرانې دپاره پېش کړئ، او قربانګاه به پرې
داسې مقدسه کړئ لکه څنګه چې مو په غوَيی باندې پاکه
کړې وه. ۲۳ کله چې تاسو د دې د پاکولو کار ختم کړئ، نو
تاسو به بيا يو ځوان سخے او ګډورے د رمې نه نذرانه کړئ،
چې دواړه بےعيبه وی. ۲۴ تاسو دا د مالِک خُدائ په
وړاندې پېش کړئ، او اِمامان به په دوئ مالګه واچوی او دا
به د سوزېدونکې قربانۍ په طور پېش کړئ. ۲۵ تاسو به د
اووهٔ ورځو دپاره هره ورځ يو چېلے د ګناه د نذرانې دپاره
پېش کوئ، تاسو به د رمې نه يو ځوان غوَيے او يو ګډورے
هم پېش کوئ، چې درې واړه بےعيبه وی. ۲۶ د اووهٔ ورځو
دپاره دې هغوئ د قربانګاه او د هغې د پاکولو دپاره فديه
پېش کړی، نو داسې به هغوئ دا وقف کړی. ۲۷ د دې ورځو
په آخر کښې، د اتمې ورځې نه وروستو هم اِمامان به په
قربانګاه ستاسو سوزېدونکې او د عبادت نذرانې پېش کړی.
بيا به زهٔ تاسو قبول کړم. مالِک قادر مطلق خُدائ دا
فرمائی.“

## شهزادګان، ليويان او اِمامان

۴۴ ۱ بيا زهٔ هغه سړی واپس د مقدس ځائ بهرنۍ
دروازې ته راوستلم، کومه چې د نمرخاتهٔ طرف ته وه، او دا
بنده وه. ۲ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”دا دروازه به بنده

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی. دا به کله هم نهٔ کولاویږی. هیڅوک به په دې نهٔ
ورننوځی. دا به بنده وی ځکه چې مالِک خُدائ، د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک، په دې دروازه دننه شوے دے. ٣
صرف شهزاده په دې کښې دننه کښېناستے شی چې د مالِک
خُدائ په حضور کښې خوراک وکړی. هغه دې د برنډې د
لارې نه دننه راشی او په هم هغه لار دې بهر لاړ شی.“

## د مالِک خُدائ د کور د اِنتظام اصُول

٤ بیا زهٔ هغه سړی د خُدائ د کور مخامخ د شمالی
دروازې په لار راوستلم. ما وکتل او د مالِک خُدائ جلال مې
ولیدلو چې د مالِک خُدائ کور ډکوی، او زهٔ پړمخې پرېوتلم.
٥ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې، ”اے بنی آدمه، په غور
سره وګوره، او په غور سره واؤره، او هر هغه څهٔ ته خیال
وکړه چې درته زهٔ د مالِک خُدائ د کور د ټولو احکامو په
حقله فرمایم. د مالِک خُدائ مقدس کور ته د تلو راتلو طریقو
ته خیال وکړه. ٦ د بنی اِسرائیلو سرکشه قوم ته ووایه،
مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، اے د بنی اِسرائیل
قومه، ستاسو دا دومره حرام کارونه بس دی. ٧ ستاسو د
ټولو حرامو کارونو سره، تاسو په ظاهر او باطن ناسنته غېر
مُلکیان زما مقدس ځائ ته راوستل، تاسو زما د کور
بې‌حرمتی وکړه کله چې تاسو ما ته خوراک، وازګه او وینه
پېش کړه، او تاسو زما لوظ مات کړو. ٨ د دې په ځائ
چې تاسو زما د مقدس څیزونو خِدمت په خپله وکړئ، تاسو
نورو خلقو ته زما د مقدس ځائ اختیار ورکړو. ٩ مالِک
قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، یو غېر مُلکی به هم چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ظاهر او باطن ناسنته وی هغه به زما مقدس ځائ کښې
داخل نهٔ شی، او نهٔ به هغه غېر مُلکيان چې د بنی اِسرائيلو په
مينځ کښې اوسيږی.“

## ليويان د اِمامت نه شړل

۱۰ ”هغه ليويان چا چې زما نه جدائی اختيار کړه کله چې د
بنی اِسرائيلو قوم بې‌لارې شو او هغوئ چا چې زما په ځائ د
خپلو بُتانو پيروی وکړه به د خپلې ګناه سزا وزغمی. ۱۱
هغوئ دې زما په مقدس کور کښې خِدمت وکړی، د خُدائ د
کور د دروازو ذمه واری دې واخلی او په دې کښې دې
خِدمت کوی، هغوئ دې سوزېدونکې نذرانې او قربانئ د
خلقو دپاره حلالې کړی او د خلقو په وړاندې دې ودرېږی او
د هغوئ خِدمت دې وکړی. ۱۲ خو څکه دوئ د بُتانو
عبادت د خلقو دپاره وکړو او د بنی اِسرائيلو قوم يې په ګناه
کښې اخته کړو، نو په دې وجه ما قسم وخوړلو چې هغوئ به
ضرور د خپلو ګناهونو سزا وزغمی، مالِک قادر مطلق خُدائ
دا فرمائی. ۱۳ هغوئ به نور د اِمامانو په توګه زما د خِدمت
دپاره نزدې نهٔ راځی او نهٔ به زما مقدسو څيزونو له نزدې
راځی او نهٔ به زما ډېرو مقدسو نذرانو ته نزدې کيږی، هغوئ
به ضرور د خپلو حرامو کارونو شرم وزغمی. ۱۴ خو بيا
هم به زهٔ هغوئ ته د خُدائ د کور خِدمت او د هغه ټول کار
ذمه واری ورکړم چې په دې کښې کول په کار دی.“

## اِمامان

۱۵ ”خو هغه اِمامان، څوک چې ليويان دی او د صدوق د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نسل نه دی او چا چې په وفادارئ سره زما د مقدس کور
خِدمت وکړو کله چې بنی اِسرائيل زما نه بې لارې شول،
هغوئ به نزدې راشی زما د وړاندې به خِدمت وکړی، هغوئ
به د وازګو او وينې قربانئ پېش کولو دپاره زما په وړاندې
ودرېږی، مالِک خُدائ دا فرمائی. ۱۶ صرف هغوئ به زما
مقدس مقام ته رادننه شی، يواځې هغوئ به زما مېز ته نزدې
راشی او زما په حضور کښې به خِدمت کوی او زما د
فرائضو ذمه واری به سمبالوی. ۱۷ کله چې هغوئ د دننه
دربار په دروازو ورننوځی، نو هغوئ دې د کتان جامې
واچوی، هغوئ دې د وړئ کپړې نۀ اچوی کله چې د دننه
دربار په دروازو يا د خُدائ په کور کښې خِدمت کوی. ۱۸
هغوئ دې په خپل سر باندې د کتان پټکے او د کتان لاندې
کپړې دې خپلو ملاګانو نه ګېرچاپېره وتړی. هغوئ دې داسې
څۀ نۀ اغوندی چې په هغوئ خوله راولی. ۱۹ کله چې هغوئ
بهرنی دربار ته وځی چرته چې خلق دی، هغوئ دې هغه
کپړې وباسی چې هغوئ په کښې خِدمت کولو او دا دې په
مقدسو کوټو کښې پرېږدی، او نورې جامې دې واچوی،
هسې نه چې هغوئ په خپلو کپړو سره خلق مقدس کړی، او
د هغوئ ژوند په خطره کښې واچوی. ۲۰ هغوئ به خپل
سرونه نۀ کلوی او نۀ به خپل وېښتۀ اوږدوی، خو هغوئ به د
خپل سر وېښتۀ واړۀ ساتی. ۲۱ يو اِمام دې هم مے ونۀ
څښی کله چې دننه دربار ته ننوځی. ۲۲ هغوئ دې کونډو او
طلاقو شوو ښځو سره وادۀ ونۀ کړی، هغوئ دې صرف د
بنی اِسرائيلو د نسل پېغلو سره يا د اِمامانو کونډو سره وادۀ
کوی. ۲۳ هغوئ دې زما خلقو ته د مقدس او عام څيزونو په
مينځ کښې د فرق تعليم ورکړی او ورته دې د حرامو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حلالو په مینځ کښې فرق وښائی. ۲۴ په هره لانجه کښې دې
اِمامان د قاضی فرائض ادا کړی او دا دې زما د حکمونو په
مطابق فېصله کړی. هغوئ دې زما د ټولو مقرر شوو
اخترونو دپاره زما په قانون او اصُول باندې عمل وکړی، او
هغوئ دې زما د سبت ورځ مقدسه وساتی. ۲۵ اِمام دې
خپل ځان مړی ته په نزدې ورتلو باندې پلیت نۀ کړی، خو کۀ
مړ کس يې پلار يا مور، زوئ يا لور، ورور يا ناوادۀ شوې
خور وی، نو په دوئ هغه ځان پلیتولے شی. ۲۶ د پاکېدو نه
وروستو، هغه به اووۀ ورځې انتظار کوی. ۲۷ په کومه ورځ
چې هغه د مقدس کور دننه دربار ته ځی چې هلته په مقدس
ځائ کښې خِدمت وکړی، هغه دې د خپل ځان دپاره د ګناه
نذرانه پېش کړی، مالِک خُدائ دا فرمائی. ۲۸ صرف زۀ به
د اِمامانو میراث يم. تاسو هغوئ ته په بنی اِسرائیلو کښې
ملکيت مۀ ورکوئ، زۀ به د هغوئ ملکيت يم. ۲۹ هغوئ به د
غلو نذرانې، د ګناه نذرانې او د ګناه د تاوان نذرانې خوری، او
هر څۀ چې په بنی اِسرائیلو کښې مالِک خُدائ ته وقف شوی
وی هغه به د هغوئ وی. ۳۰ د ټولو نه اوله ښۀ مېوه او
ستاسو ټولې ښې نذرانې به د اِمامانو وی. تاسو به هغوئ ته د
زمکې په غله دانه کښې اوله حِصه ورکړئ نو برکت به
ستاسو په خاندان نازل شی. ۳۱ اِمامان به هيڅ قسمه څۀ نۀ
خوری، مارغۀ يا ځناور چې په خپله مړ وی يا ځناور مړ
کړے وی."

## د زمکې تقسیمول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٤٥ ١ "تاسو چې کله زمکه د میراث په توګه تقسیموئ،
تاسو به د زمکې یوه حِصه مالِک خُدائ ته د مقدسې علاقې
په توګه وقف کړئ چې د دې اوږدوالے دولس نیم کیلومیټره
او پلنوالے یې لس کیلومیټره وی، دا ټوله علاقه په کار دے
چې مقدسه وی. ٢ په دې کښې به یوه حِصه چې اتۀ سوه
پينځۀ اویا مربع فټه ده دا به د مقدس ځائ دپاره وی، چې د
دې ګېرچاپېره اووۀ اتیا نیم فټه به د کولاو مېدان دپاره وی.
٣ په مقدسه علاقه کښې، د یوې برخې اوږدوالے دولس نیم
کلومیټره او پلنوالے پينځۀ کلومیټره به وی، په دې کښې به د
ټولو نه زیات مقدس ځائ مقدس کور وی. ٤ دا به د
اِمامانو دپاره د زمکې مقدسه حِصه وی، څوک چې په مقدس
کور کښې او د مالِک خُدائ په حضور کښې خِدمت کوی. دا
به د هغوئ د کورونو دپاره ځائ وی او هم به د خُدائ د کور
دپاره مقدس ځائ وی. ٥ دولس نیم کیلومیټره اوږده او
پينځۀ کیلومیټره پلنه علاقه به د هغه لیویانو وی، څوک چې د
مالِک خُدائ په کور کښې خِدمت کوی، دا به د هغوئ د
ښارونو دپاره جائیداد وی چې په کښې اوسیږی. ٦ تاسو
به ښار ته د جائیداد په توګه درې کیلومیټر پلنه او دولس نیم
کیلومیټره اوږده علاقه ورکړئ، د مقدسې حصې سره خوا په
خوا، دا به د ټولو بنی اِسرائیلو وی."

## د شهزاده دپاره زمکه

٧ "شهزاده به د مقدسې علاقې او د ښار د جائیداد سره
دواړو خواګانو ته برخه واخلی. دا به مغرب نه مغرب او
مشرق نه مشرق طرف ته غزېدلې وی. په اوږدو به دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مغرب نه تر مشرق پورې سرحدى قبائيلى علاقو سره برابره
پرته وى. ۸ په بنى اِسرائيلو کښې به دا زمکه د هغۀ ملکيت
وى. او زما شهزادګان به نور زما په خلقو ظلم نۀ کوى، خو
د بنى اِسرائيلو قوم ته به اجازت ورکړى چې د خپلو قبيلو
پاتې شوې زمکه قبضه کړى.“

## د شهزاده دپاره احکامات

۹ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى، تاسو کافى لرې
لاړئ، اے د بنى اِسرائيلو شهزادګانو. خپل شرارت او ظلم
پرېږدئ او هغه څۀ وکړئ څۀ چې د اِنصاف او د صداقت
وى. زما د خلقو نه د زمکو قبضه کول بند کړئ، مالِک قادر
مطلق خُدائ فرمائى. ۱۰ تاسو له په کار دى چې صحيح
تله، صحيح پېمانه او صحيح پاويزه استعمال کړئ. ۱۱
حومر دې ستاسو دپاره د ناپ تول معيارى پېمانه وى. ايفه
او بَت دواړه د حومر لسمه حِصه ده. ۱۲ د تول دپاره
معيارى پېمانه به د سپينو زرو سيکه وى او يوه سيکه به شل
جيرې وى. او شپېتۀ سيکې به د يوې منا په اندازه وى.“

## نذرانې او مقدسې ورځې

۱۳ ”دا هغه خاص تحفه ده چې تاسو به يې پېش کړئ يعنې،
د ايفه شپږمه حِصه د غنمو د هر يو حومر نه او د ايفه شپږمه
حِصه د اوربشو د هر يو حومر نه پېش کړئ. ۱۴ د تېلو
مقرر شوې حِصه، چې په بَت ناپ شوى وى، دا به د هر کُر
نه د يو بَت لسمه حِصه وى، په دې کښې لس بَته يا يو حومر
وى او لس بَته د يو حومر برابر وى. ۱۵ هم داسې به د بنى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلو د څرن د ځائ نه، د دوو سوو ګډو د رمې نه يو ګډ
واخستلے شی. دا به د غلې د نذرانې، سوزېدونکې نذرانې او
د سلامتۍ د نذرانې دپاره استعمال کړئ او د خلقو دپاره يې
کفاره کړئ، مالِک قادر مطلق خُدائ دا فرمائی. ۱۶ د مُلک
ټول خلق به په دې خاصو هديو کښې حِصه د اِسرائيل د
شهزاده د استعمال دپاره ورکړی. ۱۷ دا به د شهزاده ذمه
واری وی چې سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې او د څښلو
نذرانې په اخترونو، نوې مياشت او په سبت کښې او د بنی
اِسرائيل قوم په ټولو مقرر شوو مېلو کښې پوره کړی. هغه به
د ګناه نذرانې، د غلې نذرانې، سوزېدونکې نذرانې، او د
سلامتۍ نذرانې پوره کړی، او د بنی اِسرائيلو قوم دپاره به يې
کفاره کړی.“

## اخترونه

۱۸ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، د وړومبۍ
مياشتې په اوله ورځ تاسو به يو ځوان غوَیے چې بېعيبه وی
واخلئ او مقدس ځائ به پاک کړئ. ۱۹ اِمام به لږه وينه د
ګناه د نذرانې نه راواخلی او دا به د خُدائ د کور د دروازې
په درشل واچوی، د قربانګاه د برنۍ حصې په څلور واړو
ګوټونو، او د خُدائ د کور د دننه دربار په چوکاټونو به يې
واچوی. ۲۰ تاسو به هم داسې د مياشتې په اوومه ورځ د
هغه چا دپاره وکړئ د چا نه چې غير ارادې يا په ناپوهۍ
کښې ګناه وشی، نو تاسو به د خُدائ د کور دپاره کفاره پېش
کړئ. ۲۱ تاسو د وړومبۍ مياشتې په څوارلسمه ورځ د فسح
اختر شروع کړئ، دا اختر به د اوو ورځو دپاره وی، په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوران کښې به تاسو بغير د خمبيرې روټئ خورئ. ۲۲ په
هغه ورځ به شهزاده يو غوَيے د خپلې ګناه او د خلقو د ګناه
د کفارې دپاره پېش کړى. ۲۳ مالِک خُدائ ته به هغه هره
ورځ د اختر د دې اوو ورځو په دوران کښې اووهٔ غوَيان او
اووهٔ ګډان چې ټول بې‌عيبه دى د سوزېدونکې نذرانې دپاره
پېش کوى او نر چېلے به د ګناه د نذرانې دپاره پېش کوى.
۲۴ هغه به هر غوَيى او ګډ سره يوه ايفه د غلې نذرانه پېش
کوى، هر ايفه سره به څلور ليټره تېل هم پېش کوى. ۲۵ د
اختر د دې اوو ورځو په دوران کښې، کوم چې د اوومې
مياشتې په پينځلسمه ورځ شروع کيږى، هغه به هم داسې
نذرانې د ګناه د نذرانې، د سوزېدونکې نذرانې، د غلې او د تېلو
نذرانې پېش کړى.“

# ۴۶

۱ ”مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائى چې، د
دننه دربار دروازه کومه چې د نمرخاتهٔ په طرف ده هغه دې د
کار شپږ واړو ورځو دپاره بنده وى، خو د سبت په ورځ او د
نوې مياشتې په ورځ به دا کولاو وى. ۲ شهزاده دې دربار
ته د بهر د طرف د برنډې د لار نه ورننوځى او د دروازې
چوکاټ سره دې ودريږى. اِمامان دې خپلې سوزېدونکې
قربانئ وکړى او د سلامتيا نذرانې دې پېش کړى. هغه دې د
دروازې په درشل کښې عبادت وکړى او بيا دې هغه بهر لاړ
شى. خو دروازه به تر ماښام پورې کولاو وى. ۳ د هر
سبت په ورځ او د هرې نوې مياشتې په ورځ دې د دې مُلک
خلق د دروازې په درشل کښې د مالِک خُدائ په حضور
کښې عبادت وکړى. ۴ سوزېدونکې نذرانه چې شهزاده يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ ته د سبت په ورځ پېش کوی دا به شپږ نران
ګډورى او يو ګډ وى، ټول به بې‌عيبه وى. ٥ د غلې نذرانه
چې د ګډ سره ورکوى هغه به يوه ايفه وى او د ګډورو سره
به په خپله خوښه د غلې نذرانه ورکړى، هر يو ايفه سره به
څلور ليټره تېل پېش کړى. ٦ د نوې مياشتې په ورځ به هغه
يو غوَيے، شپږ ګډورى او يو ګډ پېش کړى چې ټول بې‌عيبه
وى. ٧ هغه به يوه ايفه د غلې نذرانه د غوَيى سره پېش
کړى، او يوه ايفه به ګډ سره، او د ګډورو سره چې څومره
غواړى هغه هومره دې ورکړى، او هرې يوې ايفې سره دې
څلور ليټره تېل پېش کړى. ٨ کله چې شهزاده ننوځى، هغه
به د برنډې د لارې نه دننه لاړ شى، او په هم هغه لار به هغه
بهر راشى. ٩ کله چې د مُلک خلق د مالِک خُدائ وړاندې
په مقررو اخترونو کښې راشى، هغه څوک چې په شمالى
دروازه د عبادت دپاره راشى نو هغه به په جنوبى دروازه بهر
لاړ شى، او هغه څوک چې په جنوبى دروازه راننوځى هغه به
په شمالى دروازه باندې بهر لاړ شى. يو کس به هم په هغه
دروازه واپس نۀ ځى په کومه چې راغلى دى، خو هر يو به په
مخالف دروازه بهر وځى. ١٠ شهزاده به هم هغوئ سره يو
ځائ دننه ځى کله چې هغوئ دننه ځى، او بهر به راوځى کله
چې هغوئ بهر راوځى. ١١ په اخترونو او مقرر شوو مېلو
کښې، د غلې نذرانه به يو غوَيى سره يوه ايفه وى، يوه ايفه به
د ګډ سره وى، او د ګډورو سره چې څومره غواړى هغه
هومره دې ورکړى، او هرې يوې ايفې سره څلور ليټره تېل
ورکړئ. ١٢ کله چې شهزاده د خپلې خوښې نذرانه مالِک
خُدائ ته پېش کوى، کۀ هغه سوزېدونکې نذرانه وى او يا د
سلامتۍ نذرانه وى، هغه دروازه چې مخ يې نمرخاتۀ طرف ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے هغه به د هغۀ دپاره کولاو کړے شی. هغه به خپله سوزېدونکې نذرانه او یا د سلامتئ نذرانه داسې پېش کړی څنګه چې هغه د سبت په ورځ کوی. بیا به هغه بهر لاړ شی، او د هغۀ د بهر تلو نه وروستو، به دروازه بنده کړے شی."

## د هرې ورځې نذرانه

۱۳ "تاسو به هره ورځ د یو کال بېعیبه ګډورے مالِک
خُدائ ته د سوزېدونکې نذرانې دپاره پېش کوئ، تاسو به
ضرور یو سحر بل سحر دا پوره کوئ. ۱۴ تاسو به روزانه
یو سحر بل سحر د غلې نذرانه پوره کوئ، چې د یوې ایفې
شپږمه به وی او پاو باندې یو لیټر تېلو سره به اوړۀ واغږئ.
مالِک خُدائ ته د دې غلې د نذرانې پېش کولو حکم د تل
دپاره دے. ۱۵ نو د ګډُوری، د غلې او د تېلو نذرانې به هر
سحر په مسلسل توګه د سوزېدونکې نذرانې دپاره پېش
کیږی."

## شهزاده او د هغۀ زمکه

۱۶ "مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی، کۀ چرې
شهزاده د خپل وراثت نه یوه تحفه خپلو زامنو کښې یو زوئ
له ورکړی، دا به د هغۀ د نسل وی، او دا به په میراث کښې د
هغوئ جائیداد وی. ۱۷ خو کۀ چرې هغه د خپل وراثت نه
یوه تحفه خپل یو نوکر له ورکړی، نو نوکر سره به دا تر د
آزادئ د کال پورې وی، خو بیا به دا واپس د شهزاده شی. د
هغۀ میراث صرف د هغۀ د زامنو دے. ۱۸ شهزاده به د
خلقو نه میراث نۀ اخلی، هغوئ به د خپل جائیداد نه نۀ شړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به خپلو زامنو ته د خپل میراث نه جائیداد ورکوی، تر
دې چې زما په خلقو کښې یو هم د خپل جائیداد نه محرومه
نۀ شی.“

## د مالِک خُدائ د کور باورچی خانې

١٩ بیا هغه سړی زۀ د دروازې په خوا کښې مقدسو کوټو ته
بوتلم چې مخې یې د شمال ته طرف وې، کومې چې د اِمامانو
وې، او ما ته یې د نمر پرېوتو طرف ته ځائ وښودلو. ٢٠
هغۀ ما ته ووئیل چې، ”دا هغه ځائ دے چرته به چې اِمامان
د ګناه د تاوان نذرانې او د ګناه نذرانې او د غلې نذرانې
پخوی، ترڅو بهرنی دربار ته د مقدسو څیزونو د راوړلو نه
منع شی هسې نه چې خلق مقدسو څیزونو له لاس وروړی او
خپل ژوند په خطره کښې واچوی.“ ٢١ بیا هغۀ زۀ بهرنی
دربار ته راوستلم او په دې کښې یې ګوټ په ګوټ وګرځولم
او ما په هر ګوټ کښې بل دربار ولیدو. ٢٢ د بهرنی دربار په
څلور واړو ګوټونو کښې یو بل سره انښتی دربارونه وُو، چې
اویا فټه اوږد او دوه پنځوس نیم فټه پلن وُو او په څلور واړو
ګوټونو کښې هر یو دربار یو شان برابر وو. ٢٣ دننه د څلور
واړو دربارونو ګېرچاپېره د کانړی یوه چجه وه، د چجې لاندې
ګېرچاپېره د اور بلېدلو نغری جوړ وُو. ٢٤ هغۀ ما ته ووئیل
چې، ”دا هغه باورچې خانې دی چرته به چې هغه څوک چې د
خُدائ په کور کښې خِدمت کوی د خلقو قربانۍ پخوی.“

## د مالِک خُدائ د کور نه دریاب بهېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۷ ١ هغه سړی زۀ بیا د مالِک خُدائ د کور دروازې ته
راوستلم، او ما ولیدل چې د خُدائ د کور د درشل د لاندې نه
اوبۀ د نمرخاتۀ طرف ته رارواني وې ځکه چې د مالِک خُدائ
د کور مخه نمرخاتۀ طرف ته وه. اوبۀ د مالِک خُدائ د کور
د جنوب خوا نه ښکته د قربانګاه جنوب خوا ته رارواني
وې. ٢ نو بیا هغۀ زۀ په شمالي دروازه باندې بهر
راوویستلم او زۀ یې بهر راتاو کړم بهرنۍ دروازې ته یې بوتلم
چې مخه یې مشرق ته وه، او اوبۀ د جنوب طرف نه
رابهیدلې. ٣ کله چې هغه سړے فیته په لاس نمرخاتۀ طرف
ته لاړو، نو هغۀ نیم کیلومیټر ناپ وکړو او بیا یې زۀ په اوبو
کښې بوتلم چې د ګیټو پورې وې. ۴ هغۀ نور نیم کیلومیټر
ناپ وکړو او زۀ یې په اوبو کښې بوتلم چې تر ګوډو پورې
ډوبې وې. هغۀ بیا نور نیم کیلومیټر ناپ وکړو او زۀ یې په
اوبو کښې بوتلم چې دا تر ملا پورې وې. ۵ هغۀ نور نیم
کیلومیټر ناپ وکړو، خو اوس دا سیند شو چې زۀ په کښې نۀ
شوم اوړیدلے، ځکه چې اوبۀ اوچتې وې او لامبلو ته کافي
ډوبې وې، داسې سیند ترې جوړ شو چې هیڅوک په کښې نۀ
شُو اوړیدلے. ۶ بیا هغۀ ما نه تپوس وکړو چې، ”اے بنی
آدمه، تۀ دا وینې؟“ نو بیا هغۀ زۀ واپس د دریاب غاړې ته
بوتلم. ٧ کله چې زۀ هلته ورسېدم، نو ما د سیند په دواړو
طرفونو ډیرې ونې ولیدلې. ٨ هغۀ ما ته ووئیل چې، ”دا
اوبۀ نمرخاتۀ مُلک طرف ته بهیږی او د اُردن وادۍ ته ځی،
چرته چې دا مړ دریاب ته ورپرېوځی. کله چې دا مړ دریاب
ته ورښکته شی، نو په هغې کښې مالګینې اوبۀ تازه شی. ٩
د ژوندو ځناورو سیلونه به هلته اوسی چرته چې سیند بهیږی.
هلته به ډیر زیات کبان وی، ځکه چې دا اوبۀ هلته بهیږی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالګې اوبهٔ تازه کوی، نو چې چرته دا سیند بهیږی هر څهٔ به
هلته ژوندی پاتې شی. ۱۰ ماهیګران به د سیند په غاړه ولاړ
وی، د عین‌جدی نه تر عین‌عجلیم پورې به د کبانو د جالونو
خورولو دپاره ځایونه وی. لکه د غټ سمندر د کبانو په شان
به په کښې ډېر قسمونه کبان وی. ۱۱ خو دلدلې او ډنډونه به
تازه نهٔ شی، دا به د مالګې دپاره پاتې شی. ۱۲ د هر قسم
مېوې ونې به د سیند په دواړو غاړو غټې شی. د دې پاڼې به نهٔ
وچیږی، او نهٔ به د دې مېوې وچیږی. هره میاشت به دا مېوه
نیسی، ځکه چې د مالِک خُدائ د مقدس کور نه دې ته اوبهٔ
بهیږی. د دې مېوه به د خوراک دپاره او پاڼې به یې د شفا
دپاره استعمالیږی.“

## د مُلک سرحدونه

۱۳ مالِک قادر مطلق خُدائ داسې فرمائی چې، ”دا هغه
سرحدونه دی په کومو به چې تهٔ زمکه د بنی اِسرائیلو د
دولسو قبیلو په مینځ کښې میراث دپاره تقسیم کړې. د یوسف
د اولاد دپاره به دوه حصې وی. ۱۴ تهٔ دا د هغوئ په مینځ
کښې برابر تقسیم کړه، ځکه چې ما قسم خوړلے وو چې دا
به ستاسو پلار نیکهٔ له ورکړم، دا زمکه به ستاسو میراث
شی. ۱۵ دا به د دې زمکې سرحد وی، شمال طرف ته به دا
د لوئ سمندر نه د حتلون په لار لیبوحمات نه صداد ته تېر
شی، ۱۶ بیا به دا د بیروته او سبریم کوم چې د دمشق او
حمات د سرحد په مینځ کښې پروت دے، او داسې تر
حزرهاتیکان پورې، کوم چې د حوران سرحد سره دے. ۱۷
دا سرحد به د سمندر نه تر حصر عینان پورې، د دمشق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمالی سرحد سره، او د حمات سرحد سره شمال طرف ته
تلے وی. دا به شمالی سرحد وی. ۱۸ د نمرخاتۀ طرف
سرحد به د حوران او دمشق په مينځ کښې، اُردن سره د
جِلعاد او د اِسرائيل د خاورې په مينځ کښې، مشرقی سمندر
او داسې تر تمر پورې تلے وی. دا به مشرقی سرحد وی. ۱۹
په جنوبی طرف کښې دا به د تامار نه د مريبه قادِس د اوبو
پورې وی، بيا به د مِصر د وادئ نه د لوئ سمندر پورې وی.
دا به جنوبی سرحد وی. ۲۰ د مغرب طرف ته به د لوئ
سمندر سرحد ليبوحمات ته مخامخ وی. دا به مغربی سرحد
وی. ۲۱ تاسو به دا زمکه په خپل مينځ کښې د بنی اِسرائيلو
د قبيلو په مطابق تقسيم کړئ. ۲۲ دا به تاسو د خپل ځان
دپاره او هغه غېر مُلکيانو دپاره چې ستاسو په مينځ کښې
اوسيږی او د چا چې ماشومان دی د ميراث په توګه تقسيم
کړئ. تاسو به هغوئ د پېدائشی بنی اِسرائيلو په شان ګڼئ،
تاسو سره به هغوئ ته هم ميراث د بنی اِسرائيلو د قبيلو په
شان ورکړے شی. ۲۳ په هر يو قوم کښې چې غېر مُلکی
خلق اوسيږی، هلته به تاسو هغوئ له خپل ميراث ورکړئ، دا
مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

## د زمکې تقسيمول

۴۸ ۱ ”دا هغه قبيلې دی چې نومونه يې دلته ليکلے
شوی دی، د شمالی سرحد سره به د دان يوه حِصه وی، دا
به د حتلون په لار ليبوحمات پورې وی، حصر عينان او د
دمشق شمالی سرحد به حمات پسې وی دا به د مشرق طرف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه د مغرب طرف ته د دې د سرحد حِصه وى. ٢ د آشر به
يوه حِصه وى، د دې سرحد به د دان حدودو سره د مشرق
نه مغرب پورې وى. ٣ يوه حِصه به د نفتالى وى، دا به د
آشر د علاقې د مشرق نه مغرب پورې وى. ٤ يوه حِصه به
د منسى د قبيلې وى، دا به د نفتالى د علاقې د مشرق نه
مغرب پورې وى. ٥ يوه حِصه به د اِفرائيم وى، دا به د
منسى د علاقې د مشرق نه مغرب پورې وى. ٦ يوه حِصه
به د روبين وى، دا به د اِفرائيم د علاقې د مشرق نه مغرب
پورې وى. ٧ يوه حِصه به د يهوداه وى، دا به د روبين د
علاقې د مشرق نه مغرب پورې وى. ٨ د يهوداه د سرحد
سره چې کومه علاقه د مشرق نه تر مغرب پورې ده دا به هغه
حِصه وى چې تهٔ يې د خاص تحفې په طور پېش کړې. دا به
دولس نيم کيلوميټره پلنه وى، او د دې اوږدوالے د مشرق نه
مغرب پورې به د يوې قبائيلى حصې برابر وى، د مالِک
خُدائ کور به د دې په مينځ کښې وى. ٩ هغه خاص
حِصه چې تهٔ يې مالِک خُدائ ته وقف کوې دا به دولس نيم
کيلوميټره اوږده او لس کيلوميټره پلنه وى. ١٠ دا به د
اِمامانو دپاره مقدسه حِصه وى. دا به په شمالى طرف دولس
نيم کيلوميټره اوږده وى، او په مغربى طرف به پينځهٔ
کيلوميټره پلنه وى، مشرق طرف ته به پينځهٔ کيلوميټره پلنه او
جنوبى طرف ته به دولس نيم کيلوميټره اوږده وى. د دې په
مينځ کښې به د مالِک خُدائ مقدس کور وى. ١١ دا به د
مقدسو اِمامانو، د صدوقيانو دپاره وى، څوک چې زما په
خِدمت کولو کښې وفادار وُو او بې لارې نهٔ شول څنګه چې
ليويان شول کله چې بنى اِسرائيل بې لارې شول. ١٢ دا به
هغوئ ته د زمکې د مقدسې حصې نه خاص تحفه، او د ټولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه مقدسه حِصه وى، د ليويانو د علاقې سرحد سره به وى.
۱۳ د اِمامانو علاقې سره نزدې، ليويانو ته به هم دولس نيم
کيلوميټره اوږده او پينځهٔ کيلوميټره پلنه زمکه ورکړے شى.
د دې مکمل اوږدوالے به دولس نيم کيلوميټره او پلنوالے به
يې پينځهٔ کيلوميټره وى. ۱۴ هغوئ به نهٔ دا خرڅوى او نهٔ به
يې بدلوى. دا ښهٔ زمکه ده او نهٔ دى په کار چې نورو لاسونو
ته لاړه شى، ځکه چې دا مالِک خُدائ ته مقدسه ده. ۱۵ پاتې
دولس نيم کيلوميټره پلنه او دوه نيم کيلوميټره اوږده زمکه به
د ښار د عام استعمال دپاره، د کورونو او د څرن ځائ دپاره
وى. ښار به د دې په مينځ کښې وى، ۱۶ او د دې ناپونه به
دا وى، شمال طرف به پاو باندې دوه کيلوميټره وى، جنوب
طرف به پاو باندې دوه کيلوميټره وى، مشرق طرف به پاو
باندې دوه کيلوميټره وى، او د مغرب طرف به هم پاو باندې
دوه کيلوميټره وى. ۱۷ د ښار دپاره د څرن ځائ به شمال
ته يو نيم سل ګزه مربع وى، جنوب ته به يو نيم سل ګزه
مربع وى، مشرق ته به يو نيم سل ګزه مربع وى، او مغرب ته
به هم يو نيم سل ګزه مربع وى. ۱۸ کومه پاتې علاقه چې د
مقدسې حصې سره لګيدلې ده او دې سره په اوږدو تلې ده،
دا به د مشرق طرف ته پينځهٔ کيلوميټره او د مغرب طرف ته
به هم پينځهٔ کيلوميټره وى. د ښار کارکوونکو دپاره به د دې
پېداوار خوراک ورکوى. ۱۹ د ښار کار کوونکى څوک چې
دا کَرى هغوئ به د بنى اِسرائيلو د ټولو قبيلو نه وى. ۲۰ دا
ټوله حِصه به هر طرف ته دولس نيم کيلوميټره مربع وى. د
خاص تحفې په طور به تاسو مقدسه حِصه، سره د ښار د
جائيداد يو طرف ته کړئ. ۲۱ څهٔ چې پاتې وُو د هغه علاقې
په دواړو طرفونو کښې د مقدسې برخې سره او د ښار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جائیداد دا به د شهزاده ملکیت وی. دا به د مشرق طرف ته
دولس نیم کیلومیټره د مقدسې حصې نه تر مشرقی سرحد
وی، او د مغرب طرف نه به دولس نیم کیلومیټره تر مغربی
سرحده وی. دا دواړه علاقې چې د قبائیلی حِصو اوږدوالی
پورې غزېدلې دی دا به د شهزاده ملکیت وی، او مقدسه
حِصه به سره د خُدائ د کور د مقدس ځائ د دې په مینځ
کښې وی. ۲۲ نو د لیویانو جائیداد او د ښار جائیداد به د
دې علاقې په مینځ کښې پروت وی چې د شهزاده ملکیت
دے. کومه علاقه چې د شهزاده ملکیت دے هغه به د یهوداه
او د بنیامین د سرحد په مینځ کښې پرته وی.“

## د نورو قبیلو زمکه

۲۳ ”نو دغه شان به د نورو قبیلو وی، د بنیامین به یوه
حِصه وی، دا به د مشرق طرف نه تر مغرب طرف پورې
وی. ۲۴ د شمعون به یوه حِصه وی، دا به د مشرق نه تر
مغرب پورې د بنیامین د علاقې سرحد وی. ۲۵ د یساکار به
یوه حِصه وی، دا به د مشرق نه تر مغرب پورې د شمعون د
علاقې سرحد وی. ۲۶ د زبولون به یوه حِصه وی، دا به د
مشرق نه تر مغرب پورې د یساکار د علاقې سرحد وی. ۲۷
د جاد به یوه حِصه وی، دا به د مشرق نه تر مغرب پورې د
زبولون د علاقې سرحد وی. ۲۸ د جاد د زمکې جنوبی پوله
به د تامار د جنوب نه د مریبه قادِس د اوبو پورې وی، بیا به
د مِصر د وادئ سره لوئ سمندر پورې تلې وی. ۲۹ دا هغه
زمکه ده چې تاسو به یې د میراث په طور د بنی اِسرائیلو د
قبیلو په مینځ کښې تقسیم کړئ، او دا به د هغوئ حِصه وی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک قادر مطلق خُدائ فرمائی.“

## د ښار دروازې

۳۰ ”دا به د ښار نه د وتو دروازې وی. د شمال طرف دېوال
کوم چې پاو باندې دوه کيلوميټر اوږد دے، ۳۱ په دې کښې
به درې دروازې چې د بنی اِسرائيلو د قبيلو په نومونو يادېږی.
د روبين دروازه، د يهوداه د دروازه، او د ليويانو دروازه. ۳۲
مشرق طرف ته چې کوم پاو باندې دوه کيلوميټره اوږد دېوال
دے په هغې کښې به درې دروازې وی، د يوسف دروازه، د
بنيامين دروازه او د دان دروازه. ۳۳ د جنوب طرف ته، چې
کوم پاو باندې دوه کيلوميټره دېوال دے، په کښې به درې
دروازې وی چې به د شمعون دروازه، د يساکار دروازه او د
زبولون دروازه يادېږی. ۳۴ مغرب طرف ته چې کوم پاو
باندې دوه کيلوميټره اوږد دېوال دے په کښې به درې
دروازې وی، د جاد دروازه، د آشر دروازه او د نفتالی
دروازه. ۳۵ ټوله فاصله ګېرچاپېره به نهٔ کيلوميټره وی. او
د هغې ورځې نه وروستو به د دې ښار نوم دا وی، مالِک
خُدائ هلته موجود دے.“

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.